بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** دولتي محاسبه

**څانګه:** محاسبه

**مولف:** عبدالجبار قیومی

**ژباړن:** نورالله عماد

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزاېي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- خادم احمد حقیقی
- عبدالجمیل ممتاز

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** محمد سلیم خان

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**کڼ ISBN:** ۹۷۸۹۹۳۶۳۰۰۵۸۳


Ketabton.com

د چاپ حق  د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

ketabton.com - The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی　　دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی　　د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو　　د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي　　پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي　　هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي　　لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به　　لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر　　وایو الله اکبر وایو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

# د پوهنې وزير پيغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسيدو لارې چارې طی کوي او د يوه نيکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د يوه سوکاله ژوند د اسبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپيريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هيڅ حالت کې نه نفی کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسووليت او مکلفيت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپيڅلي هدف ته د رسيدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپيڅلو احکامو څخه الهام اخيستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته يکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يوازي پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربيون بايد په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نيکمرغه افغانستان ارمان، يوازې او يوازې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کيدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کيدای شي په ډيرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، سموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهير کې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومي مننه کوم. له درنو او پياوړو استادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نيکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله

**فاروق وردګ**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير**

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک



| پاڼې | سرلیکونه | څپرکی |
|---|---|---|
| ۱-۱٤ | د دولتي محاسبې مهم اصطلاحات او موضوعات | لومړی |
| ۱۵-۳۰ | د وزارتونو لپاره مالي معیاري سیستم | دویم |
| ۳۱-٥٤ | د دولتي محاسبې بنسټونه | درېیم |
| ٥٥-۹۰ | په دولتي تصدیو کې سنجش او محاسبه | څلورم |
| ۹۱-۱۲۱ | د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني(اعتمادي) وجهي صندوق اجرایي کړنلارې | پنځم |
| ۱۲۲ | سرچینې او اخېستنې | |
| ۱۲۳ | د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام | |

ketabton.com - The Digital Library

**مقدمه**

د افغانستان اسلامي جمهوريت مصمم دی، څو خپل اقتصاد ته په هره ممکنه وسيله، چې وي پراختيا ورکړي او خپلې دې موخې ته د رسيدو لپاره بايد په بيلابيلو برخو کې د پام وړ زحمتونه وګالي او هغه تخنيکونه چې تر اوسه په دغه هيواد کې نا اشنا دي، رايج کړي.

خو دا اړين نه دي، چې ياد تخنيکونه يوازې د انجنيرۍ په څانګې پورې اړوند وي، بلکې د ملي اقتصاد او دولتي محاسبې په ډګر کې هم کولی شو د يوه تخنيک په توګه يې وپيژنو، د دې تخنيک زده کړه د محصلينو لپاره يو اړين، فوق العاده امر ګڼل کيږي، ترڅو افغانستان وکولی شي، په ټوليزه توګه په اقتصادي ډګر کې خپل چمتووالی بشپړ او د اقتصادي پراختيا په برخه کې مثبتې اغيزې رامنځ ته کړي. او د اقتصادي علومو محصلان د دولتي محاسبې په ساحه کې بايد بشپړ کفايت او اهليت ولري او په ټوله معنا په دې ساحه کې حاکميت پيدا کړي، په دې منظور د دولتي محاسبې کتاب په پنځو څپرکو کې ترتيب او تدوين شوی دی.

دولتي محاسبه، د دولتي موسسو د حسابونو ثبت او ساتنې څرنګوالی تر بحث لاندې نيسي، چې د دولتي ځانګړو قوانينو، مقررو او طرزالعملونو په رڼا کې ترسره کيږي. د دولت د لګښتونو او عوايدو سنجش، چې له ډيرو پخوانيو وختونو څخه شتون لري، همماله د دولتونو او حکومتونو د فعاليت په پراختيا سره دغې څانګې هم پراختيا او تکامل موندلی ده. د نننی پيچلي سيستم پر بنسټ د دولت د لګښتونو او عوايدو د حساب سنجش، چې لاندې سنجشونه په بر کې نيسي:

د دولتي ادارو او موسسو عوايد او لګښتونه د علمي پلانونو په قالب کې، د حسابونو د صورت معلومات او اړين راپورونه، د دولتي مديرانو د تصميم نيونې په منظور، د مالي چارو کتنه او کنترول او د دولت له اداري فساد څخه د مخنيوي لپاره، په پام کې نيول شوی دی.

په درناوی

عبدالجبار قيومي

ketabton.com - The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د دولتي حسابونو ثبت او ساتنه، چې د دولت د خاصو قوانینو، مقررو او طرزالعملونو په رڼا کې ترسره کیږي او په ملي کچه د هیواد د عوایدو او لګښتونو سنجش تشکیلوي.

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د دولتي محاسبې مهم اصطلاحات او موضوعات

**ښوليزه موخه:**
د دولتی محاسبې د مهمو اصطلاحاتو او تاريخچې په اړه د معلوماتو تر لاسه کول.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې محصلين کولی شي لاندیني موضوعات تعريف او په کار واچوي:

- د دولتي محاسبې مهم اصطلاحات.
- د دولتي محاسبې تاريخچه.
- د دولتي محاسبې تعريفونه.
- د دولتي محاسبې ارزښت او پراختيا.
- په دولتي محاسبه کې مهم قواعد.
- د دولتي محاسبې موخې.
- د دولتي محاسبې دندې.
- د محاسبې د قانون بنسټونه.
- د محاسبې د قواعدو د نه تطبيق پايلې.
- په دولتي ادارو کې د معاشونو د اجرا کړنلارې.
- په دولتي ادارو کې د جنسي محاسبې کړنلارې.

**په افغانستان کې د دولتي محاسبې تاريخچه:**

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې له يوې پيړۍ را په دې خوا د محاسبې سيستم تر تطبيق او اجرا لاندې نيول شوی، چې دلته ترې په لنډه توګه يادونه کوو.

ketabton.com - The Digital Library

**د سیاق او رقومو اصول:** دغه مالي سیستم په ۱۲۶۰ کال د امیرشیرعلي خان د سلطنت په زمانه کې رواج موندلی او تر ۱۲۹۸ کاله پورې یې، چې ۳۸ کاله کېږي، دوام وکړ.

د دفتر دارۍ اصول: د استقلال تر ترلاسه کېدو وروسته، د محاسبې سیستم له سیاق او رقومو ځخه د دفترداری پر اصولو بدلون وموند، په دغو اصولو کې جنسي مالیات لغو او ځای یې په بشپړه توګه د تصدی مالیات ونیول، چې په ترڅ کې یې نسبتاً یو ښه محاسبوي سیستم رامنځ ته شو او تر ۱۳۱۳ کال پورې یې دوام پیدا کړ.

**میاشتنی (شهریه) اصول:** دغه سیستم، چې د دفترداری تر اصولو وروسته د مالیې د وخت د وزیر میرمحمدهاشم خان په وسیله رامنځ ته شو او د تطبیق وړ وګرځید، د دفترداری د اصولو په پرتله چټک، آسانه او جامع و او هغه مهال به ډېر ارزښتناک ګڼل کېده. په ۱۳۱۴ کال کې یې خپل ځای نورو اصولو ته پرېښود.

**د مانچولي اصول:** دغه سیستم په ۱۳۱۴ کال د ایتالوي ډاکتر ژینو مانچولي په وسیله رامنځ ته شو او دغه سیستم د افغانستان د محاسبې په اړه د اهمیت وړ و او کولی یې شول، چې د عوایدو او لګښتونو بودیجه تنظیم کړي، خو د مالي او حسابي چارو د پراختیا له امله هغه نیمګړتیاوې، چې له دغه سیستم ځخه د عملیاتو او اجراأتو پرمهال رامنځ ته کېدې، نو دغه سیستم یې له رکود سره مخ او پر ځای یې نور اصول رامنځ ته شول.

**د ژینسستون اصول:** په ۱۳۳۳ کال کې یو شمېر ترکي متخصصین د افغانستان د دولتي محاسبې پر سیستم د غور او بیاکتنې په موخه وګومارل شول. دغو متخصصینو د خپلو څېړنو د پایلو په لړ کې د ژینستون په نوم اصول طرح کړل او تر تطبیق او اجرا لاندې یې ونیول او د دغه سیستم د تطبیق په پایله کې د محاسبې او بودیجې د قانون پروژه رامنځ ته شوه او پنځه کاله یې دوام وموند.

**د مضاعف اصول:** د محاسبې دغه میتود په ۱۳۳۸ کال کې رامنځ ته شو او تر اوسه پورې جریان لري. دغه سیستم د وخت د غوښتنو او د مالي چارو د چټکو پرمختیاوو پر بنسټ رامنځ ته شو. تر هغه ځایه چې دولتي عوایدو او لګښتونو ښودلې، دغه سیستم د نورو ټولو پخوانیو سیستمونو په پرتله جامع او مفصل سیستم دی. دغه سیستم د امریکایي متخصصینو په وسیله طرح او دتطبیق او اجرا وړ ګرځیدلی دی.

**د دولتي محاسبې مهم اصطلاحات:**

- محاسبه د پولي معلوماتو او مالي سندونو د ثبتولو (ریکارد)، تصنیفولو او تلخیصولو یو صنعت او د هغوی د پایلو توضیح ده.

محاسبه د تصدي اقتصاد د علم یوه عملي څانګه ده، چې مالي معلومات او فعالیتونه تصنیف

ketabton.com - The Digital Library

او ثبتوي او اړوند سندونه ډلبندي کوي. په پای کې باید ووایو، چې د اقتصادي عملیاتو د پایلو لنډيز د اړوندو حسابونو له مخې له دوو حسابونو څخه ترتیبېږي.

**دولتي محاسبه:**

د هغو شمېرو او ارقامو ثبت او څېړل دی، چې د ژوندیو او ناژوندیو موجوداتو له فزیکي حرکت څخه رامنځ ته کېږي او مخکې له مخکې ټاکل شویو هدفونو ته د رسېدو په موخه، د سالم مدیریت د اجرا لپاره، د ټاکلې مودې په بهیر کې د انسانانو په وسیله ترسره کیږي، چې پایله یې باید روښانه، دقیقه او منطقي وي.

- **دنده(وظیفه):** د یوه تشکیلاتي واحد او یا د هغه د اجزاوو د کار او مسوولیت له حجم څخه عبارت ده، چې د قانون په وسیله ثبت او څانګړې کیږي.
- **فعالیت:** د ورسپارل شوې دندې د کار له ترسره کولو څخه عبارت دی، چې د تشکیل پر بنسټ یوې څانګې او یا یو کس ته ورسپارل شوې وي.
- **د کار واحد:** د کار له یوې ثابتې کچې څخه عبارت دی، چې د یوه فعالیت په اجرا یا د یوې متاع په تولید کې د انرژۍ او قوې د اندازه کولو په موخه په مصرف رسیدلې دي، استعمالیږي .
- **انسجام:** د دندو له توحید او د یوې ادارې د موظفینو له ګډون څخه عبارت دی.
- **پروګرام:** د یوه تشکیل شوي واحد د ټولو ثبت شوو مرامونو او موخو له صورت څخه عبارت دی.
- **پلان:** د یوه پروګرام د راتلونکو هدفونو طرح او تعریف او په یوه ټاکلې موده کې د ترلاسه کولو لپاره یې د کافي تدبیرونو نیول دی. یا پلان، د ټاکلو شاخصونو او د ټاکلو شمېرو او ارقامو د دقیق تحلیل پر بنسټ او په ټاکلي زمان او مکان کې د سنجش په اساس، د ټاکلو او مشخصو هدفونو د ترلاسه کولو په موخه له قبلي تصمیم څخه عبارت دی.
- **اداره:** مطلوبې موخې ته د رسېدو لپاره د یوه یا څو عملیاتي څانګو د طرح شویو پروګرامونو تطبیق، څارنې او انسجام ته اداره ویل کېږي.
- **قانون:** له هغه موضوعه احکامو څخه عبارت دی، چې د واک لرونکو مقامونو له خوا وضع او په وسیله یې د حقیقي او حقوقي اشخاصو ترمنځ اړیکې تامینېږي؛ موعد یې دولت وي.
- **مقرره:** ټول هغه قواعد دي، چې د قانون له روحیې سره سم وي او د قانون د تفسیر او توضیح په منظور وضع شوی وي.
- **طرزالعمل:** له هغې کړنلارې څخه عبارت ده، چې پر قانون متکي وي او چارې باید له هغه سره سم اجراء او ترسره شي.
- **پروژه:** په عین یوه پروګرام کې، له یوه مشخص مرام او هدف څخه عبارت ده.
- **مالي دوره:** د یوه کال له یوې حسابي ټاکلې دورې څخه عبارت ده، چې په پای کې یې حسابي دفتر او معاملات تړل کیږي او مالي وضعیت تثبیت او ټاکل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

- **بودیجوي کال:** له یوه راتلونکي مالي کال څخه عبارت دی، چې د بودیجې اړتیاوې او مالي سرچینې اټکلونه (تخمینات) لپاره یې وړاندې کیږي.
- **روان (جاري) کال:** له هغه مالي کال څخه عبارت دی، چې تر روان کال مقدم وي.
- **تیر کال:** له هغه مالي کال څخه عبارت دی، چې له جاري کال څخه مقدم وي.
- **موجوده فعالیت:** له هغه لګښت څخه عبارت دی، چې په بودجوي کال کې د فعالیت د اجرا لپاره د لازمه جاري کال په سویه وي.
- **نوی تکلف:** له هغو پیسو څخه عبارت دی، چې د روان کال د فعالیتونو د اصلاح په موخه زیاتېږي او کمېږي(تزیید او تنقیص په کې راځي).
- **عادي لګښتونه:** له هغو لګښتونو څخه عبارت دي، چې د دولت د عادي او ورځنیو فعالیتونو لپاره په پام کې نیول شوي دي.
- **پراختیایي لګښتونه:** هغه لګښتونه دي، چې د پرمختیایي (انکشافي) پلانونو د ترسره کولو لپاره په پام کې نیول شوي دي.
- **مدرک:** له یوه حسابي واحد څخه عبارت دی، چې له هغو پیسو یا مال څخه جوړ شوی، چې په ځینو منظور شوو اهداوو کې ترې ګټه اخیستل کیږي.
- **عادي مدرک:** هغه مدرک دی، چې عادي بودیجه پرې تمویلېږي.
- **عمومي مدرک:** هغه مدرک دی، چې د دولت د عمومي لګښتونو د تکافو (عادي پرمختیا) په موخه ترې کار اخیستل کیږي.
- **پراختیایي (انکشافي) مدرک:** هغه مدرک دی، چې پرمختیایي(انکشافي) پروژې پرې تمویلېږي.
- **د منظورۍ اصل:** له هغو ټاکلو پیسو څخه عبارت دی، چې د مصرفولو واک یې د واک لرونکو چارواکو له خوا د یوې ځانګړې موخې لپاره د یوې مالي دورې په موده کې، یو اداري واحد ته ورکول کیږي.
- **تر تعدیل وروسته منظوري:** له هغه شمیر یا رقم څخه عبارت دی، چې هر کال د تزیید او تنقیص د منظورۍ په پایله کې ترلاسه کېږي.
- **دتخصیصاتو توزیع:** د تخصیصاتو د حوالې په موخه، پر څلورو برخو، د کلنۍ منظوري د اصل له وېشلو څخه عبارت دی.
- **د تخصیصاتو حواله:** له هغه واک څخه عبارت دی، چې د مالیې وزارت له خوا د لګښت د حساب ورکولو لپاره د کلني منظورۍ د اصل له مخې، په ټاکلې اندازه د ټاکلې موخې لپاره، یوې نمایندګۍ ته ورکول کیږي.
- **حواله شوي تخصیصات:** د تخصیصاتو له هغې برخې څخه عبارت دی، چې د مصرف واک یې د مالیې وزارت له خوا یوې نمایندګۍ ته له یوه لومړني او دویم واحد څخه دریېیم واحد ته صادر شوی وي.

ketabton.com - The Digital Library

- **هغه تخصیصات، چې نه دي حواله شوي:** د منظورۍ اصل له هغو پاتې پیسو څخه عبارت دی، چې د اړتیا پر مهال د حوالې لپاره چمتو شوې وي.
- **د لګښت معلوماتي راپور:** د هغو پیسو مجموعه ده، چې له حواله شوو تخصیصاتو څخه په مصرف رسیدلې دي.
- **د حواله شوو پاتې تخصیصات:** د حواله شوو تخصیصاتو هغه پیسې دي، چې په مصرف نه وي رسیدلې.
- **انتقال:** له یوه حساب څخه پیسې اخیستل او بل ته حساب ته یې داخلول، له انتقال څخه عبارت دی.
- **د عوایدو تصنیف:** د دولت د هغو ټولو عوایدو د رسمي وظیفه بندۍ له تشریح څخه عبارت دی، چې د دولت عمومي خزانې ته تحویلیږي. دغه تصنیف د باب او فصل له مخې دي.
- **د لګښتونو تصنیف:** د دولت د هغو لګښتونو له طبقه بندۍ او تشریح څخه عبارت دی، چې د دولت له عمومي خزانې تمویلیږي. دغه تصنیف د عددي نښو (علایمو) او د تشریحي عنوانونو په مرسته ترسره شوی دی.
- **دویم واحد:** د یوې نمایندګۍ له اصلي اجزاوو څخه عبارت دی، چې د مشخصو شاخصونو او د بیلې چارې درلودونکي دي او مستقیماً د نمایندګۍ مقام ته مسئول دی.
- **دریيم واحد:** د دویم واحد له څانګو او تر هغه لاندې اجزاوو څخه عبارت دی، چې مستقیماً د دویم واحد مقام ته مسوول دی.

**په دولتي محاسبه کې مهم قواعد:**

د محاسبې مهم قواعد په لاندې توګه خلاصه کیږي:

- د محاسبې معاملات باید په روښانه او واضحه بڼه ولیکل شي.
- پاڼې او دفترونه په منظمه توګه ترتیب او پرله پسې نومره ګذاري شي.
- هغه ځوابونه، چې پکې درغلۍ او تیروتنې ولیدل شي، باید قید شي او د جعل لپاره سپینې پاتې نه شي او همدارنګه د قلم یا ټایپ په رنګ دې هم قید شي.
- په لیکنو باید رنګ پاک ونه وهل شي او له تراشلو او ګلولو (پاکولو) څخه یې ډډه وشي، که په کوم ځای کې سهوه یا تیروتنې رامنځ ته شي، باید سهوه شوې شمېرې یا ارقام د خفیف بطلان کرښې په وسیله باطلې شي، (پریږې کرښې پرې ونه وهل شي)، خو د کرښې ایستل باید ټایپي لیکلې نالوستي کړي.
- معاملات باید د ماشین یا ثابت رنګ په وسیله ثبت شي، د معاملاتو لیکنې په پنسل سره مجاز نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

**د دولتي محاسبې ارزښت او پراختیا:**

د دولتي دندو او اداري ارزښت ورځ تر بلې پراختیا (توسعه)، د دې لامل شوی، چې د دولتي محاسبې مالي چارې او عمومي موسسې د هرې ورځې په تېرېدو سره د پام وړ وګرځي. د دولتي موسسو ټولې چارې لکه د مرکزي حکومت موسسې، ښاروالۍ او په دولت پورې اړوند نورې موسسې په ضروري توګه د دولتي محاسبې د اصولو له ضوابطو او موازینو څخه پیروي کوي. په ځینو یادو موسسو کې د حسابونو د ښودلو لپاره یوازې یو خاص ساده سیستم شتون لري او په ځینو نورو کې بیا دولتي محاسبه زیاته پراختیا (وسعت) موندلې او په مالي راپورونو کې په بشپړه او دقیقه توګه، د حساب له مدرن ماشین او ننني میتودونو څخه کار اخیستل کېږي.

د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې، د وروستیو ۴۰ کلونو په بهیر کې دولتي محاسبه او د محاسبې نوي کړنلارې د پام وړ ګرځېدلې، چې د دې فن څېړونکي او استادان یې د اصولو په پراختیا او بشپړتیا کې هڅه کوي.

هغه مهم لاملونه، چې دولتي محاسبه یې ورځ تر بلې د ارزښت وړ ګرځولې، په لاندې توګه دي:

- د نړۍ په ځینو هېوادونو کې د دولتي محاسبې او ښاروالیو محاسبې د کمېټو تاسیس ادامه لري. دغه ډول موسسې د محاسبې د اساسي اصولو په تدوین او پراختیا، د اړتیا وړ اطلاعاتو په برابرولو یا د معلوماتو او اړینو فورمو په چمتو کولو او وړاندې کولو کې اغېزمنه ونډه لري.
- د نړۍ د محاسبې، اقتصاد، مالیې او اداري علومو د ټولنو (انجمنونو) د مباحثاتو او طلباتو ځینې تخصیصونه د دولتي محاسبې له اصولو او چلند سره سم تر سره کېږي.
- په زیاترو پوهنتونونو او علمي موسسو کې د دولتي محاسبې د پرتلنې او تدریس لپاره د ټولګیو جوړول.
- د دولتي محاسبې او په هغه پورې د اړوندو مسایلو په تړاو، د متحدو کتابونو خپرول.
- په دولتي موسسو کې د عمومي چارو د محاسبینو او متصدیانو زیاته لېوالتیا، د معقولې محاسبې د کړنلارو د اصلاح او د بشپړو او دقیقو حسابونو تنظیم د اړوندو موسسو د مالي فعالیت د ښودلو لپاره دي.
- د مالي چارو په ادارو او عمومي موسسو کې د دولتي محاسبې د سیستم ارزښت ته د دولتي چارواکو پام، د دولتي محاسبې د چارو د اصلاح لپاره دکمیسیونونو د جوړولو او د متحده پروګرامونو د طرحې لامل شو.
- د دولتي محاسبې د میتودونو د ترسره کېدو په پایله کې رامنځ ته شوي بدلونونه او تحولات، چې له دغو بدلونونو څخه ډېر مهم یې په لاندې توګه دي:

**الف:** د تعهدي محاسبې له سیستم څخه زیاته استفاده.

**ب:** د محاسبوي معاملو د کنترول او د مالي فعالیت د محاسبې لپاره د حساب له ماشینونو څخه کار اخیستل.

ketabton.com - The Digital Library

**ج:** د اړوندو مسئولو اشخاصو په وسیله، د حسابونو مخکینی او وروستنی کنټرول.
**د:** په دولتي محاسبه کې د اضافي رسومو له منځه وړل.
**هـ:** په زیاترو دولتي موسسو کې د حسابونو متحدالشکله بڼه رامنځ ته کول او له ورته اصلاحاتو او چلند څخه کار اخیستل.
**و:** په لویو تولیدي موسسو کې د حساب د زیاترو میتودونو کارونې ته لېوالتیا.

د دولتي محاسبې موخې:

الف- په خپله د محاسبې د غوښتنو د ترلاسه کولو په موخه: په دې توګه اړوند دفترونه داسې ترتیب او سمبالیږي، چې محاسبوي عملیات په سیستماتیکه توګه ترسره شي، تر دې، چې په ټاکلې ورځ د عملیاتو له پایلو څخه د تثبیت موخه او اقتصادي پایله، معلومه شي.

ب- د نورو څانګو د غوښتنو د ترلاسه کولو په موخه: په دې ځای کې باید ووایو، چې محاسبه نه یوازې خپلو کسانو ته فعالیت کوي، بلکې نورو څانګو ته لکه د لګښت د محاسبې، احصایې او د پلان جوړونې څانګو ته هم خدمت کوي، چې د هغې پر بنسټ باید خپل حسابونه په داسې بڼه تنظیم او سمبال او خپل اجرات داسې ترسره کړي، چې نورې څانګې هم وکولی شي، په هره موده او د هر مقصد لپاره د محاسبې له اعدادو څخه استفاده وکړي.

د دولتي محاسبې دندې: په ټولیزه توګه، د دولتي محاسبې دندې پر دوو لاندینیو ګروپونو لنډیږي:

**الف: د خپل کار په تړاو دندې:**

- د معاملو د ثبتولو لارې چارې ټاکي.
- د محاسبوي عملیاتو د لیکلو، ډلبندۍ او خلاصه کولو طریقه ښیي.

**ب: د محاسبې ټولیزې دندې:**

- محاسبه باید وکولی شي، چې د تصدۍ د شتمنۍ او پورونو(دیون) په اړه یو عمومي معلومات وړاندې کړي. باید ووایو، چې منظمه او اصولي محاسبه باید تل دغه دندې ترسره کړي؛ په داسې حال کې، چې د تېر کال په پای او یا د نوي کال په پیل کې د تصدۍ د شتمنۍ او پورونو(دیون) د وضعې ښودل، حتمي او ضروري بریښي.
- محاسبه د تصدۍ ټول مخارج او حاصلات په منظمه توګه د نیټې په درجولو سره ښیي.
- محاسبه د یوې تصدۍ د اقتصادي فعالیتونو د پایلې د موندلو لپاره مؤظفه دی؛ یعنې د تصدۍ ټول لګښتونه او حاصلات راټولوي او د ګټې او تاوان کچه معلوموي.
- محاسبه د ښو پایلو د ترلاسه کولو په موخه، د تصدۍ د داخلي کنټرول بنسټ غښتلی کوي.
- یوه منظمه او اصولي محاسبه کولی شي، چې د داینینو او نورو معامله لرونکو لپاره اړین معلومات وړاندې کړي.

ketabton.com - The Digital Library

- منظمه او اصولي محاسبه د دولتي، حقوقي او مالي شعباتو پر وړاندې او په خاصه توګه په دولتي محاکمو کې د ثابت واک يا قدرت لرونکې ده.

**د محاسبې د قانون بنسټونه:**

لکه څرنګه، چې په تصديو کې هره ورځ د اقتصادي او مالي معاملو بېلابېل ډولونه ترسره کېږي، نو تصدي کولی شي، چې له بېلابېلو مراجعو لکه دولتي تصديو، بانکونو او داسې نورو سره اقتصادي او مالي اړيکه ولري. پر دې بنسټ، د دواړو لورو د حقوقو د تامين په موخه بايد د تصدۍ په دننه او بهرکې حسابي دفترونه موجود وي، ترڅو د حساب يو اړخ هم زيانمن نه شي. له همدې امله، قانون په اجباري توګه په يوه تصدۍ کې د محاسبې پر شتوالي ټينګار کوي. له دې امله د افغانستان د سوداګرۍ قانون د محاسبې په اړه دقيقې مقررې لري. د افغانستان په سوداګرۍ قانون کې د محاسبې په اړه لاندې موضوعات درج شوي دي:

۱- ټولې معاملې په دفترونو کې د سندونو پر بنسټ، ثبتېږي او دفترونه بايد د ثبت له نېټې تر ۱۵ کلونو پورې وساتل شي.

۲- د تېروتنو د سمونې (تصحيح) په اړه د محاسبې په قانون کې يادونه شوې، چې تېروتنې او غلطۍ بايد پر خپل حال پرېښودل شي، او يوازې پرې يوه نرۍ کرښه وکښله شي او د موضوع د سموالي په اړه په کټنو او پاورقيو کې معلومات وړاندې شي.

۳- حسابي بهير لږ ترلږه په کال کې يو ځل تړل کېږي او پايلې يې دولت، شريکانو او نورو معامله لرونکو ته ابلاغېږي.

۴ په يوه هېواد کې د محاسبې سيستم بايد متحد الشکله وي، څو د پايلې استخراج دولت، شريکانو او نورو معامله لرونکو ته يو شانته وي او همدارنګه د کنټرولرانو او مفتشينو لپاره اسانتيا رامنځته شي.

۵- هر سوداګر اړ دی، چې درې دفترونه ولري:

الف: د شتمنۍ دفتر.

ب: د ژورنال دفتر.

ج: د ليجر دفتر.

د منظمې محاسبې د قواعدو د نه تطبيق پايلې: که په يوه تصدۍ کې د منظمې محاسبې قواعد تطبيق نه شي، ياده تصدۍ له لاندينيو ستونزو سره مخامخيږي:

- د تصدۍ مهم سندونه او مدرکونه به ورک شي، چې له مخې يې د پلان جوړونې اساسات يې هم ورکيږي.
- که اسناد مرتب او منظم نه وي يا جعلي وي يا تغيير شوي وي، خپل کريډټي اعتبار له لاسه ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library

- که تصدۍ خپل معاملات په غیر منظمه توګه او د اړینو سندونو له په پام کې نیولو پرته ترسره کړي، د کنټرول امکان له لاسه ورکوي.
- که چیرې په یوه تصدۍ کې منظمه محاسبه ترسره نه شي او له دې پرته، چې سندونه په پام کې ونیول شي، اجراات صورت ومومي، نو تصدۍ په محاکمو کې د اثبات قدرت له لاسه ورکوي.

د دولتي محاسبې د ریاست مسئولیت: د محاسباتو ریاست، د دولت د حسابي سیستمونو د نظارت مسئول رئیس تر اداري لاندې وي. د محاسباتو ریاست، په ځانګړې توګه د لاندې چارو مسئولیت لري:

- د حسابي متجانسو سیستمونو (هرسیستم په خپل ذات کې) تجویز او په مجبوره توګه د هغوی تعقیب او تطبیق او راپور ورکولو دنده یې پر غاړه لري؛ د بودیجوي تعدیلاتو د تأسیس، پراختیا او د حسابي مشخصو مسایلو او د حسابي سیستمونو د اصلاحاتو په اړه، د دولتي تصدیو د بېلابېلو نمایندګیو په وسیله، د نمایندګیو له حسابي کارکوونکو سره مرسته او هغوی ته توصیه کول.
- د دولت په ټولو مدرکونو او پیسو پورې اړوند د حسابي توحیدي دفترونو د سندونو ترتیبول او ساتل، چې د شتمنیو، پورونو(دیون) او ټولو ریزرف شویو تعهداتو د جمعې، د حقیقي عوایدو د زیاتوالي یا کسراتو، د لګښتونو او تعهداتو په اړه نوي او تازه معلومات په سمه توګه وښیي.
- د محاسبې د سیستم څارنه او اداره، د کلنۍ منظورۍ اصل، د لګښتونو د تخصیصاتو حواله او د صحیحو او تازه معلوماتو د وړاندې کولو په منظور د بودیجوي کنټرول د اغیزمن تعمیل لپاره تعهدات.
- د عادي، خصوصي او مالي راپورونو ترتیب، چې د دولت مالي وضعیت او عملیات ښیي.
- په دولتي محاسبه کې د معاشونو د اجرا څرنګوالی: م۴۱ فورم یا د معاش استحقاق، د حاضرۍ له مخې جوړیږي؛ لومړی د حاضرۍ راپور د کارکوونکو مدیریت یا د حاضرۍ مدیریت له خوا د میاشتني معاش د اجرا لپاره د نغدي محاسبې مدیریت ته لیږل کیږي، وروسته د محاسبې مدیریت له لوري د معاشونو مدیریت ته لیږل کېږي، چې بیا د معاشونو مدیریت د حاضرۍ د راپور له مخې د م۴۱ فورم یا استحقاق جوړوي او تر دې وروسته د دفتر دارۍ مدیریت ته د تخصیص د اخیستلو لپاره لیږل کیږي. د تخصیص تر اخیستلو وروسته د اړوند مقام ملاحظه شد اخیستل کیږي، وروسته د ویزې لپاره د کنټرول مدیریت ته لیږل کیږي، چې د پړاوونو تر تېرولو وروسته د حوالجاتو مدیریت ته د م۱۶ د جوړولو لپاره سپارل کیږي. د م۱۶ فورم د حواله جاتو مدیریت ته او بیا د ویزې لپاره د کنټرول مدیریت ته لیږل کیږي. د دغو پړاوونو تر تېرولو وروسته م۱۶ د چک د اخیستلو لپاره مالیې وزارت ته لیږل کیږي، د چک تر وېشلو وروسته، یاد چک د افغانستان بانک ته د پیسو د اخیستلو لپاره سپاره کیږي؛ البته د نغدي

ketabton.com - The Digital Library

معتمد د چک وېشنه د درې تنو هیئت په وړاندې معتمد ته وېشل کیږي، د معاش له وېشنې څخه وروسته د م۴۱ د کتنو(ملاحظاتو)په ستون کې هغه وګړي، چې په م۴۱ کې شامل دي امضاء کوي. د معاش له وېشنې څخه وروسته د معاش په مدیریت کې د معاشاتو د ثبت په کتاب یا د م۴۰ په فورمه کې لیکل کیږي، چې د هغې فورمې ورسره ضمیمه دي.

**په دولتي ادارو کې د جنسي محاسبې کړنلاره:**

- لومړی د جنس د اخیستلو لپاره د اړوند مدیریت له خوا وړاندیز کیږي، د واک لرونکي مقام د احکام تر اخیستلو وروسته جنسي مدیریت ته سپارل کیږي، چې ورپسې د جنسي مدیریت که چیرې جنس په ډیپو کې وي، د حوالې لپاره معلومات وړاندې کوي، که چیرې جنس په ډیپو کې موجود نه وي، نو د جنس د نشتوالي په اړه معلومات ورکوي، چې وروسته د پېرېدنې حکم د ترلاسه کولو لپاره اړوند مقام ته وړاندیز کیږي؛ د خریدارۍ حکم د تر ترلاسه کېدو وروسته وړاندیز پاڼه د خریدارۍ لپاره د خریدارۍ مدیریت ته لیږل کیږي، د خریدارۍ مدیریت د نرخ اخیستنې پوښتنپاڼې (استعلام) درې پاڼې جوړوي، په دې توګه د خریدارۍ پلاوی له دریو ځایونو څخه نرخ اخلي؛ د خریدارۍ پلاوی له دریو کسانو څخه جوړ شوی وي؛ تر نرخ اخیستنې وروسته د خریدارۍ مدیریت ټیټ (نازل) نرخ ټاکي، وروسته م۳ فورم جوړوي، چې دغه فورم ته د خریدارۍ امر هم ویل کیږي.
- د دغه فورمې تر ډکولو وروسته، یاده فورمه، د دفتر دارۍ مدیریت ته د تخصیص اخیستلو لپاره لیږل کیږي، چې د تخصیص تر ثبت او د صلاحیت لرونکو مقام تر تایید وروسته، یاده فورمه د ویزې لپاره، د کنترول مدیریت ته لیږل کیږي، چې د خریدارۍ یوه وړاندیزپاڼه، د م۳ د فورم درې کاپۍ، درې د نرخ اخیستنې پوښتنپاڼې او د پرتلیز جدول یوه پاڼه ورسره ضمیمه وي، چې د م۳ فورم له ویزې څخه وروسته د خریدارۍ یا خدماتو مدیریت د یوه مکتوب په لړ کې د پیسو د حوالې لپاره نقدي محاسبې ته لیږل کیږي، چې بیا وروسته نغدي محاسبه د حوالې لپاره د م۱۶ فورم او د م۱۰ فورم جوړوي، د م۱۶ فورمه د حواله جاتو د مدیریت له خوا جوړیږي، چې بیا د پیسو د واک لرونکي مقام له خوا ملاحظه شد او د تخصیص تر اخیستلو وروسته د ویزې لپاره د کنترول مدیریت ته لیږل کیږي. د کنترول مدیریت د م۳ د فورمې او د خریدارۍ د وړاندیز پاڼې او د پیسو د واک لرونکي مقام د کتنې له مخې ویزه کوي، چې تر ویزې وروسته د نغدي محاسبې مدیریت له خوا د چک د اجرا لپاره د مالیې محترم وزارت ته لیږل کېږي. مالیې وزارت د قانوني پړاوونو تر تېرولو وروسته د م۱۶ له مخې چک جوړوي او دغه چک د مالیې د خزاینو ریاست له خوا وېشل کېږي؛ د پیسو تر ترلاسه کولو وروسته، چې د نغدي معتمد په جمع کې حواله کېږي، نغدي معتمد او د خریدارۍ درې کسیزه پلاوی په

ketabton.com - The Digital Library

ګډه جنس له بازاره پیري. تر دې وروسته یاد جنس، د خریدارۍ د یوه ښېل له مخې، د کتنې د دري کسیز هیات تر کتنې وروسته د جنسي معتمد په جمع کې ډیپو ته دننه کیږي. د ډیپو مدیریت نوموړی جنس د یوه مکتوب په لړ کې د قیدیت لپاره جنسي مدیریت ته لیږي. د جنسي مدیریت د خریدارۍ د ښېل د یوې پاڼې او د خریدارۍ د دري کسیز پلاوی د تحریر او د کتنې پلاوی د تایید او د جنسي معتمد د تسلیمۍ له مخې د یاد جنس لپاره د م۷ فورم جوړېږي؛ البته د م۷ فورم درې کاپي لري، چې د مقام د ملاحظه شد تر اخیستلو او د جنسي مدیریت تر تائید او د جنسي معتمد تر تسلیمۍ وروسته د ویزې لپاره د کنترول مدیریت ته سپارل کیږي. د کنترول مدیریت یې د مکتوب د یوې پاڼې، د م۳ د یوې پاڼې او د خریدارۍ د ښېل د یوې پاڼې له مخې، چې د خریدارۍ د درې کسیز پلاوی، د معاینې هیئت او د جنسي معتمد تسلیمۍ په کې درج ده، ویزه کوي. وروسته جنسي مدیریت هغه جنس، چې د م۷ په فورم که شامل دي، د جنسي معتمد په جمع کې په جنسي کتاب کې قید او جمع کوي او د جنس تر قیدیت وروسته، د محاسبې مدیریت ته د یوه مکتوب او د خریدارۍ د ټولو سندونو په لړ کې د پیسو د محسوبي لپاره لیږل کیږي. د محاسبې مدیریت د خریدارۍ ټول سندونه په فورم کې چې د محسوبۍ م۱۲ فورم ورته ویل کیږي، جوړوي، ترڅو خریداري شوې پیسې د معتمد په خرڅ کې اجرا شي او پر م۱۲ فورم مالي آمر او واک لرونکی آمر ملاحظه شد کوي او وروسته د ویزې لپاره د کنترول مدیریت ته لیږل کیږي. د کنترول مدیریت د م۱۲ فورمه او د ټولو خریداري شوو اسنادو له مخې خریداري شوې پیسې ویزه کوي، البته د خریدارۍ ټول اسناد له م۱۲ سره ضمیمه وي.

ketabton.com - The Digital Library

## د لومړي څپرکي د مطالبو لنډیز

**د محاسبې تاریخچه:**

۲- زموږ په ګران هېواد افغانستان کې له یوې پیړۍ څخه را په دې خوا د محاسبې لاندې سیستمونه د دولتي محاسبې په ځانګو کې تطبیق شوي دي:

- د محاسبې د سیاق او رقومو اصول له ۱۲۹۸- ۱۳۶۰.
- د محاسبې د دفتر دارۍ اصول ۱۲۹۸- ۱۳۱۳ .
- د محاسبې میاشتني(شهریه) اصول ۱۳۱۳- ۱۳۱۴.
- د محاسبې مانچولي اصول ۱۳۱۳ کال.
- د محاسبې د ژینسستون اصول ۱۳۱۳- ۱۳۳۸ .

**د مضاعف محاسبې اصول:**

د محاسبې دغه سیستم په ۱۳۳۸ کال کې رامنځ ته شو او تر اوسه پورې جریان لري. دغه سیستم د وخت د غوښتنو او د مالي چارو د چټکو پراختیاوو له مخې رامنځ ته شو. تر هغه ځایه، چې د دولت عوایدو او لګښتونو ښودلې، دغه سیستم د نورو ټولو پخوانیو سیستمونو په پرتله، یو جامع او مفصل سیستم دی.

دغه سیستم د امریکایي متخصصینو په مرسته طرح او دتطبیق او اجرا وړ ګرځېدلی دی.

- د دولتي محاسبې تعریف: د هغو شمېرو او ارقامو ثبت او څېړل، چې (د حیه او غیر حیه موجوداتو) له فزیکي حرکت څخه رامنځ ته کېږي او د سالم مدیریت د سرته رسولو په منظور موخو ته د رسېدو په خاطر له مخکې څخه ټاکل شوی دی.

په ټاکلې(مشخصې) موده کې د انسانانو په مرسته ترسره کیږي، چې د هغې پایله باید روښانه، دقیقه او منطقي وي.

۳ - **اداره:** د طرح شوو پروګرامونو له تطبیق، مطلوب مرام او هدفونو ته د رسېدو لپاره، د یو یا څو عملیاتي ځانګو یا شعبو له څارنې او انسجام څخه عبارت دی.

۴- **قانون:** هغه موضوعه حکمونو دي، چې د واک لرونکو چارواکو له خوا وضع او په مرسته یې د حقیقي او حقوقي کسانو تر منځ اړیکې تأمینېږي او موید یې دولت وي.

۵- **مقرره:** ټول هغه قواعد دي، چې د قانون له روحیې سره سم وي او د قانون د تفسیر او توضیح په منظور وضع شوي وي.

۶- **طرزالعمل:** هغه کړنلاره ده، چې پر قانون او مقررې متکي وي او چارې یې باید پر بنسټ اجرأ او ترسره شي.

۷- **پروژه :** په عین پروګرام کې، له یوه مشخص هدف او مرام څخه عبارت ده.

ketabton.com - The Digital Library

**په دولتي محاسبه کې مهم قواعد:**

- د محاسبې معاملات باید واضح اوعام فهمه ولیکل شي.
- پاڼې او دفترونه باید په منظمه توگه ترتیب او په پرله پسې بڼه نمره گذاري شي.
- هغه ځوابونه، چې پکې جعل کارۍ او تیروتنې ولیدلې شي، باید قید شي او د جعل کارۍ لپاره سپینې پاڼې نه شي او ټول د قلم یا ټایپ پر رنگ قید شي.
- د دولتي محاسبې ارزښت: د دولتي دندو د ورځ تر بلې زیاتېدونکې پراختیا او د ادارې د ارزښت له مخې، مالي چارې او د دولتي محاسبې عمومي موسسات هم د هرې ورځې په تېرېدو سره د پام وړ گرځېدلي دي؛ د ټولو دولتي موسسو چارې لکه د مرکزي حکومت موسسې، ښاروالۍ او په دولت پورې اړوند نورې موسسې په ضروري توگه د دولتي محاسبې د اصولو له ضوابطو او موازینو سره سم برابرېږي.

باید یادونه وکړو، چې د وروستیو ۴۰ کلونو په بهیر کې، د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې دولتي محاسبه او د محاسبې نوي کمپیوټري میتودونه ډېر د پام وړ گرځیدلي دي.

محاسبه د دوو هدفونو په موخه ترسره کېږي:

**الف:** د نورو څانگو د غوښتنو د ترلاسه کولو په موخه.

**ب:** په خپله د محاسبې د غوښتنو د ترلاسه کولو په موخه.

- **د محاسبې دندې:** د محاسبې دندې په ټولیزه توگه پر دوو برخو وېشل کیږي:

**الف:** د خپل د کار په تړاو د محاسبې دندې.

**ب:** د محاسبې ټولیزې دندې.

**د دولتي محاسبې قانوني بنسټونه:**

۱- ټولې معاملې دې د سندونو پر بنسټ تر سره شي.

۲- د تېروتنو د سمونې (تصحیح) په اړه د محاسبې په قانون کې یادونه شوې، چې تېروتنې او غلطۍ باید پر خپل حال پرېښودل شي، او یوازې پرې یوه نرۍ کرښه وکښل شي او د موضوع د سموالي په اړه په کتنو او پاورقیو کې معلومات وړاندې شي.

۳ - حسابي بهیر لږ ترلږه په کال کې یو ځل تړل کېږي او پایلې یې دولت، شریکانو او نورو معامله لرونکو ته ابلاغېږي.

۴- په یوه هېواد کې د محاسبې سیستم باید متحد الشکله وي، څو د پایلې استخراج دولت، شریکانو او نورو معامله لرونکو ته یو شانته وي او همدارنگه د کنټرولرانو او مفتشینو لپاره اسانتیا رامنځته شي.

۵ - هر سوداگر اړ دی، چې درې دفترونه ولري:

الف: د شتمنۍ دفتر

ب: د ژورنال دفتر

ج: د لیجر دفتر.

ketabton.com - The Digital Library

**د محاسبې د قواعدو د نه تطبيق پايلې**

- د تصدۍ مهم سندونه او مدرکونه به ورک شي او پلان جوړونه به له پلان پرته ترسره شي.
- که سندونه مرتب او منظم نه وي يا جعلي وي يا تغيير شوي وي، تصدۍ خپل کريدټي اعتبار له لاسه ورکوي.
- که تصدۍ خپلې معاملې په نامنظمه توګه او د اړينو سندونو له په پام کې نيولو پرته ترسره کړي، نو د کنټرول شونتيا له لاسه ورکوي.
- که په يوه تصدۍ کې د محاسبې چارې منظمې نه وي او له دې پرته، چې سندونه په پام کې ونيول شي، اجراات ترسره شي، تصدۍ په محاکمو کې د اثبات قدرت له لاسه ورکوي.

## د لومړي څپرکي پوښتنې:

۱. د مضاعفې محاسبې د اصولو په اړه معلومات ورکړئ؟
۲. محاسبه تعريف او محاسبوي دايره ترسيم کړئ؟
۳. دنده څه شی ده، معلومات ورکړئ؟
۴. د کار واحد له پلان سره څه توپير لري، معلومات ورکړئ؟
۵. د کار واحد تعريف کړئ؟
۶. پرو ګرام له پلان سره څه توپير لري، معلومات ورکړئ؟
۷. اداره له مديريت سره څه توپير لري، معلومات ورکړئ؟
۸. مقرره له طرزالعمل سره څه توپير لري، د بېلګې په وړاندې کولو سره يې توضيح کړئ؟
۹. مالي دوره او بوديجوي کال سره څه توپير لري، معلومات ورکړئ؟
۱۰. پروژه تعريف او يوه بېلګه يې وړاندې کړئ؟
۱۱. عادي لګښتونه له انکشافي لګښتونو سره څه توپير لري، واضح يې کړئ؟
۱۲. عادي مدرکونه له عمومي مدرک سره څه توپير لري، توضيح يې کړئ؟
۱۳. تخصيصات څه شی دي، معلومات ورکړئ؟
۱۴. حواله شوي تخصيصات له هغو تخصيصاتو سره، چې نه وي حواله شوي، څه توپير لري، توضيح يې کړئ؟
۱۵. د دولت د لومړني، دويم او درېيم واحد په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۶. د دولتي محاسبې ارزښت او پراختيا توضيح کړئ؟
۱۷. د دولتي محاسبې هدفونه واضح کړئ؟
۱۸. د دولتي محاسبې د دندو نومونه واخلئ؟
۱۹. د دولتي محاسبې د قانوني بنسټونو په اړه معلومات ورکړئ؟
۲۰. د دولتي محاسبې د رياست مسووليتونه واضح کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# دويم څپرکی

## د وزارتونو لپاره مالي معياري سيستم

**تولیزه موخه:**
د دولتي ادارو د محاسبې د عملي اجرااتو په موخه، د ځواک او وړتیا رامنځته کول.

**د زده کړې موخې:** محصلان به د دغه څپرکي په پای کې پر دې وتوانېږي، چې:

- د دولتي محاسبې مديريت د دندو لايحه توضيح کړي.
- د عملياتي لګښتونو تخصيص واخيستلای شي.
- مالي راکړه ورکړه په دفترونو کې درج کړي.
- د دولتي لګښتونو د اقلامو تصنيف وپېژني.
- د دولتي عوايدو تصنيف وپېژني.
- د پيشکي ورکړو محاسبه وپېژني.
- د معاش د پيشکي محاسبه ترسره کړي.
- د معاش له کسراتو څخه پيشکي اعاده ترسره کړي.
- په نغده توګه د پيشکي اعاده وپېژني.
- د تېرو کلونو د معاش د نامحسوبو شويو پيشکيو محاسبه ترسره کړي.

**د دولتي (مالي) محاسبې مديريت، د عملياتي څانګې د دندو لايحه:**

۱. د عملياتي لګښتونو لپاره د بوديجې ترتيب.
۲. د ب ۲۷، ب۲ او م۱۶ فورم او داسې نورو برابرول.
۳. د پلان د عملياتي لګښتونو لپاره د تخصيص غوښتنه.
۴. د پلان د عملياتي لګښتونو لپاره د پيشکي غوښتنه.
۵. له ماليې وزارت سره د حسابونو د تصفيې لپاره د محسوب ترتيب.

ketabton.com - The Digital Library

۶. د مالي سندونو ترتيب (د ورځنيو ورکړو لپاره).
۷. په اړوندو دفترونو کې د مالي سندونو ثبت.
۸. د کارکوونکو د مياشتني معاشونو ترتيب.
۹. د سفريې لپاره د م۱۳ فورم جوړول.
۱۰. د عملياتي لګښتونو په اړه، اړوند رييس ته د رپوټ وړاندې کول.

**د يو وزارت مالي سيستم:**

د افغانستان اقتصاد پر بسپنو (مساعدت) متکي دی؛ پر دې بنسټ، تر ټولو غوره مالي سيستم هغه دی، چې له مخې يې ډېرې پيسې مصرف شي. په دې برخه کې، يوازې د عملياتي ځانګې د پرمختيا بوديجې لګښتونه په لنډه توګه تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

د وزارتونو مالي سيستم پر دوو برخو وېشل کيږي:

۱. د قراردادونو ځانګه يا Works .
۲. د عملياتو ځانګه يا operation.

۱- عملياتي برخه: د قراردادي ځانګې د حمايې او پرمخ بېولو لپاره رامنځ ته شوې، چې ورځني لګښتونه او د قراردادي ځانګې تکرار رفع کوي:

**عملياتي ځانګه لاندې لګښتونه لري:**

الف- د معاشونو ورکړه:

۱. د پروژې د اړتياوو په پام کې نيولو سره د کارکوونکو ټاکنه.
۲. د برنامې له خوا د دندو او مسووليت ليست برابرول.
۳. د حاضرۍ د راپور او د کارکوونکي د تړونليک تر ترلاسه کولو وروسته، د معاشونو د جدول جوړول.

**ب- د سفريې ورکړه:** سفريه د تګ او راتګ د مکتوب تر تسليمۍ او منظورۍ وروسته، هغو کارکوونکو ته ورکول کېږي، چې له دولتي پروژو څخه د څېړنې او ځارنې لپاره ساحې ته ځي. سفريه د افغانستان دولت د قانون له مخې، د ورځې ۵۰۰ افغانۍ ده.

**ج- د موبايل کارت پېرودنه:** د بشري ځواک د وضع شوي قانون له مخې، د موبايل کارت ټولو وزارتونو ته وېشل کيږي. د موبايل کارت له ولايتي او ساحوي کارکوونکو سره د اړيکو د اړتيا په پام کې نيولو سره، ټاکل کيږي.

**د- د جنسونو پېرودنه:** ټول هغه جنسونه په بر کې نيسي، چې د هماغې پروژې د پرمختګ لپاره پېرودنه کيږيِ؛ لکه: د دفتر ځيزونه (لوازم)، چې له کمپيوټر، ميز، څوکۍ او داسې نورو څخه عبارت دي.

ketabton.com - The Digital Library

دغه شیان په عملیاتي څانګه کې ثبتېږي. هغه جنسونه، چې تر ۳۰۰۰ افغانیو لوړ نرخ ولري، د هغوی لپاره درې نرخه له دریو بېلابېلو مراجعو څخه اخیستل کیږي او د جنسونو د کیفیت په پام کې نیولو سره تر ټولو ټیټ نرخ ټاکل کیږي.

که پیسې تر ۵۰۰۰۰ افغانیو زیاتې وي، باید د پلورونکي بانکي حساب معرفي او پیسې یاد حساب ته ولیږدول شي او د بانک آویز له سندونو سره ضمیمه شي.

څرنګه موږ کولی شو، چې د عملیاتي لګښتونو لپاره تخصیص واخلو او کوم څیزونه اړین دي، ترڅو د تخصیص په اجرا کې ضمیمه شي؟

۱. د ب۲۷ فورم ترتیب.
۲. د ب۲ فورم ترتیب.
۳. د اټکل شوو لګښتونو لپاره د یو لنډ راپور برابرول.
۴. د مالیې وزارت د بودیجې د محترم ریاست لپاره مکتوب.

**د یوه وزارت مالي سیستم څرنګه پرمخ بېول کیږي؟**

کله چې تخصیص واخیستل شو، نو د پیشکۍ د ترلاسه کولو لپاره یو وړاندیز لیکل کېږي؛ دغه وړاندیز د پیشکۍ ضمایم هم باید له ځانه سره ولري:

- **د م۱۶فورم** – هغه فورم دی، چې د پیسو د وړاندیز په موخه، مالیې وزارت ته لیږل کیږي. د پیشکۍ په اړه دخزاینو ریاست ته، له بشپړو جزیاتو سره د یو مکتوب وړاندیز کېږي.
- د پلان د بودیجې ویشنه.
- د ب ۲ د فورم کاپي، د دې لپاره، چې بسپنه (مساعدت) او تخصیص تشخیص شي.
- د ۲۷ فورم کاپي، د دې لپاره، چې تصدیق شي، تخصیص په کوم کوډ په مصرف رسیږي. تر مصرف وروسته هغه پیسې، چې پیشکي اخیستل شوې وې، لازمه ده، چې د مصرف په اړه یې مالیې وزارت ته راپور ورکړل شي. دغه راپور د محسوبي په نامه هم یادېږي.
- هغه اسناد، چې له محسوبي سره ضمیمه کیږي په لاندې ډول دي:
- محسوبي راپور.
- **م۱۲ فورم ـ** دغه فورم ښیي، چې پیسې د معتمد له جمع څخه کمې شي او پیشکي، چې مخکې اخیستل شوې وې، تصفیه کیږي.
- **د م۱۶کاپي** - دا هغه فورم دی، چې په مرسته یې هغه پیشکي، چې مخکې له مخکې ترلاسه شوې وه، اوس تصفیه کیږي.
- **د ب ۲۷کاپي** - دغه فورم ښیي، هغه لګښتونه، چې اوس یې راپور ورکول کیږي، له کوم تخصیص څخه کم شي.

ketabton.com - The Digital Library

**مالي راکړه ورکړه څرنګه په دفترونو کې درجېږي؟**

دفترداری د مالي ځانګې له بنسټونو څخه ده، خو تر دې وړاندې، چې یوه معامله په دفترونو کې درج شي باید د یوه سند پرمخ په رسمي توګه ولیکل شي. دغه سند د سندونو د ووچر په نامه یادېږي او ووچر هغه سند دی، چې د یوې مالي معاملې، لنډه بڼه ثبتوي. په ټولیزه توګه، په ووچر کې لاندې معلومات ځای پر ځای کیږي:

- د مالي معاملې د رامنځ ته کېدو نیټه.
- د دبت او کریدت پیسې (مبلغ).
- د معاملې جزییات.
- په تورو او ارقامو مبلغ.
- د واک لرونکو چارواکو له خوا منظوری.
- د ووچر د سند پرله پسې ګڼه، چې د معاملې د همدې شمېرې په وسیله، په نورو دفترونو کې درجېږي، اړین ګڼل کېږي.

**ووچر په درې ډوله دی:**

- د پیسو د ورکړې ووچر (Cpv( cash payment voucher.
- د پیسو د ترلاسه کولو ووچر (CRV( cash Receipt Voucher.
- عمومي یا ټولیز ووچر (GV( VOVCHER GENERAL.

هغه دفترونه، چې د عملیاتي لګښتونو لپاره په وزارتونو کې ساتل کیږي، عبارت دي له:

| | |
|---|---|
| ۱. نغدي کتاب | Cash Book |
| ۲. د ترلاسه کولو وړ پیسو کتاب | ledger Receivable |
| ۳. د ورکړو وړ پیسو کتاب | Payable ledger |
| ٤. د حسابونو ټولیز کتاب | General ledger |
| ٥. د جنسونو د ثبت کتاب | Inventory Ledger |

**بېلګه:** بکتاش ته 2500AF د خریدارۍ لپاره، د پیشکۍ په ډول ورکړل شوې؛ اوس موږ یاده معامله په اړوندو دفترونو کې په داسې بڼه درجوو:

- لومړی، موږ د خپلو نغدو پیسو حساب کریدتوو.
- موږ یو حساب د پیشکیو په نوم لرو، چې دیبتوو یې.

ketabton.com - The Digital Library

| D کسه C | D پیشکي C |
|---|---|
| 2500 | 2500 |


اوس بکتاش د هماغو جنسونو محسوبې، چې پېرېدلي يې دي، را اړوي او د هغو جنسونو ټولې پيسې، چې دی يې پېرې، ۲۰۰۰ افغانۍ کېږي. په داسې حال کې، چې ۲۵۰۰AF پيشکي اخيستې وې؛ په دې صورت کې ياده معامله په داسې بڼه ثبتېږي:

- د خپل لګښت حساب، د AF ۲۰۰۰ په مبلغ دبتوو.
- ۵۰۰AF، چې پر بکتاش پاتې دي، په نغده توګه خزانه دار ته يې تسليموي او د نغدو پيسو حساب 500AF دبتيږي.
- زموږ درېيم حساب د پيشکۍ حساب دی، چې 2500AF کريدت او د بکتاش حساب تصفيه کيږي.

| D کسه C | | D پیشکي C | |
|---|---|---|---|
| 2500 | 2500 | 2500 | 2500 |

| D لګښتونه C | |
|---|---|
| 2000 | |

مالي راکړه ورکړه څرنګه په دفترونو کې درجېږي؟



ketabton.com - The Digital Library

**د دولتي لګښتونو او عوایدو سنجش او محاسبه**

**د دولتي لګښتونو د اقلامو تصنیف:** دولتي لګښتونه په لاندې برخو کې ترسره کېږي، چې مصرفي مدرکونه یې د لګښتونو د اقلامو د تصنیف په نامه یادېږي؛ دغه تصنیف په لنډه توګه داسې وړاندې کېږي:

**د ۱۰۰۰۰ باب:**

دغه باب، د اشخاصو د خدمتونو د تادیاتو لګښتونه په بر کې نیسي؛ لکه: د ملکي او پوځي کارکوونکو معاشونه، د زده کوونکو او محصلانو معاشونه، اضافه کاري، د ځانګو امتیازات، ماکولات او له اشخاصو سره مرسته.

**د 20000 باب:**

**خدمتونه:** په دې برخه کې لاندې خدمتونه شامل دي.

د ټرانسپورټ او مخابراتو خدمتونه، قرار داد شوي خدمتونه، د عامه اړیکو خدمتونه، د ارزښت لرونکو پاڼو او کتابونو چاپ، مسلکي خدمتونه، د ودانیو کرایه، ښاري محصولات او روغنیات.

**د 30000 باب:**

**مواد او لوازم:** د دِغې برخې په لګښتونو کې د کرنیزو، طبي، د دفتر، د کور، امنیتي، پوځي، تفریحي ښوونیز، البسه، خواړه او د حق العمل د موادو او لوازمو لګښتونه شامل دي.

**د 40000 باب:**

**ساتنه او څارنه (حفظ او مراقبت):** د دغې برخې لګښتونه په ساتنې او څارنې پورې اړوند موضوعات په بر کې نیسي؛ لکه: د مخابراتي، نشراتي، د کانونو د استخراج، د صنایعو او ورکشاپونو د ودانیو او تجهیزاتو ساتنه، څارنه، د مفروشاتو ساتنه او څارنه، د کانالیزاسیون د تجهیزاتو ساتنه او څارنه، د وسلوال پوځ او د برېښنا د وېش او د تفریحي تجهیزاتو او د لرغونو(عتیقه) آثارو ساتنه او څارنه.

**د 50000باب**

د دغې برخې په لګښتونو کې د ځمکو او ودانیو پیرېدل، د ودانیو ودانول، د ودانیو ترمیم؛ د سړک جوړونې، اوبو رسولو، کانالیزاسیون، د چاپېریال حفظ الصحې، مخابراتي خدمتونه، سپورټي لوازم، د کانونو د ایستلو، د برېښنا او کرنیز تجهیزات، د دفتر لوازم، د وسلوال پوځ تجهیزات، طبي او لابراتواري، تخنیکي او فرهنګي تجهیزات شامل دي.

**د ۶۰۰۰۰ باب:**

**پانګه اچونه.**

ketabton.com - The Digital Library

**د ۷۰۰۰۰ باب:**

په دغه برخه کې، مرستې، بسپنه (مساعدتونه)، اعانې او تقاعد شامل دي.

**د ۸۰۰۰۰ باب:**

دغه برخه، د پورونو ورکړه ، پانګه او تکتانه په بر کې نیسي.

**د دولت د عوایدو تصنیف:**

- مستقیم مالیات (اساسي کوډ) ۰۱۰۰۰.
- د انفرادي اشخاصو پر عایداتو مالیات (نوی فرعي کوډ) ۰۱۱۰۰.
- د خصوصي سکتور د قانوني فعالیتونو د ګټې او عوایدو مالیات (نوی فرعي کوډ) ۰۱۲۰۰.
- پر دولتي سکتورونو غیر مستقیم حقوق او مالیات (نوی فرعي کوډ) ۰۲۳۰۰.
- د دولتي شتمنیو او خدمتونو د خرڅلاو له درکه، نا خالص عواید (اساسي کوډ) ۰۳۰۰۰.
- د طبیعي سرچینو د خرڅلاو له درکه ناخالصه عواید (نوی فرعي کوډ ) ۰۳۲۰۰.
- د کرنیزو او حیواني محصولاتو له ناخالص خرڅلاو څخه عواید (نوی کوډ) ۰۳۳۰۰.
- د خدمتونو له درکه ناخالص عواید (نوی کوډ) ۰۳۴۰۰.
- د ضبط شوو شتمنیو او د دویم لاس د خرڅلاو عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۳۵۰۰.
- د جوازپاڼو او حق الزحمې عواید (نوي فرعي کوډ) ۰۴۰۰۰.
- د سندونو د خرڅلاو عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۳۶۰۰.
- د جوازپاڼې د خرڅلاو له درکه عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۴۱۰۰.
- د هغو قانوني خدمتونو عواید، چې د دولتي ادارو په وسیله حقوقي اشخاصو او شخصیتونو ته وړاندې کېږي ( نوی کوډ) ۰۴۲۰۰.
- د جریمې له درکه ترلاسه شوي عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۴۳۰۰.
- له دولتي ملکیتونو او پیسو څخه د ګټه اخیستنې له درکه ترلاسه شوي عواید (اساسي کوډ) ۰۵۰۰۰.
- په خصوصي سکتور کې د پانګه اچونې عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۵۱۰۰.
- د دولت د نامنقولو شتمنیو او کرایو عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۵۴۰۰.
- د منقولو شتمنیو له کرایې څخه ترلاسه شوي عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۵۵۰۰.
- د دولتي تصدیو عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۵۶۰۰.
- د حکومت او دولتي ادارو او تصدیو د ناچیزو ورکړو له درکه عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۵۸۰۰.
- د دولت له شتمنۍ او پانګې څخه د ګټه اخیستنې له درکه عواید (نوی فرعي کوډ) ۰۵۹۰۰.
- د مالیاتو بیلانس او متفرقه عواید (اساسي کوډ) ۰۶۰۰۰.

ketabton.com - The Digital Library

- د خصوصي سکتور، انفرادي اشخاصو او قانوني موسسو معاونت (نوی فرعي کوډ) ۰۶۱۰۰.
- له مساعدت او اضافي تادياتو څخه ترلاسه شوي عوايد (نوی فرعي کوډ) ۰۶۳۰۰.
- د وارداتو د محصول له بيلانس څخه عوايد (نوی فرعي کوډ) ۰۶۴۰۰.
- د تېرکال د عوايدو تعليل (نوی فرعي کوډ) ۰۶۸۰۰.
- واقعي متفرقه نور عوايد (نوی فرعي کوډ) ۰۶۹۰۰.
- د دولتي ملکيتونو، د ځمکې او ودانۍ د خرڅلاو او کرايې، د مالياتو او محصول او داسې نورو له درکه ترلاسه شوي عوايد (اساسي کوډ) ۰۷۰۰۰.
- له محصول او مالياتو څخه ترلاسه شوي عوايد ۰۷۱۰۰.
- د دوکانونو، نندارتونونو او تفريح ځايونو د غيرمنقولو کرايو له درکه عوايد ۰۷۵۰۰.
- د مرستو او معاونتونو عوايد ( نوی فرعي کوډ) ۰۷۶۰۰.
- د دولت د کارکوونکو د تقاعد (د دولتي ادارو او تاسيساتو د کارکوونکو د تقاعد د ونډې اساسي کوډ) د پيسو عوايد (نوی فرعي کوډ) ۰۸۰۰۰.
- د دولتي ادارو او تاسيساتو د کارکوونکو د تقاعد ونډه (نوی فرعي کوډ) ۰۸۱۰۰.

**د پيشکي تادياتو محاسبه:**

مخکني تاديات پلورونکو ته د مالونو او خدمتونو په بدل او د دولتي کارکوونکو نغدي پيشکۍ، چې د هغوی د معاش استحقاق د کسراتو له لارې بېرته ورکول کيږي، ترسره کيږي. دغه تاديات مصرف نه دی. مخکيني معمولي تاديات د ژمنتيا په وسيله احتوا کيږي. مخکيني تاديات او پيشکي، تر هغه مهاله، چې بدل مالونه او خدمتونه يې نه وي ترلاسه شوي، د حکومت د کال شتمنۍ دي.

مخکيني تاديات د غوښتنپاڼې او د پيسو د پيشکي ثبت يعنې د م ۱۰ فورم په ذريعه مطالعه او منظوريږي.

کله چې ياده غوښتنپاڼه منظوره شوه، د تاديې واک د ورکړې لپاره، د تاديې امر ترتيبيږي او ياد امر د تخصيصاتو له حوالې څخه د مصرف د دفتر په اړوند حساب يعنې د م ۲۰ فورمې په ۱۰ ستون کې ثبتيږي. د دغه ثبت تاثير د نه تصفيه شوي مخکينيو تادياتو د پيسو له تزييد څخه عبارت دي. مخکينۍ يا حمايوي ورکړه، پر تعهد شوو او ناتعهد شويو پاتې پيسو، اغېز نه لري؛ ځکه چې دغه پيسې د اړوند تعهد د سند د ثبت له امله اغېزمنه کيږي.

مخکنۍ ورکړل شوې پيسې د اړوند تعهد په سند کې درجيږي، ترڅو يادې پيسې په هغه وخت کې، چې ورکړه (تاديه) د مالونو او خدمتونو لپاره ترسره کيږي، موضوعي (وضع) شي. په

ketabton.com - The Digital Library

سیمه ییزو لویو او مرکزي لویو دفترونو کې د درجېدو په موخه د تادیې اوامرو توحید او په ورځنیو معاملو کې ثبتیږي.

د مخکینیو تادیاتو د درجېدو په موخه د ثبت لازمه په لاندې بڼه ده:

– مخکني تادیات او پیشکۍ) دې دبت شي.

– د ورکړې وړ سندونه دې کریدت شي.

کله چې له مخکینیو تادیاتو څخه محسوبې ترسره کیږي، د تادیې د امر له مخې، لګول شوې پیسې، چې په همدې وخت ترتیبیږي، درجېږي. کله چې د تادیاتو اوامر د تخصیصاتو له حوالې( م ۲۰ فورمې) څخه د لګښت په دفتر کې درجېږي، د تادیاتو مخکینۍ محسوبې شوې پیسې، یعنې محسوب شوي مخکیني تادیات په ۱۱ ستون کې ثبتیږي. که د ورکړې امر د وروستۍ ورکړې د پیسو کوم متضمن هم له پیسو سره په ۹ ستون کې یعنې وروستۍ ورکړه لیکل شوې وي، څرنګه چې له معمولو مخکینیو تادیاتو څخه د یوه تعهد د تصفیې متضمن دی، نو په دې اساس د م ۱۲ فورمې په ۲۷ ستون کې درج شوې پیسې یعنې د تعهد تصفیې پیسې به د م ۲۰ فورمې په ۱۳ ستون کې ثبت شي.

که چیرې مجموعي ورکړه (د وروستني ورکړې ترڅنګ مخکینۍ ورکړه) د تعهد تصفیې تر پیسې زیاته وي، په دې صورت کې، ناتعهد شوې پاتې پیسو ته، د زیاتو (اضافه) پیسو په اندازه تقلیل ورکول کیږي او که چیرې مجموعي ورکړه د تعهد تصفیې تر پیسو کمې وي، ناتعهد شوې پاتې پیسې، د زیاتو (تفاضل) پیسو په اندازه زیاتیږي.

مخکیني محسوبې شوي تادیات جمع او د ورځنیو او معاملو په توحید کې د ثبت په منظور، په سیمه ییزو او مرکزي لویو دفترونو کې درجېږي.

له مخکینیو تادیاتو څخه د محسوبې د درجولو لپاره، اړین ثبت داسې دی:

– لګښتونه دې دبت شي.

– مخکیني تادیات او پیشکۍ دې کریدت شي.

د معاش د پیشکیو محاسبه: کله چې یوه پیشکي منظوره شوه، حسابي څانګې باید د (م – ۱۱) متفرقه تعهداتو سند د معاش د پیشکي پیسو له بابت څخه ترتیب کړي، د (م – ۱۱) د پیسو سند په لاندې توګه باید ثبت شي:

– د (م – ۳۶) او(م – ۳۵) فورمې، په ۱۰ ستون کې (صادر شوي تعهدات).

– د (م – ۲۰) فورمې په ۱۲ ستون کې (ترسره شوي تعهدات).

– ۱۲ فورمه (د دغې پیشکي له بابته باید د ورکړې امر یا قرار یې باید ثبت شي.)

– د(م -۳۶) او (م – ۳۵)فورمې، په ۱ ستون کې (مخکینۍ ورکړه).

ketabton.com - The Digital Library

— د (م – ۲۰)فورمې په ۱۰ ستون کې (مخکینۍ ورکړه).

د م – ۱۱ فورمه يوازې په يوه کاپي کې ترتيبېږي او له م – ۱۰ سره، چې د معاش د پيشکۍ لپاره ترتيبېږي، ضميمه کيږي. دغه پيشکي څرنګه چې له مياشتني معاش څخه وضع کيږي، بايد په م – ۱۰ کې معامله شي، ترڅو د هغو پيسو اعاده او ميزان، چې نه وي ورکړل شوې (نه وي تاديه شوي)، منعکس کړي او هيڅ يو ثبت په م – ۱۱ کې ضروري نه دي؛ کله چې م – ۱۶ په م – ۳۵ او م – ۲۰ کې معامله شي، د (۱۲) ستون ثبت شوې پيسې (پيشکي محسوبيږي). م – ۳۶ او د م – ۲۲، ۱۱ ستون، د م – ۳۶ په ۱۱ ستون (تصفيه شوي تعهداتو) او د م – ۲۰، په ۱۳ ستون کې ثبتېږي، د م – ۳۶ د ستونونو مجموع، په م – ۳۵ او د م – ۱۷ په لوی (کبير) دفتر کې معامله کيږي.

**د معاش له کسراتو څخه د پيشکۍ اعاده:**

کله چې پيشکي د معاش د کسراتو له لارې اعاده کيږي، د کسراتو مبلغ به، د م – ۱۴ پر مخ، يعنې د معاش استحقاق د ۱۵ يعنې کسراتو په لاندې برخه کې وښودل شي. کله چې م – ۱۶ يعنې د ورکړې يا تادياتو جدول کې جوړيږي، د معاش د استحقاق وېشنه په لاندې توګه ترتيبېږي:

— د عنوان خصوصي ګڼه.
— د رتبوي چوکاټ په دننه کې د مامورينو او مستخدمينو اصل معاش.
— د اصلي معاشونو مجموع.
— د پيشکۍ پر بنسټ د کسراتو منفي.

تر دغو عملياتو وروسته د اصلي معاش وروستۍ ورکړه او د کارکوونکو د استحقاق نور توکي (اجزا) له خصوصي نمرې او اړوندو حسابونو سره په ليست کې درجيږي.

**په نغدي بڼه د پيشکۍ اعاده:**

(دغه موضوع به ډېره کمه رامينځته شي) کله چې د پيشکيو اعاده په نغد ډول يا د چک په ورکولو د کارکوونکو له خوا ترسره کيږي، اعاده شوې پيسې تحصيلدار ته ورکول کيږي او تحصيلدار ترلاسه شوې پيسې به د عوايدو په ۸۳۰ خصوصي نمبر حساب يعنې د پيشکيو په نغده اعاده کې ثبت کړي.

تر دې وروسته، د ژورنال سند د هغو ثبتونو د معکوسولو په منظور ترتيبېږي، چې د پيشکيو د ورکولو په وخت کې ترسره شوې وې.

په م – ۲۰ کې يعنې د تخصيصاتو له حوالې څخه د لګښت دفتر اعاده شوې پيسې، بايد د يوه منفي قلم په توګه په ۱۰ ستون کې درج شي؛ په نورو ستونونو کې به کوم بدلون رامنځ ته نه شي.

ketabton.com - The Digital Library

د ژورنال سند باید د سیمه ییز لوی دفتر ثبت د معکوسولو په منظور هم وکارول شي او یوه کاپي یې د محاسباتو ریاست ته په همدې منظور ولیږل شي.

- لاندې برخه به د همداسې یو ژورنال د سند د ترتیبولو بڼه توضیح کړي، چې د دبت او کریدت ترشحات د ورکړل شوي معاش د پیشکۍ د پاتې پیسو د اعادې په منظور به (نوم – ګڼه – ماموریت او داسې نور) په م – ۲۰ کې د یوه منفي قلم په توګه په ۱۰ ستون کې ثبت شي.

د حساب نمبر د محلي لوی دفتر ثبتونه، د پیسو د جاري مدرکونو د نمبر حساب، د تېرو کلونو د لګښتونو د نامحسوب شویو پیشکیو پیسو د مخکینیو او پیشکیو تادیاتو د نمبر حساب، د تېرو کلونو د نامحسوب شویو پیشکیو په دفتر کې، د تېرو کلونو د اړوندو لګښتونو نامحسوب شوي پیشکۍ او د لوی دفتر د تېر کال د نامحسوب پیشکیو د ریزرف حساب ثبت او معامله یې په لاندې  توګه ده:

د تېرو کلونو د لګښتونو د محسوب شویو پیشکیو د ریزرف دبت، د جاري مدرک د۹۹۹ کریدت.

د کال په پای کې د لګښتونو محسوب شوي پیشکۍ، د لوی دفتر له حساب څخه د تېرو کلونو نامحسوب شویو پیشکیو د ریزرف دفتر ته، له لاندې معاملې سره سم لېږدول کیږي:

د تېرو کلونو د نامحسوب شویو پیشکیو د ریزرف دبت؛ د مخکینیو تادیاتو او د دغو محسوبې پیشکیو کریدت.

د تېرو کلونو لګښتونه د تېرو کلونو د نامحسوب شویو پیشکیو په دفتر کې ثبتیږي او په لوی دفتر کې لاندې معامله تر سره کیږي:

د تېرو کلونو د لګښت د نامحسوب شویو پیشکیو د محسوب دبت، د تېرو کلونو د لګښتونو، د نامحسوب شویو پیشکیو د ریزرف کریدت

د تېر کال د معاش د نا محسوب شویو پیشکیو محاسبه: په تېرو کلونو پورې اړوند د معاش نامحسوب پیشکۍ، د تېرو کلونو د نامحسوب شویو پیشکیو په دفتر او د تېرو کلونو د معاش د نامحسوب شویو پیشکیو حساب په لوی دفتر کې ثبتېږي، چې معامله یې په لاندې توګه ده:

د تېر کال معاش د نامحسوب شویو پیشکیو دبت؛ د مخکینیو تادیاتو او پیشکیو کریدت.

- د تېرکال د معاش د دغو پیشکیو محسوب د تېرو کلونو د نا محسوب شویو پیشکیو په دفتر کې ثبتیږي او په لوی دفتر کې لاندې معامله ترسره کیږي:
- د تېر کال د معاش د نامحسوب شویو پیشکیو کریدت.

**نوټ:** د تېرو کلونو د معاش د نامحسوب شویو پیشکیو د حساب په اړه د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، د دغې تعلیمات نامې د م – ۹۰ فورمې منضمې تشریح ته دې مراجعه وشي.

ketabton.com - The Digital Library

**د دویم څپرکي د مطالبو لنډیز**

د دولتي محاسبې د مدیریت د دندو لایحه:

- د عملیاتو لپاره د بودیجې ترتیب.
- د ب ۲۷، ب ۲، م ۱۶ او نورو فورمو ترتیب.
- د پلان د عملیاتي لګښتونو لپاره د تخصیص غوښتنه.
- د پلان د عملیاتي لګښتونو لپاره د پیشکۍ غوښتنه.
- له مالیې وزارت سره د حسابونو د تصفیې په اړه د محسوبې ترتیب.
- د ورځنیو تادیاتو لپاره د مالي سندونو برابرول.
- په اړوند دفترونو کې د مالي سندونو ثبتول.
- په هره میاشت کې د کارکوونکو د معاش ترتیب.
- د سفرېې لپاره د م ۱۳ فورمې ترتیب.
- د عملیاتي لګښتونو په اړه، اړوند رییس ته د رپوټ وړاندې کول.

**د یو وزارت مالي سیستم:**

د افغانستان اقتصاد په مرستو او مساعدتونو پورې متکي دی، نو په دې اساس ډېر ښه مالي سیستم هغه دی، چې پکې زیاتې پیسې مصرف شي.

په دې برخه کې یوازې د عملیاتي څانګې د پرمختیایي بودیجې لګښتونه په لنډه توګه تر څېړنې لاندې نیول کېږي. د وزارتونو مالي سیستم پر دوو برخو وېشل کېږي:

- د قرار دادونو څانګه.
- عملیاتي څانګه.

**عملیاتي څانګه لاندې لګښتونه په بر کې نیسي:**

**الف**- د معاشونو ورکړه.

**ب**- د سفرېې ورکړه.

**ج**- د موبایل کارت پېرېدنه.

څرنګه کولی شو، د عملیاتي لګښتونو لپاره تخصیص ترلاسه کړو او کوم شیان اړین دي، چې د تخصیص په آخر کې ضمیمه شي:

- د ب ۲۷ فورم ترتیب.
- د ب ۲ فورم ترتیب.
- د اټکل شوو لګښتونو لپاره د یو لنډ او خلص رپوټ ترتیب.

ketabton.com - The Digital Library

- د ماليې وزارت د بوديجې محترم رياست لپاره مکتوب.

**مالي راکړه ورکړه څرنګه په دفترونو کې درجیږي:**

مالي څانګه، د دفترداری له اساساتو څخه ده، خو تر دې مخکې، چې يوه معامله په دفترونو کې درج شي، بايد د يوه سند پرمخ په رسمي بڼه وليکل شي، چې دغه سند د ووچر (سند) په نامه يادېږي. په ووچر کې يوه مالي معامله په لنډه توګه ثبتېږي.

هغه دفترونه، چې د عملياتي لګښتونو لپاره په وزارتونو کې ساتل کیږي:

- نغدي کتاب.
- د ترلاسه کېدو وړ پيسو کتاب.
- د ورکړې وړ پيسو کتاب.
- د حسابونو ټوليز کتاب.
- د جنسونو د ثبت کتاب.

**د دولت د عوايدو تصنيف:**

مستقيم ماليات.

د انفرادي اشخاصو پر عايداتو ماليات.

د حقوقي خصوصي سکتور د قانوني فعاليتونو د عوايدو او ګټو ماليات او پر دولتي سکتورونو غيرمستقيم ماليات.

- د دولتي شتمنيو او خدمتونو د خرڅلاو له درکه، نا خالص عوايد.
- د طبيعي سرچينو د خرڅلاو له درکه ناخالص عوايد.
- د کرنيزو او حيواني محصولاتو له ناخالص خرڅلاو څخه عوايد.
- د خدمتونو له درکه ناخالص عوايد.
- د ضبط شوو شتمنيو او د دويم لاس د خرڅلاو عوايد.
- د جوازپاڼو او حق الزحمې عوايد.
- د سندونو د خرڅلاو عوايد.
- د جوازپاڼې د خرڅلاو له درکه عوايد.
- د هغو قانوني خدمتونو عوايد، چې د دولتي ادارو په وسيله حقوقي اشخاصو او شخصيتونو ته وړاندې کېږي.
- د جريمې له درکه ترلاسه شوي عوايد.
- له دولتي ملکيتونو او پيسو څخه د ګټې اخيستنې له درکه ترلاسه شوي عوايد.

ketabton.com - The Digital Library

- په خصوصي سکتور کې د پانګه اچونې عواید.
- د دولت د نامنقولو شتمنیو او کرایو عواید.
- د منقولو شتمنیو له کرایې څخه ترلاسه شوي عواید.
- د دولتي تصدیو عواید.
- د حکومت او دولتي ادارو او تصدیو د ناچیزو ورکړو له درکه عواید.
- د دولت له شتمنۍ او پانګې څخه د ګټې اخیستنې له درکه عواید.
- د مالیاتو بیلانس او متفرقه عواید.
- د خصوصي سکتور، انفرادي اشخاصو او قانوني موسسو معاونت.
- له مساعدت او اضافي تادیاتو څخه ترلاسه شوي عواید.
- د وارداتو د محصول له بیلانس څخه عواید.
- د تیرکال د عوایدو تعلیل.
- واقعي متفرقه نور عواید.
- د دولتي ملکیتونو، د ځمکې او ودانۍ د خرڅلاو او کرایې د مالیاتو او محصول او داسې نورو له درکه ترلاسه شوي عواید.
- له محصول او مالیاتو څخه ترلاسه شوي عواید.
- د دوکانونو، نندارتونونو او تفریح ځایونو د غیرمنقولو کرایو له درکه عواید.
- د مرستو او معاونتونو عواید.
- د دولت د کارکوونکو د تقاعد (د دولتي ادارو او تاسیساتو د کارکوونکو د تقاعد د ونډې اساسي کوډ) د پیسو عواید.
- د دولتي ادارو او تاسیساتو د کارکوونکو د تقاعد ونډه.

**د پیشکي تادیاتو محاسبه:**

مخکني تادیات پلورونکو ته د مالونو او خدمتونو په بدل او د دولتي کارکوونکو نغدي پیشکۍ، چې د هغوی د معاش استحقاق د کسراتو له لارې بېرته ورکول کیږي، ترسره کیږي. دغه تادیات مصرف نه دی. مخکیني معمولي تادیات د ژمنتیا په وسیله احتوا کیږي. مخکیني تادیات او پیشکي، تر هغه مهاله، چې بدل مالونه او خدمتونه یې نه وي ترلاسه شوي، د حکومت د کال شتمنۍ دہ.

مخکیني تادیات د غوښتنپاڼې او د پیسو د پیشکي ثبت یعنې د م ۱۰ فورم په ذریعه مطالعه او منظوریږي.

کله چې یوه پیشکي منظوره شوه، حسابي څانګې باید د (م – ۱۱) متفرقه تعهداتو سند د

ketabton.com - The Digital Library

معاش د پیشکي پیسو له بابت څخه ترتیب کړي، د (م – ۱۱) د پیسو سند په لاندې توګه باید ثبت شي:

- د (م – ۳۶) او(م – ۳۵) فورمې، په ۱۰ ستون کې (صادر شوي تعهدات).
- د (م – ۲۰) فورمې په ۱۲ ستون کې (ترسره شوي تعهدات).
- ۱۲ فورمه (د دغې پیشکي له بابته باید د ورکړې امر یا قرار یې باید ثبت شي.)
- د(م -۳۶) او (م – ۳۵)فورمې، په ۱ ستون کې (مخکینۍ ورکړه).
- د (م – ۲۰)فورمې په ۱۰ ستون کې (مخکینۍ ورکړه).

د م – ۱۱ فورمه یوازې په یوه کاپي کې ترتیبیږي او له م – ۱۰ سره، چې د معاش د پیشکۍ لپاره ترتیبیږي، ضمیمه کیږي.

**د معاش له کسراتو څخه د پیشکۍ اعاده:**

کله چې پیشکي د معاش د کسراتو له لارې اعاده کیږي، د کسراتو مبلغ به، د م – ۱۴ پر مخ، یعنې د معاش استحقاق د ۱۵ یعنې کسراتو په لاندې برخه کې وښودل شي. کله چې م – ۱۶ یعنې د ورکړې یا تادیاتو جدول جوړیږي.

**په نغدي بڼه د پیشکۍ اعاده:**

(دغه موضوع به ډېره کمه رامینځته شي) کله چې د پیشکیو اعاده په نغد ډول یا د چک په ورکولو د کارکوونکو له خوا ترسره کیږي، اعاده شوې پیسې تحصیلدار ته ورکول کیږي او تحصیلدار ترلاسه شوې پیسې به د عوایدو په ۸۳۰ خصوصي نمبر حساب یعنې د پیشکیو په نغده اعاده کې ثبت کړي.

په تیرو کلونو پورې اړوند د معاش نامحسوب پیشکۍ، د تیرو کلونو د نامحسوب شویو پیشکیو په دفتر او د تېرو کلونو د معاش د نامحسوب شویو پیشکیو حساب په لوی دفتر کې ثبتېږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د دويم څپرکي پوښتنې:

۱. د دولتي محاسبې مديريت د دندو لايحه په بشپړه توګه توضيح کړئ؟
۲. د يو وزارت د مالي سيستم په اړه معلومات ورکړئ؟
۳. عملياتي څانګه کوم ډول لګښتونه په بر کې لري، نوم يې واخلئ؟
٤. څرنګه کولای شو د عملياتي لګښتونو لپاره تخصيص ترلاسه کړو؟
۵. د معاش له کسراتو څخه د پيشکي اعاده څرنګه ترسره کيږي؟
٦. په نغده توګه د پيشکي اعاده توضيح کړئ؟
۷. د پيشکي تادياتو محاسبه څه شی دی، معلومات ورکړئ؟
۸. د هغو دفترونو نومونه واخلئ، چې د عملياتي لګښتونو لپاره په وزارتونو کې يې پلان جوړيږي؟
۹. د دولت د لګښتونو اقلام تصنيف کړئ؟
۱۰. د د ولت د عوايدو اقلام تصنيف کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library



## د دولتي محاسبې بنسټونه

**ټولیزه موخه:**
په دولتي مؤسسو کې د محاسبې د عملیاتو لپاره د وړتیا رامنځته کول.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلان د لاندې شیانو په اړه معلومات ترلاسه کړي:

- د دولتي محاسبې د بنسټونو په اړه معلومات.
- دولتي بودیجه او د دولتي بودیجې د قانوني پړاوونو تېرول.
- د بودیجې اطلاعیه او د صدور او تخصیصاتو پړاوونه یې.
- د ربع واره تخصیصاتو د اجرا کولو طرزالعمل.
- د بودیجوي فورمو ډولونه.
- عادي بودیجه.
- پرمختیایي بودجه.
- د دولتي پروګرامونو په اړه معلومات.
- د دولتي لګښتونو د تادیاتو اجرا کول.
- د معاشونو د تادیاتو اجرا کول.

**د دولتي محاسبې بنسټونه:**

څرنګه چې موږ د لوړو محاسباتو د بنسټونو په برخه کې ولوستل، محاسبه څه شی ده او د محاسبې د دندې، د روزنامچې د محاسبې دوران، دفتر یا لیجر، آزمایښتي بیلانس او نهایي

ketabton.com - The Digital Library

حسابونو، د حسابي سیستمونو ډولونو، د فورمول ځانګې او د محاسبې سیستم او داسې نورو په اړه مو معلومات ترلاسه کړل،

اوس په ډېره حوصله مندۍ پر هغه موضوع بحث کوو، چې د دولتي او شخصي موسسو هر کارکوونکی یې باید زده کړي. په دې برخه کې لومړی د عادي او پرمختیایي له پلوه د بودیجې (د تطبیق او د منظورۍ پړاوونه یې) په اړه لنډ معلومات وړاندې کیږي، په دویم پړاو کې د تادیاتو سیستم (د معاشونو او لګښتونو اجرا) تر څېړنې لاندې نیول کیږي او په پای کې د دولت د عوایدو او د ترلاسه کولو په اړه یې لنډ معلومات وړاندې کیږي.

**الف- د دولت بودیجه او د هغه د قانوني او تطبیقي پړاوونو تېرول:**

بودیجه یو سند دی، چې په معمول ډول د یوه کال لپاره وي. په بودیجه کې د عادي او پرمختیایي لګښتونو او د پرمختیایي پروګرامونو په ګډون د دولت د عوایدو او لګښتونو ټول مدرکونه وړاند وینه کیږي. د بودیجې جوړونې پروسه د وزارتونو او مستقلو ریاستونو له لومړني واحد څخه پیلېږي او ورپسې د مالیې وزارت د بیلو واحدونو تر منځ تر بحث او مناقشې لاندې راځي. د مالیې وزارت د بودیجې له لارې، واحدونه تحلیل او وروسته توحیدېږي او ورپسې وزارت مجلس ته یې وړاندې کوي. که چیرې ملي شورا موجوده وي، حکومتي تصویب شوې بودیجه د ملي شورا له خوا تر غور او تحلیل وروسته په نهایي بڼه منظورېږي.

**د بودیجې اطلاعیه او د هغې د تخصیصاتو د صادرولو پړاوونه:**

منظور شوې بودیجه، بودیجوي واحدونو ته د مالیې وزارت له خوا د 3- B فورمې په وسیله ابلاغیږي او مهم ټکي یې د راډیو تلویزیون له لارې عامه وګړو ته اعلانېږي.

بودیجوي واحدونه د منظورشوې بودیجې جزییات د څلورو ربعو پر بنسټ، د مرکز او ولایتونو ترمنځ تفکیکوي او د وروستیو اجرااتو په موخه خبر ورکوي. لومړني واحدونه د هرې ربعې تخصیصات د مالیې وزارت له مرکز څخه د B-27 فورمې له لارې (د تخصیصاتو غوښتنه) ترتیبوي او د مالیې تر منظوریو وروسته، دویم واحدونو ته د تخصیصاتو اندازه یې د هر باب له مصارفاتي تفریق سره یو ځای ابلاغوي.

(ضمیمه جدول، د هر باب او فصل د کوډ له مخې د لګښتونو عنوانونه ښیي.)

ketabton.com - The Digital Library

**د ربع وارو تخصیصاتو د اجرا کولو طرزالعمل:**

که څه هم د هرې ربعې تخصیصات ۲۵٪ منظور شوې بودجه افاده کوي، خو په عمل کې د هرې ربعې د تخصیصاتو اجرا کول په اتومات ډول سره ۲۵٪ نه ده، بلکې د تیرې ربعې د هغو حقیقي لګښتونو او تخصیصاتو او تعدیلونو د موجودیت له مخې وي، چې د دولت د بودیجې په سرجمع کې او یا د هماغه بودیجوي واحد په بودیجه کې ترسره شوي وي.

**په یوه بودیجه کې تعدیلونه لاندې مادو ته په پام ترسره کیدای شي:**

- د بودیجې په جوړولو او ترکیب کې د سم سنجش نشتوالی.
- د دولت په بودیجه کې عمومي بدلون (تغییرات).
- په بودیجه کې تنقیص او یا تزیید.
- نوی پرو ګرام یا نوی تشکیل، چې مخکې یې وړاندوینه نه وې شوې.

د ربع وارو تخصیصاتو غوښتنه د ۲۷ –B فورمې له مخې ترسره کیږي، چې له تعدیلونو سره یوځای د منظورۍ اصل پکې درجېږي او د لګښتونو راپور هم پکې وړاندې کیږي، چې د مالیې وزارت د بودیجې ریاست د یادو معلوماتو له مخې تجویزیږي او دا مسله پکې جوتېږي، چې د لګښتونو ابواب، څومره تخصیص یادې ربعې ته اجرأ کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د افغانستان اسلامي جمهوري رياست**

**د ماليې وزارت**

**د ۱۳۸۸ مالي کال د تخصيصاتو جدول**

فورمه: ۲۷ وراندې کوونکې نمايندګي

ترکيب شوې: لومړنی واحد

منظور شوې: دويم واحد

| د بابونو تصنيف | کلنی اصلي منظوري | د تزييد او تنقيص تعديلونه | تر تعديل وروسته ميزان | تر دې نيټې پورې صادر شوي تخصيصات | د لګښت د معلوماتو راپور | د حواله شوو تخصيصاتو پاتې | د ( ) ربع غوښتنه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1000 | | | | | | | | |
| 2000 | | | | | | | | |
| 3000 | | | | | | | | |
| 4000 | | | | | | | | |
| 5000 | | | | | | | | |
| 6000 | | | | | | | | |
| 7000 | | | | | | | | |
| 8000 | | | | | | | | |
| 9000 | | | | | | | | |

مجموعه:

د مدير لاسليک　　　د رييس لاسليک　　　د تحليل امر لاسليک

د رييس لاسليک　　　د دفتردار آمر لاسليک

ketabton.com - The Digital Library

**د بودیجې د تطبیق او عملي کولو پړاوونه:**

څانګې یا دواير د مالیې وزارت د بودیجې ریاست تر تجویز وروسته، خپله بودیجه په کتاب یا د منظور شوو تخصیصاتو په دفتر کې درجوي او بیا د ولایت مرکز ته د منظور شوو تخصیصاتو د اندازې په اړه خبر ورکوي، ترڅو له هغې سره سم د خپلو تادیاتو او لګښتونو پړاوونه عملي او د ۱۶- ۸ فورمې (د تادیاتو د امر جدول) ترتیب کړي. د پړاونو تر تېرولو وروسته یې د کنټرول په ګډون د مالیې وزارت د خزاینو ریاست ته د چک اخیستلو لپاره لیږي.

بودیجه: بودیجه د پرمختیایي او عادي لګښتونو د ټاکلو په موخه له سیستماتیک پلان څخه عبارت دی.

د افغانستان بودیجه د عادي بودیجې یو ترکیب دی.

**الف: د بودیجې اصول، ډولونه او فورمې:**

د بودیجې اصول:

الف- چمتو کول: د موجودو منابعو لپاره، د عامه پانګونې د پلانونو چمتو کول.

ب- د پیسو برابرول: د پرمختیایي بودیجې ډېره برخه د تحویل کوونکو په وسیله برابرېږي.

ج- تداوم: د پرمختیایي بودیجې د پروژو د عملیاتو او څارنې (مراقبت) پایلې باید په یاد کې ولرو.

د- اغېزمنتیا او ګټورتوب: آیا خصوصي سکتور به ښه خدمتونه وړاندې کړي، که د یوې پروژې د تطبیق لپاره غوره کړل شي.

هـ - جغرافیایي تساوي: له ملي پرمختیایي بودیجې څخه د هېواد د ټولو سیمو خلک ګټه اخلي.

د عادي بودیجې د فورمو ډولونه: عادي بودیجه د جاري چارو د ورکړې(تادیې) او د حکومت د اداري لپاره په کار اچول کیږي؛ لکه د ملکي مامورینو معاشونه، د سونډد توکو او داسې نورو لپاره، چې دغه بودیجه د افغانستان د داخلي عوایدو او د بهرنیو هېوادونو د بلاعوضو مرستو په وسیله تمویلیږي.

د زیاترو وزارتونو عادي بودیجه به د هغوی د تېر کال د لګښتونو په اندازه وساتل شي؛ په داسې حال کې، چې زیاتوالی به په لاندې بنسټیزو برخو کې ترسره شي:

د ښوونځیو د اړتیا وړ موادو او د ښوونکو د شمېر زیاتوالی، د روغتیا وزارت د ظرفیت پراختیا او ارتقاء، د هغو سرتیرو لپاره، چې د دفاع په وزارت کې د ملکي سازۍ په پروسه کې شامل نه دي، د ثابتو او موقتو پیسو برابرول.

د شهیدانو او معلولینو کورنیو ته د مرستو په ورکړې کې د ښه والي راوستل، په ملکي خدمتونو کې د اصلاحاتو د ترسره کولو په موخه، د هغو وزارتونو او موسسو د مامورینو په معاشونو کې زیاتوالی، چې تر اصلاحاتو لاندې دي، ترڅو په دې توګه د هغوی د وظیفوي کیفیت او تولید کچه لوړه شي.

د دولت د کارکوونکو لپاره د امتیازاتو ښه والی.

ketabton.com - The Digital Library

**د عادي بودیجې فورمې:**

**د افغانستان اسلامي جمهوري ریاست**

**د ۱۳۸۸ کال بودیجه**

(۲) فورمه

د مداومو فعالیتونو لپاره د وړاندیز شوې بودیجې لنډیز

د مستقله ادارې/ وزارت نوم:

کوډ:x

| | | د ۱۳۸۷ کال وړاندیز شوې بودیجه په زرو افغانیو | شمېرې په زرو افغانیو | |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | | | د ۱۳۸۸ کال لپاره اټکل شوې بودیجه | د ۱۳۸۹ کال لپاره اټکل شوې بودیجه |
| | د دولت د کارکوونکو د خدمتونو په وړاندې تادیات | | | |
| | اداري او خدماتي لګښتونه | | | |
| | مواد او لوازم | | | |
| 1000 | ساتنه او ثارنه (حفظ او مراقبت) او | | | |
| 2000 | ترمیمات | | | |
| 3000 | ځمکه، ودانۍ، تجهیزات، خرڅلاو او | | | |
| 4000 | ثاروي | | | |
| 5000 | مساعدت او سبسایدونه | | | |
| 6000 | مجموعه | | | |
| | کارکوونکي | | | |
| | اټکل شوي عواید | | | |

ketabton.com - The Digital Library

پراختیايي بودیجه: د دولت د ترټولو عاجلو اړتیاوو د پوره کېدو په موخه، پر لومړیتوب لرونکو پروژو، لکه: سړکونو، ښوونځیو او داسې نورو پانګونه، چې په ټولیزه توګه د دونر له خوا تمویلیږي.

پرمختیايي بودیجه په ټولیزه توګه پر دریو لاندینیو ستونونو، چې د یوې هوسا او مرفه ټولنې بنسټ جوړوي، ولاړه ده:

لومړی ستون: د انساني او ټولنیزې پانګې رامنځ ته کول.
دویم ستون: فزیکي او طبیعي پانګه.
درېیم ستون: د قانون او امنیت ونډه.

لومړی ستون: انساني او ټولنیزه پانګه: دغه ستون د انساني او ټولنیزې پانګې پر پرمختیا تمرکز لري؛ د روغتیا او پوهنې په برخو کې پانګونه دولت پر دې قادروي، چې ټولنې ته بنسټیز او ټولنیز خدمتونه وړاندې کړي. په دې توګه، موږ پر دې ډاډه کېږو، چې هېواد د کار له تعلیم یافته او روزل شوي ځواک څخه برخمن دی.

**۱،۱ پرو ګرام، د کډوالو او داخلي بېځایه شوو بېرته ستنېدل:**

هدف: له خپلې خوښې سره سم د افغان کډوالو او داخلي بېځایه شوو کسانو د بېرته ستنېدو او ځای په ځای کېدو بهیر پیاوړتیا، د بشري مرستو د مصونیت برابرول، او د پاتې داخلي بېځایه شویو کسانو د ستونزو د اوارۍ لپاره د حل لارو موندنه، همدارنګه د پناه ورکوونکو IOM لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري (UNHCR) له لارې د کډوالو د ځای پر ځای کېدو پروژې په دغه پروګرام کې شاملې دي.

هدف: د مړینې او معیوبیت د کچې راټیټول، په ځانګړې توګه دښځو او ماشومانو د مینځ روغتیايي خدمتونو د پراختیا له لارې، د ښځو او ماشومانو ترمنځ. په دغه پروګرام کې، په لومړي قدم کې روغتیايي او تغذیوي لومړیتوبونه د پام وړ ګرځوي. همدارنګه دغه پروګرام د کار کیفیت د لوړولو له لارې د اړینو خدمتونو وړاندې کول په بر کې نیسي.

په دغه پروګرام کې د واکسین، له سوء تغذیې سره مبارزه او د میندو او شیدو خوړونکو (ماشومانو) د مصونیت پروژې شاملې دي.

**۴-۱ پروګرام، د معیشت او ټولنیزه ساتنه:**

هدف: د یوې اغېزمنې او د ترلاسه کېدو وړ ټولنیزې تګلارې رامنځته کول، چې پکې د انساني

ketabton.com - The Digital Library

امنیت کچه لوړه او په ښار او کلیو کې د متداوم ژوند شونتیا تضمینه شي، ترڅو دغه بهیر، د بېوزلۍ او نیستۍ د ژر ختمېدو لامل شي. په دغه پروګرام کې د سړکونو جوړول، د څاګانو کیندنه او د اوبو د زیرمو د جوړولو پروژې شاملې دي.

**۱-۵ پروګرام، فرهنګ، خبري رسنۍ، مطبوعات او سپورت:**

**هدف:** په افغانستان کې د فرهنګي، مطبوعاتي او ورزشي بنسټونو بیا رغونې ته پاملرنه؛ د فرهنګي آثارو او مناظرو تحکیم او ساتنې، د کابل موزیم بیارغونه، د راډیو تلویزیون د تجهیز او د کابل استېډیوم د بیارغونې پروژې په دغه پروګرام کې شاملې دي.

دویم ستون: فزیکي او طبیعي پانګه: د دغه ستون پانګونه د کلیدي، اقتصادي او فزیکي جوړښتونو له اړخ څخه ترسره کېږي، ترڅو خصوصي سکتور قادر کړي، چې د برقي، مخابراتي شبکو، سړکونو او اوبو لګولو د پروژو په برخه کې پانګونه وکړي او په دې توګه د دولت په پرمختګ کې خپله ونډه سرته ورسوي.

**۱-۲ پروګرام، ترانسپورت:**

**هدف:** د ترانسپورتي اسانتیاوو د رامنځ ته کولو، د سړک پخولو، دتونلونو ترمیم، د بسونو برابرولو او د هوایي ډګر د نوي ترمینل د ودانولو په ګډون، د بنسټیزو جوړښتونو بیارغونه ده.

**۲-۲ پروګرام، کانونه، مخابرات او انرژي:**

**هدف:** د حیاتي او صنعتي خدمتونو بیارغونه او رامنځ ته کول؛ د خصوصي سکتور د پراختیا او هڅونې له لارې، د اقتصادي ودې رامنځ ته کول؛ د مخابراتو، کانونو او خصوصي سکتور په وسیله د استخدام د زمینو برابرول. هغه پروژې چې تراوسه تر دغه پروګرام لاندې پلي شوي، عبارت دي له: د انرژۍ تولید او برابرول، کانونه، انرژي او مخابرات.

**درېیم ستون: د قانون او امنیت ونډه:**

**هدف:** دغه ستون د پرمختللي خصوصي سکتور او حساب ورکوونکي عامه سکتور د رامنځ ته کېدو په موخه، د ادارو پیاوړی کول دی. موږ د داسې رقابتي خصوصي سکتور په لټه کې یو، چې د ودې زمینه برابره کړي او زموږ د خلکو لپاره د ټولنیزې هوساینې او حساب ورکوونکي عامه سکتور تضمینوونکی او د ارزښتونو وړاندې کوونکی وي.

ketabton.com - The Digital Library

**۳-۱ پروګرام، سوداګري او پانګونه:**

**هدف:** په افغانستان کې د داخلي او بهرني سوداګریز فعالیت او پانګونې د جلبولو لپاره، د یو سالم چاپیریال رامنځ ته کول او له هغه موقعیت څخه یې په ګټه اخیستنې سره، چې د منځني آسیا د هېوادونو له لارې نړیوال مارکیټونو ته د یوې ترانزیتي نقطې او ترانزیتي لارې پر سر پروت دی، د سوداګرۍ پراختیا ده. هغه پروژې، چې تراوسه پورې تر دغه پروګرام لاندې پلې شوي، عبارت دي له: د افغان پانګه اچوونکو د ملاتړ ټولنه، د تیلو د ذخیرې لپاره اسانتیاوې، چې باید ترمیم شي. د محروقاتي موادو ویشونکو ته د جوازپاڼې د ورکړې پروګرام او سوداګریز او ترانزیتي تړون لیکونه له یو شمیر ګاونډیو هېوادونو سره لاسلیک شوي دي.

**۲-۲ پروګرام، طبیعي منابع:**

**هدف:** د کرنې په برخه کې، د اوبو، ځنګلونو، د څړځایونو منابعو او خصوصي سکتور فعالیت د پرمختګ او ثابتې اغېزمنتیا د لوړاوي له لارې، په کلیو او بانډو کې د ژوند تقویت او د اقتصادي کچې لوړول.

**۳-۲ پروګرام، اقتصادي عامه اداره:**

**هدف:** د یوې عامه ادارې رامنځ ته کول، ترڅو وکولی شي، د موسسو په تاسیسولو سره ملي وحدت راژوندی او ټینګ کړي.

۳-۳ پروګرام، داخله:

**هدف:** ملي واکمنی ته د وفادارو او با دسپلینو امنیتي ځواکونو د پراختیا په وسیله، په ملي کچه د ثبات او داخلي امنیت ټینګول. هغه پروژې، چې تر دغه عنوان لاندې پلې شوې دي، عبارت دي له: ښوونیز پروګرامونه، د قضایي اصلاحاتو کمېسیون، د نابالغانو په برخه کې د عدالت، قضایي او اصلاحي اسانتیاوو رامنځ ته کول.

**۳-۴ پروګرام، عدالت:**

**هدف:** د داسې قضایي او عدالتي سیستم رامنځ ته کول، چې له نړیوالو قوانینو او معیارونو سره سمون وخوري. له حقوقي قوانینو څخه ملاتړ او د قوانینو او د سولې تامین ته د ټولو لاسرسی.

ketabton.com - The Digital Library

د پراختيايي بودجې فورمه:

**د افغانستان اسلامي جمهوري رياست**
**د ۱۳۸۸ کال بوديجه**

(۱) فورمه: د وزارت دندې او د فعاليتونو توضيح.
د وزارت يا دولتي ادارې نوم: معارف.
د ملي پرمختيا د پروګرام کاري چوکاټ.
د وزارت يا دولتي ادارې موخه: په هېواد کې د پوهې د کچې لوړول.
د وزارت يا ادارې موخه يا مرام، تامين..........
د موخې د ترسره کولو لپاره جاري فعاليتونه.

د لومړي فعاليت نوم د کتاب وېشنه
د فرعي فعاليتونو تشريح: د ښوونکي د روزنېزو کورسونو رامنځ ته کول.
په کوم شمېر به ګټور فعاليتونه ترسره شي؟

د دويم فعاليت نوم د ښوونځيو ودانول
د فرعي فعاليتونو تشريح: د ميز او څوکۍ ويشنه.
په کوم شمېر به ګټور فعاليتونه ترسره شي؟

د درېيم فعاليت نوم د فرعي فعاليتونو تشريح
په کوم شمېر به ګټور فعاليتونه ترسره شي؟
د لزوم په صورت کې نور فعاليتونه هم اضافه کړئ.
ب:- د دولتي تادياتو سيستم:
په دې بحث کې د پيشکيو په ګډون، د لګښتونو او معاشونو ورکړه يا تاديات شامل دي.

ketabton.com - The Digital Library

**د لګښتونو د ورکړې اجرا:**

جنسونه د ټاکلو حدودو په پام کې نیولو سره د دوایرو د اړتیاوو په موخه له لایحې سره سم پیرېدل کیږي او تر احکام وروسته، د جنس مشخصات د م – ۳ په فورمه (د خریدارۍ امر) کې ترتیبېږي؛ د پیشکۍ په صورت کې، د م – ۱۰ فورمه (د پیشکۍ غوښتنه) ترتیب تر مطالعې وروسته په نښه کیږي او لازم معلومات د دفتر دارۍ د څانګې له لارې ورکول کېږي او ورپسې د حواله جاتو، کنترول او محاسبې د څانګو له دفترونو خپل پړاوونه تېروي او بالاخره پیسې یې د م ۱۶ فورمې له لارې، له مالیې وزارت څخه غوښتل کیږي.

د یوه جنس د پېریدلو لپاره تر شلو زر افغانیو پورې یو کس او تر سلو زرو پورې دوه کسان او له سلو زرو تر پنځه سوه زرو ترمنځ درې تنه پلاوی ټاکل کېږي. که تر پنځه سوه زرو څخه زیات وي، قرارداد کیږي. د جنس د اړتیا د ډول او اندازې په پام کې نیولو سره، لومړي درجه امر ورکوونکي مقام ته وړاندیز او احکام اخیستل کیږي، وروسته د نرخ اخیستنې پلاوی نرخونه لومړی له دریو ځایونو څخه ترلاسه کوي او په لومړي پړاو کې دغه نرخ په ترجیحي توګه له دولتي تصدیو او شرکتونو څخه اخیستل کېږي.

په پرتلیزه فورمه کې د پلاوي شهرت او مرجع ذکر کیږي او د آمر کتنې ته وړاندې کېږي. وروسته د م- ۳ فورمه (دپېریدلو امر) ترتیبېږي او پکې د اړتیا وړ اقلامو مشخصات درجېږي او وروسته د م- ۱۰ فورمه (د پیشکۍ غوښتنه) جوړېږي، چې د کنترول او د حواله جاتو د څانګو په وسیله ترتیبېږي. وروسته د م- ۱۲ فورمه او ورپسې د م- ۱۶ فورمه ترتیب او د تادیاتو شعبې ته لیږل کیږي. په دې وروستیو کې م- ۱۲ او م- ۱۶ فورمې سره مدغمې شوې او یوازې م- ۱۶ نوې فورمه د اجرأ وړ ده. د دفتر دارۍ شعبه د تخصیصاتو د ترتیبولو په موخه، تخصیصات د باب او فصل پربنسټ په نښه (علامه ګذاري) کوي. درې لاندې فورمې معمولاً د جنسونو په پېرېدنه کې په لاندې ډول سره ترتیبېږي:

- د م- ۷ فورمه، د راپور د رسیداتو فورمه، چې د پیریدلو پرمهال ترې کار اخیستل کیږي او د خریداري شوي جنس د ترلاسه کولو پرمهال جوړیږي.
- د م- ۱۰ فورمه د لګښتونو د اجرا کولو پیشکي ښيي.
- د م- ۱۶ فورمه، چې د تادیاتو جدول او امر دی، د خریدارۍ له م- ۳ فورمو سره یوځای ترتیب او د خزاینو په ریاست کې د ورکړې (تادیې) امر یې ورکول کیږي؛ د خزاینو ریاست ټاکلی چک ترتیب او معتمد (نغدي خزانه دار) ته یې له بانک څخه د پیسو د ترلاسه کولو په موخه سپاری.

ketabton.com - The Digital Library

**د معاشونو د ورکړې (تادیاتو) اجرأ:**

- د کارکوونکي د مقررۍ پ۲ فورمه، چې د استخدام د څانګې له لارې اجرأ کېږي، د م- ۴۰ په دفتر (د معاش د استحقاق دفتر) کې درجېږي. د دغه دفتر له مخې، د م- ۴۱ فورمه په لاندې توګه جوړیږي.
- د اداري ریاست د مامورینو څانګه، د مامورینو د کار د حاضرۍ راپور، د حاضرۍ د کتاب له مخې ترتیبوي.
- د محاسبې څانګه د کار د راپور له مخې، د مامورینو معاش ترتیبوي، چې هغې ته م- ۴۱ فورمه وایي، د دغه راپور په یوه ستون کې د معاش استحقاق او په بل ستون کې یې کسرات درج او د ورکړې وړ پیسې واضح کیږي.
- د محاسبې څانګه د م- ۴۱ فورمه د حواله جاتو څانګې ته او له هغه ځای څخه د کنترولولو لپاره لیږي او ورپسې د م- ۱۶ فورمه ترتیبېږي.
- معتمد د م- ۱۶ فورمه د مالیې وزارت د خزاینو ریاست ته، د چک اخیستلو په موخه وړي او د چک تر ترلاسه کولو وروسته یادې پیسې له بانک څخه ترلاسه کوي، چې بیا یې پر مستحقینو وېشي.

**د لګښتونو، تخصیصاتو او تادیاتو د دفترونو لنډیز:**

- د م- ۳۸ دفتر (د تخصیصاتو له حوالې څخه کنترول) په لومړیو واحدونو (وزارتونو) کې سمبالېږي.
- د م- ۳۸ دفتر (د تخصیصاتو له حوالې څخه کنترول) مستوفیتونو (د ولایت مالي آمریت) ته تسلیم، بشپړ او ساتل کیږي او راپور یې د م- ۲۲ فورمې (د لګښتونو میاشتني راپور) له لارې د مالیې وزارت د محاسباتو ریاست ته لیږل کیږي، چې ترې م- ۴۱ قطعي راپور جوړیږي.

د م- ۲۰ دفتر (د تخصیصاتو د حوالې او لګښت دفتر) په لومړیو واحدونو کې سمبالېږي، چې پکې د تادیاتو ټولې حوالې مخکې له مخکې څخه په م- ۳ (د خریدارۍ د تعهداتو ستون) او م- ۱۶ کې درجیږي او راپور یې د تادیاتو د میاشتني راپور د م- ۲۳ له لارې د مالیې وزارت خزاینو ریاست ته لیږل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

**د مالیې وزارت**
**د خزاینو ریاست**

د م- ۲۳ فورمه د تادیاتو میاشتنی راپور:

| د تادیاتو آمریت1 | دګروپ نمبر 2 | مادہ3 | کال4 | د مخونو شمېره او د پاڼو تعداد 5 | د نمایندګۍ نوم 6 |
|---|---|---|---|---|---|
| حسابي کوډ د کوډ د تشریح نمبر | د میاشتې تخصیصات د تیرو جاري میاشتو مجموع | تنقیص | باقي | د تیرې مالیې د تادیاتو مجموع | د بیلانس د تخصیصاتو باقي |
| 8 7 | 11 =9+10 10 9 | 12 | 10 13 =12 | 16=14+15 15 14 | -13 17=16 |

18- تصدیق کیږي، چې ۱۹- دغه راپور د دې ادارې په اړوندو دفترونو کې تطبیق او د درج شویو مطالبو له صحت څخه تصدیق کوي.

راپور د دغو دفترونو له شعبې سره ................................. سمون خوري.
د محاسبې د آمر لاسلیک          د واک لرونکي آمر لاسلیک
د ورکړې (تادیې) آمر لاسلیک...........................

**نوټ:** B-20 ، چې دM-39 د حوالې ځایناستی شوی، په لومړیو واحدونو کې د M-38 په دفتر (له تخصیصاتو څخه د حوالې کنترول) او په مستوفیتونو او دویمو واحدونو کې د M-80 په دفتر کې درجېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**د افغانستان اسلامي جمهوري رياست**

**د ماليې وزارت**

**د بوديجې رياست**

**د ترلاس لاندې واحدونو تخصيصاتو د پش جدول**

د ب -۲۰فورمه                    وړاندې کوونکې نمایندګۍ.............

ورقه....... له........                    لومړنی واحد....................................

**ترتيب شوې په واسطه د:** د دويم واحد تر لاس لاندې واحدې بوديجې مسؤل....................

منظوري ................                    دریم واحد...............................

منظورشوې په واسطه د: د تر لاس لاندې واحد امر

نيټه............ مالي کال.................. د وړاندې کولو نيټه.........................

د تخصيصاتو ويشنه

| د عنوان باب | د منظورۍ مجموعي | لومړۍ ربع | | دويمه ربع | | دريمه ربع | | څلورمه ربع | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د غوښتنې ليسې يا مبلغ | قطعي منظور شوې ليسې | د غوښتنې ليسې يا مبلغ | موقتي منظور شوې ليسې | د غوښتنې ليسې يا مبلغ | قطعي منظور شوې ليسې | د غوښتنې ليسې يا مبلغ | قطعي منظور شوې ليسې |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| 1000 | معاش | 70000 | 25% | 25% | 25% | | | | |
| 2000 | | | | | | | | | |
| 3000 | | | | | | | | | |
| 4000 | ترميم | 80000 | 30% | 25% | 35% | 30% | | | |
| 5000 | | | | | | | | | |
| 6000 | | | | | | | | | |
| 7000 | | | | | | | | | |
| مجموع | | | | | | | | | |

ketabton.com - The Digital Library

**د پیشکیو اجراأت:**

د م- ۱۵ فورمه (د پیشکۍ فورمه) ده، چې پکې د پیشکي لګښتونه درجیږي او د کال په پای کې د م- ۹۰(مصارفاتي باقیاتو) په دفتر کې ثبتیږي.

پیشکي په لاندې ځایونو کې استعمالیدای شي.

- د معاشونو پیشکي.
- د لګښتونو پیشکي.

**الف:** سفریه ( د سفرخرڅ).

**ب:** د قراردادي لپاره د پیشکۍ پیسې.

پیشکي پیسې باید د خدمت او د موادو د پیرېدنې تر اجرا کېدو وروسته محاسبه شي، چې په هغه صورت کې د پیشکۍ د لګښتونو له حالت څخه، که چیرې د پیشکیو په پیسو کې یو څه پیسې پاتې وي، اعاده کیږي او د عوایدو د تعرفې په م- ۲۷ فورمه کې د دولت د وارداتو په حساب کې داخلیږي.

**د دولت عواید:**

د دولت عواید له داخلي او بهرنیو منابعو څخه جوړ شوي، چې په کلنۍ بودیجه کې سنجول کیږي او د دولت د مالي کارکوونکو له خوا راټول او د دولت د وارداتو بیل یوه انفرادي حساب ته لیږدول کیږي.

**الف: له داخلي سرچینو څخه عواید:**

داخلي سرچینې له مستقیمو مالیاتو، غیر مستقیمو مالیاتو، د دولتي شیانو او خدمتونو څخه له ګټې اخیستنې، د دولت د مالونو او خدمتونو له پلورلو، له دولتي تصدیو، د جرمونو له فیس او د تېرو کلونو له مالیاتي باقیاتو څخه مرکب دي. غیرمستقیم مالیات زیاتره ګمرکي محصولات جوړوي، چې اوس تر 70 فیصدو زیات د دولت داخلي منابع په بر کې نیسي. د مالیاتو ترلاسه کول، د بودیجې د تمویل او د بېلابېلو طبقاتو د عوایدو د سویې د توپیرونو تنقیص په منظور دي. مالیات باید په عادلانه او مناسبه توګه ورکړل شي، چې د عوایدو په بېلابېلو طبقاتو باندې ایښودل کیږي.

پر عمده عایداتو مستقیم مالیات په لاندې توګه دي.

- انفرادي مالیات.
- د شرکتونو مالیات.
- د ځمکو او څارویو مالیات.
- پر عایداتو نور مالیات.

ketabton.com - The Digital Library

عمده غير مستقيم ماليات هغه دي، چې زياتره له سوداګرو او اشخاصو څخه د ګمرک له قانون او مقررو سره سم اخيستل کېږي.

- د وارداتو ګمرکي محصول.
- د صادراتو ګمرکي محصول، چې په تدريج سره له منځه ځي.
- نور ګمرکي محصولات.

**تحصيلدار**

تحصيلدار هغه څوک دی، چې د مستوفيت له لارې د عوايدو، باقياتو، د جرايمو محصول او نورو عوايدو د راټولولو په موخه مؤظف شوی دی؛ يا تحصيلدار هغه څوک دی، چې د نغدي تضمين پر وړاندې يا هغه جايداد، چې ملکيت يې کېږي، د هغه د ټاکلي قيمت له مخې د هغه ضمانت ثابت او په محکمه کې شرعي وثيقه کېږي.

**د تحصيلدار دندې:**

- د ټولو عوايدو راټولونه.
- بانک ته د عوايدو د ډيپوزنت ليږدول او د رسيد اخيستل.
- د تعرفې سند جوړول او له بانک څخه د آويز ترلاسه کول.
- د م- ۲۵ فورمو جوړول (د عوايدو تحصيلي فورمه).
- د م- ۲۷ فورمې (د عوايدو تحويلي فورمې) د ترتيبولو په موخه، چې د م- ۲۵ فورمې له مجموع څخه جوړې شوې، د وارداتو آمر ته د م- ۲۵ ټولو فورمو وړاندې کول.

د وارداتو د آمر دندې:

- د م- ۲۵ او م- ۴۴ فورمو له مخې په درې کاپيو کې د م- ۲۷ فورمې ترتيب.
- پر دې ډاډه شي، چې د م- ۲۵ ټولې فورمې د م- ۴۴ له دفتر څخه جوړې او تطبيق شوې دي.
- له تحصيلدار څخه د م- ۲۰ ترلاسه کول.
- د م- ۲۹ فورمه دې د م- ۴۴ له مخې او د م- ۲۷ د تطبيق پربنسټ واضح شي، چې په بانک کې تحصيل شوې پيسې بايد د حساب په بڼه د مياشتې په پای کې تطبيق شوې وي.

ketabton.com - The Digital Library

**د ماليې وزارت**

**د بوديجې رياست**

**(................ د ادارې نوم................د کوډ نمبر)**

**د م- ۲۹ فورمه (د عوايدو د تحصيلاتو را پور)      مياشت (   ) ۱۳۸۸کال**

| دکوډ نمبر | د کوډ تشريح | عوايد | | مجموع |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 2 | روانه مياشت/ | تيرې مياشتې | 5 =3+4 |
| 35 | ننگرهار | 3 | 4 | 95 |
| | | 70 | 20 | |
| **د تحصيلاتو مجموع** | | | | |

له خزانه دار سره تطبيق شو            د ترتيبوونکي لاسليک

د تحصيلي عوايدو آمر

د ادارې لومړى درجه آمر

ketabton.com - The Digital Library

**ب: د بهرنیو منابعو عواید:**

بهرنۍ منابع د مرسته کوونکو هېوادونو، نړیوالو موسسو او نورو بهرنیو منابعو له بهرنیو مرستو څخه مرکب دي، چې د پرمختیایي بودیجې د تمویل په غرض او یوه برخه یې د عادي بودیجې په ترتیب کې کارول کېږي. دغه مرستې د پرمختیایي بودیجې د تمویل او یا د استهلاک وړ مرستو په موخه ترسره کیږي .

**د وزارتونو او مرکزي خزاینو د جنسونو او خدمتونو د لګښتونو طرزالعمل**

**د مرکزي خزاینو جنسونه او خدمتونه:** تشریح شوی طرزالعمل په متداوم چارټ کې، په وزارتونو کې پر پروسیجرونو ټینګار کوي او مرکزي خزاینو ته د تفصیلاتو نظریات د وېشونکو لپاره د جنسونو د لګښتونو د طرزالعمل او پیشکۍ د خدمتونو په اړه، په یو بل متداوم چارټ کې د مرکزي خزاینو د طرزالعمل په اړه په سندونو کې درجېږي. همدارنګه د تخصیصاتو ریکارډونه (د Userڅو په ذریعه) او د تخصیصاتو مصرفول به دلته تر هغه مهاله، چې تخصیصات د بودیجې ریاست له خوا د ۱۳۸۸ کال له وجې څخه نه وي کمپیوټر شوي، تر بحث لاندې و نه نیول شي او پوست شوي ریکاردونه، د تخصیصاتو څو لاسي او د مصرف کوونکو نمایندګیو تخصیص به د افغانستان د مالي اطلاعاتو اداري سیستم له خوا له راپورونو سره تعویض شي.

په وزارتونو کې مفصل پروسیجرونه امکان لري، تر یوې محدودې اندازې پورې وي، له همدې امله دي، چې یوازې هغه لویې فورمې، چې د وزارتونو لپاره استعمالیږي، په دغه متداوم چارټ کې شتون لري.

کله چې په fs9 فورمه کې د چمتو شوو جنسونو او خدمتونو د پېرېدلو لپاره اړتیا بشپړه شوه، د جنسونو او خدمتونو د دیپارټمنت د تصدیق برخې ته وړاندې کیږي، یوځل چې د یادې فورمې له سوالي څخه تصدیق وشي، د خدمتونو او جنسونو دیپارټمنت د خریدارۍ څانګه د جګړې درې ډوله پانې (پرتلیزه نرخپانې) ترلاسه کوي، چې د پېرېدنې پیسې یې تر ۵۰۰۰۰۰ افغانیو وا نه اوړي. باید یادونه وکړو، چې تر ۵۰۰۰۰۰ افغانیو لوړې پېرېدنې د جمهور رییس تر منظورۍ وروسته باید مزایدې ته وړاندې شي. د جنسونو پېرېدنه که تر ۲۰۰۰۰ افغانیو پورې وي، د ادارې د رییس په منظورۍ، تر۳۰۰۰۰۰ افغانیو د مرستیال یا معین په منظورۍ او تر ۵۰۰۰۰۰ افغانیو پورې د وزیر صاحبانو په منظورۍ د منلو وړ دي.

د م- ۳ د پېرېدنې امر د جنسونو او خدمتونو د دیپارټمنت په ذریعه بشپړ او لکه څرنګه چې مو مخکې ترې یادونه وکړه، چمتو کیږي. د محاسباتو ریاست باید تصدیق او تایید کړي، چې د اړتیا وړ او مناسبه اندازه پیسې مصرف کوونکي واحد ته ورکړل شي، تر څو یاد واحد خپل د اړتیا وړ پېرېدنه پرې ترسره کړي. م- ۱۰ د اړتیا پرمهال، چې د خزاینو د وړاندې ورکړې (پیش پرداخت) تر پالیسۍ لاندې راځي، د ورکړې (تادیې) له سندونو سره یوځای باید بشپړه شي او م- ۱۶ په محاسباتو کې بشپړېږي او معتمدینو ته ورکول کیږي، ترڅو خزاینو ته یې وړاندې کړي.


مرکزي خزاین د ورکړې (تادیه) سندونه د لګښتونو د پروسیجرونو د تحصیلاتو او د اکمال

ketabton.com - The Digital Library

کوونکو لپاره د وړاندې ورکړې له مخې، تر کاري بهیر لاندې راولي.

د معتمد لپاره چک د خزاینو په وسیله ورکول کیږي او نغدي معتمد دغه چک له ورکړل شوو سندونو سره یو ځای وزارت ته تسلیموي.

**د وزارت جنسونه او خدمتونه**



ketabton.com - The Digital Library

**د حکومت د مالي راپورونو ګټه اخیستونکي:**

- د هېواد وګړي: چې پکې د عوایدو او لګښتونو منابع او مدرکونه وارزول شي او تحصیلات باید د لګښت له منظور شوې بودیجې سره پرتله شي.
- د قانون او تفتیش واک لرونکي، چې له مخې یې یاده مالي وضع وڅېړل شي او وکتل شي، چې لګښت له اړینو موازینو او مقررو سره سم ترسره شوی دی.
- کریدیتوران او کرایه لرونکي، چې په هغه کې د اوسنیو او راتلونکو منابعو له شتون څخه د تادیاتو د پورونو لپاره ګټه اخیستل کیږي.

**د حکومت مسئولیت او حساب ورکول:**

د وطنوالو او ښاریانو د مسئولیت اخیستل او د حساب ورکړه، د مالیاتو د راټولونې او نورو عوایدو او هغو لګښتونو تشریح ته اړتیا شته، چې پکې باید ټولو هېوادوالو ته دغه حقوقي زمینه برابره شي، چې هغوی پر دې پوه شي، د دولت عواید له کومو مدرکونو څخه راټول شوي او په کومو مدرکونو کې مصرفیږي.

**د هېوادوالو او وګړو لپاره اړین او د توقع وړ خدمتونه په لاندې توګه دي:**

- عامه ساتنه.
- د ښارونو او پلونو ساتنه او څارنه.
- ښوونه او روزنه.
- پارکونه او تفریح ځایونه.
- قضایي سیستم.
- د پورونو ورکړه (تادیات).
- دکانالیزاسیون او د څښلو د اوبو برابرول.

ketabton.com - The Digital Library

**د درېيم څپرکي د مطالبو لنډيز**

- د دولتي محاسبې بنسټونه: اوس په ډېره حوصله مندۍ پر هغه موضوع بحث کوو، چې د دولتي او شخصي موسسو هر کارکوونکی یې باید زده کړي. په دې برخه کې لومړی د عادي او پرمختیایي له پلوه د بودیجې (د تطبیق او د منظورۍ پړاوونه یې) په اړه لنډ معلومات وړاندې کیږي، په دویم پړاو کې د تادیاتو سیستم (د معاشونو او لګښتونو اجرا) تر څېړنې لاندې نیول کیږي او په پای کې د دولت د عوایدو او د ترلاسه کولو په اړه لنډ معلومات وړاندې کیږي.

الف- د دولت بودیجه او د هغه د قانوني او تطبیقي پړاوونو تېرول: بودیجه یو سند دی، چې په معمول ډول د یوه کال لپاره وي. په بودیجه کې د عادي او پرمختیایي لګښتونو او د پرمختیایي پروګرامونو په ګډون د دولت د عوایدو او لګښتونو ټول مدرکونه پیشبیني کیږي.
د بودیجې جوړونې پروسه د وزارتونو او مستقلو ریاستونو له لومړني واحد څخه پیلېږي او وروسته د مالیې وزارت د بیلو واحدونو تر منځ تر بحث او مناقشې لاندې راځي. د مالیې وزارت د بودیجې له لارې، واحدونه تحلیل او وروسته توحیدېږي او ورپسې وزارت مجلس ته یې وړاندې کوي او په پای کې د ملي شورا له خوا منظورېږي.
د بودجې اطلاعیه: منظور شوې بودیجه، بودیجوي واحدونو ته د مالیې وزارت له خوا د B -3 فورمې په وسیله ابلاغیږي او مهم ټکي یې د راډیو تلویزیون له لارې عامه وګړو ته اعلانېږي.
د ربع وارو تخصیصاتو د اجرا کولو طرزالعمل: که څه هم د هرې ربعې تخصیصات ۲۵٪ منظور شوې بودجه افاده کوي، خو په عمل کې د هرې ربعې د تخصیصاتو اجرا کول په اتومات ډول سره ۲۵٪ نه ده، بلکې د تیرې ربعې د حقیقي لګښتونو او تخصیصاتو او تعدیلونو د موجودیت له مخې وي.

**په یوه بودیجه کې تعدیلونه لاندې مادو ته په پام ترسره کېدای شي:**

- د بودیجې په جوړولو او ترکیب کې د سم سنجش نشتوالی.
- د دولت په بودیجه کې عمومي بدلون (تغییرات).
- په بودیجه کې تنقیص او یا تزیید.
- نوی پرو ګرام یا نوی تشکیل، چې مخکې یې وړاندوینه نه وې شوې.

**د بودیجې د تطبیق او عملي کولو پړاوونه:**

- څانګې یا دوایر د مالیې وزارت د بودیجې ریاست تر تجویز وروسته، خپله بودیجه په

ketabton.com - The Digital Library

کتاب یا د منظور شوو تخصیصاتو په دفتر کې درجوي او بیا د ولایت مرکز ته د منظور شوو تخصیصاتو د اندازې په اړه خبر ورکوي، ترڅو له هغې سره سم د خپلو تادیاتو او لګښتونو پړاوونه عملي او د ۱۶- ۸ فورمې (د تادیاتو د امر جدول) ترتیب کړي. د پړاوونو تر تېرولو وروسته یې د کنترول په ګډون د مالیې وزارت د خزاینو ریاست ته د چک اخیستلو لپاره لیږي.

**د بودیجې اصول:**

**الف-** د عامه پانګونې د پلانونو چمتو کول.

**ب-** د پیسو برابرول.

**ج-** د عملیاتو تداوم او پایلې یې.

د: د پروژې اغېزمنتیا او ګټورتوب.

**د بودیجې د فورمو ډولونه:**

(۲) فورمه د متداومو فعالیتونو لپاره د وړاندیز شوې عادي بودیجې لنډیز.

د پرمختیایي بودیجې فورمې ۱-۱ پروګرام، د داخلي کډوالو بیرته ستنېدل؛ ۲-۱ پروګرام، لګښتونه؛ ۳-۱ پروګرام، خواړه او روغتیا؛ ۴-۱ پروګرام، ټولنیز ژوند او محافظت؛ ۵-۱ پروګرام، فرهنګ؛ ۱-۲ پروګرام، ترانسپورت؛ ۲-۲ پروګرام، انرژۍ؛ ۲-۳ پروګرام، طبیعي منابع؛ ۱-۳ پروګرام، سوداګرۍ او پانګه اچونې؛ ۲-۳ پروګرام، د عامه اقتصادي ادارې؛ ۳-۲ پروګرام، داخلې؛ ۴-۳ پروګرام، عدالت.

د لګښتونو د ورکړې اجرا: جنسونه د ټاکلو حدودو په پام کې نیولو سره د دوایرو د اړتیاوو په موخه له لایحې سره سم پیرېدل کیږي او تر احکامو وروسته، د جنس مشخصات د م – ۳ په فورمه (د خریدارۍ امر) کې ترتیبیږي؛ د پیشکۍ په صورت کې، د م – ۱۰ فورمه (د پیشکۍ غوښتنه) ترتیب تر مطالعې وروسته په نښه کیږي او لازم معلومات د دفتر دارۍ د څانګې له لارې ورکول کیږي او ورپسې د حواله جاتو، کنترول او محاسبې د څانګو له دفترونو خپل پړاوونه تېروي او بالاخره پیسې یې د م ۱۶ فورمې له لارې، له مالیې وزارت څخه اخیستل کیږي.

د معاشونو د ورکړې اجرا:د کارکوونکي د مقررۍ پ۲ فورمه، چې د استخدام څانګې له لارې اجرأ کیږي، د م- ۴۰ په دفتر (د معاش د استحقاق دفتر) کې درجیږي. د دغه دفتر له مخې، د م- ۴۱ فورمه په لاندې توګه جوړیږي.

**د لګښتونو، تخصیصاتو او تادیاتو د دفترونو لنډیز:**

د م- ۳۸ دفتر په لومړیو واحدونو (وزارتونو) کې سمبالیږي.

ketabton.com - The Digital Library

د م- ۳۸ دفتر (د تخصیصاتو له حوالې څخه کنټرول) مستوفیتونو ته (د ولایت مالي آمریت) تسلیم، بشپړ او ساتل کیږي او راپور یې د م- ۲۲ فورمې (د لګښتونو میاشتني راپور) له لارې د مالیې وزارت د محاسباتو ریاست ته لیږل کیږي، چې ترې م- ۴۱ قطعي راپور جوړیږي.

د م- ۲۰ دفتر (د تخصیصاتو د حوالې او لګښت دفتر) په لومړیو واحدونو کې سمبالیږي، چې پکې د تادیاتو ټولې حوالې مخکې له مخکې څخه په م- ۳ (د خریدارۍ د تعهداتو ستون) او م- ۱۶ کې درجیږي او راپور یې د تادیاتو د میاشتني راپور د م- ۲۳ له لارې د مالیې وزارت د خزاینو ریاست ته لیږل کیږي.

د دولت عواید: د دولت عواید له داخلي او بهرنیو منابعو څخه جوړ شوي، چې په کلنۍ بودیجه کې سنجول کیږي او د دولت د مالي کارکوونکو له خوا راټول او د دولت د وارداتو بیل یوه انفرادي حساب ته لیږدول کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د درېیم څپرکي پوښتنې:

۱. د دولتي محاسبې د بنسټونو په اړه معلومات ورکړئ؟
۲. دولتي بودیجه څرنګه طی مراحل کیږي؟
۳. د بودیجې په اطلاعیه کې کوم مطالب اعلانیږي؟
۴. ربع واره تخصیصات د کوم طرزالعمل له مخې ترسره کیږي؟
۵. د کومو دلایلو پر بسنټ، په بودیجه کې تعدیلات ترسره کیږي؟
۶. د بودیجې د تطبیق او عملي کولو پړاوونه توضیح کړئ؟
۷. د بودیجې اصول تشریح کړئ؟
۸. د بودیجې د فورمو د ډولونو نمونه واخلئ؟
۹. د لګښتونو ورکړه(تادیات) څرنګه اجرأ کیږي؟
۱۰. په لنډه توګه د لګښتونو، تادیاتو او تخصیصاتو د دفترونو نمونه واخلئ؟
۱۱. د معاشونو د ورکړې(تادیاتو) اجرأ څرنګه ترسره کیږي؟
۱۲. پیشکي څرنګه اجرأ کیږي؟
۱۳. د دولت د عوایدو په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۴. د موجودۍ بڼې، چې په لویو موسسو کې په کار اچول کیږي، کومې دي؟
۱۵. دفتري غوښتنې(درخواستي) په کومو وختونو کې په کار اچول کیږي؟
۱۶. ولې د تحویلدارانو د موجودۍ دایمي کارتونه د اهمیت وړ او اړین دي؟
۱۷. ولې د خرڅلاو او د تحویلخانې د موادو د هر جنس لپاره یو اعظمي حد ټاکل کېږي؟
۱۸. ولې د تحویلخانې د هر جنس لپاره یو لږ(اقل) حد ټاکل کېږي؟
۱۹. د ګټې او تاوان یو صورت حساب څه شی دی؟
۲۰. د ګټې او تاوان د یو صورت حساب درې عمده برخې کومې دي؟
۲۱. د پلورل شوو مالونو قیمت څرنګه محاسبه کیږي؟

ketabton.com - The Digital Library

# شلورم څپرکی

## په دولتي تصديو کې سنجش او محاسبه

**ټولیزه موخه:**
په دولتي تصديو کې د محاسبې په تړاو د وړتیاوو رامنځته کول

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلان د لاندې موضوعاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي:

- په دولتي تحویلخانو کې د موجودۍ چارې.
- د موجودۍ د لیست جوړول.
- د ژورنال د دفتر جوړول.
- د دولتي موسسو د لیجرونو جوړول.
- د هغوی استهلاکات او سنجش.
- د دولتي تصدۍ د اکتیف او پسیف بېلانس ترمنځ اړیکې.
- په دولتي تصدیو کې د ګټې او تاوان د بیلانس ترتیب.
- د قیمت او بیلانس تحولات.
- د بیلانس د جوړولو لارې چارې.

**د موجودۍ کړنه:**

د افغانستان د سوداګرۍ د مقررو له مخې، هر سوداګر اړ دی، چې د هر کال په پیل او پای کې د خپلې شتمني او پورونو (دیون) د اقلامو موجودي ترسره کړي؛ د موجودي په اړه همدغه اړین اجراأت، د موجودۍ د کړنې یا عمل په نامه یادېږي. موجودي کول په مستقیمه توګه د امتعې له شمېرلو، اندازه کولو او تللو څخه عبارت دی، خو یوازې شمیرل، اندازه کول او تلل کافي نه دي، بلکې د نغدو پیسو تثبیت او پرتلنه یې، د چکونو، بانکي شتمنیو، د طلباتو مجموع، د تحویلخانې او دیون د ټولو اقلامو د شمېر تثبیت هم اړین دي. د سمې قیمت ګذارۍ مسله، د

ketabton.com - The Digital Library

جنسونو د اندازې او ډول په اړه د کافي معلوماتو نه درلودل، د موجودۍ چارې تر ټولو عمده ستونزې ګڼل کېږي؛ ځکه د شتمنیو او د شتمنیو د اجزاوو ټول اقلام باید قیمته یا ارزانه قیمت ګذاري و نه شي او همدا راز د جنسیت په اړه یې ناسم پوهاوي رامنځ ته نه شي. د هر کال په پای کې د شتمني له ټولو اجزاوو څخه د درې کسیزه پلاوی له خوا، چې د مسئول آمر له خوا ټاکل کېږي، د موجودۍ عمل ترسره کیږي.

**د موجودۍ پلاوی باید لاندې ټکي په پام کې ولري:**

د شتمنیو د مالونو د هر صنف یا ډلې لپاره د موجودۍ بیلې پاڼې جوړې کړي.

ورته جنسونه باید تصنیف شي؛ لکه د کاغذ، د حساب ماشین، رنګ، میز او څوکۍ او داسې نور ډولونه بیل لیستونه ولري.

څرنګه چې تحویلخانه په ځانګړي سیستم سره سمبال شوې او د موجودۍ پلاوی باید یاد سیستم په پام کې ونیسي او د تحویلخانې له سیستم سره سم دې د موجودۍ چارې ترسره کړي.

**د موجودۍ لیست:**

د موجودۍ د چارو پایلې، چې د شتمنیو او پورونو(دیون) ټول اقلام په بر کې نیسي، په یوه بیل لړلیک یا فهرست کې دې جمع شي او دغه فهرست د موجودۍ د لیست په نامه یادېږي. د تحویخانې د تهیې، تنظیم او ترتیب د تعلیمات نامې پر بنسټ، د موجودۍ راپورونه یا د موجودۍ لیست په یوه اصل او درې کاپیو کې ترتیبېږي.

د موجودۍ لیست کیدای شي د بېل لیست په بڼه له پرله پسې ګڼو سره جوړ شي، یا داچې د کتاب په بڼه ترتیب شي؛ د موجودۍ لیست له دریو برخو څخه جوړ شوی، چې د شتمنیو مجموع، د پورونو(دیون) د ورکړې مجموع او د پانګې مجموع پکې شامله ده.

پوښتنه: د موجودۍ پروسه، د پوستکو په تصدۍ کې لاندې اقلام د کال د کب د میاشتې په پای کې شودلي دي؛ د موجودۍ لیست یې په لاندې بڼه جوړېږي:

**ثابته شتمني:**

ځمکه 290000، ودانۍ یا تعمیر 230000 او ترانسپورتي وسایل 190000.

**ګرځنده شتمني:**

الف- امتعه: د پسه پوستکي 63700، د غوایي پوستکي 42600.

ب- بانکي شتمني: په ملي بانک کې 280000، په پشتنې تجارتي بانک کې 75000، په افغانستان بانک کې 20000 .

ketabton.com - The Digital Library

ج- طلبات: د آهو بوټانو فابريکه 30000، د عقاب بوټانو فابريکه 25000، محمود بوتيک 22000، متفرقه طلبات 20000.

- پورونه يا ديون: اوږدمهاله ديون 1010000، منځمهاله ديون 11000، لنډمهاله ديون 23000.

| شميره | د شتمنۍ نوم | فرعي ستون | اصلي ستون |
|---|---|---|---|
| A | ثابته شتمني | | |
| 1 | ځمکه | 290000 | |
| 2 | ودانۍ يا تعمير | 230000 | |
| 3 | د ترانسپورت وسايل | 190000 | |
| | د ثابتې شتمنۍ مجموع | | 710000 |
| B | سياره شتمني | | |
| الف | امتعه | | |
| 1 | د پسه پوستکي | 63700 | |
| 2 | د غوايي پوستکي | 42600 | |
| | د امتعې مجموع | | 106300 |
| ب | بانکي شتمني | | |
| 1 | په ملي بانک کې | 280000 | |
| 2 | په پشتني تجارتي بانک کې | 750000 | |
| 3 | په د افغانستان بانک کې | 200000 | |
| | د بانکي شتمنۍ مجموع | | 1230000 |
| ج | طلبات | | |
| 1 | د آهو بوټونو په فابريکې باندې | 30000 | |
| 2 | د عقاب بوټونو په فابريکې باندې | 22000 | |
| 3 | محمود بوتيک | | |
| | متفرقه طلبات | | |
| 4 | د طلباتو مجموع | | |
| C | پورونه يا ديون | | |
| 1 | اوږدمهاله ديون | 1010000 | |
| 2 | منځمهاله ديون | 11000 | |
| 3 | لنډمهاله ديون | 23000 | |
| | د ديون مجموع | | 1044000 |

ketabton.com - The Digital Library

| A | يا افتتاحيه بيلانس | P |
|---|---|---|
| د ثابتې شتمنۍ مجموع 710000<br>د امتعې مجموع 106300<br>د بانکي شتمنۍ مجموع 1230000<br>د طلباتو مجموع 97000 | | د پانګې مجموع 1099300<br>د ديون مجموع 1044000 |
| **2143300** | | **2143300** |

**د ژورنال دفتر:**

ژورنال، چې د روزنامچې دفتر، ورځنی يا يوميه دفتر او د اساس دفتر په نامه ياديږي، د معاملاتو د لومړني ثبت دفتر په نامه هم نومول کېږي. ژورنال له فرانسوي لغت (JOUR) څخه اخيستل شوی، چې د ورځې په معنا دی؛ يعنې دغه دفتر له هغه دفتر څخه عبارت دی، چې د يوې تصدۍ د مالي کال ټول فعاليتونه د رامنځ ته کېدو د نيټې په ترتيب سره ثبتوي او کريډټي او دبټي حسابونه ټاکي او په معين ستون کې تشريحات ورکول کيږي، چې اوس د ژورنال دفتر يوه بېلګه وړاندې کېږي:

- د امتعې پيرېدنه په نغده پيسو 1000000 افغانۍ، چې په 1/ 3/88 نيټه ترسره شوي دي.
- 125000 افغانۍ اوږدمهاله ديون پر لنډمهاله ديون، چې په 5/4/88 په نيټه تبديل شوې.
- د موبايل او فرنيچر پيرېدنه په پور 20000 افغانۍ، چې په 7/5/88 نيټه ترسره شوي دي.
- 25000 افغانۍ له کيسې څخه پور يا دين ته په 9/ 4/88 نيټه ليږدول شوې دي.

**د ژورنال دفتر بېلګه**

| D | C | بيسې يامبلغ | نيټه | تشريحات | شميره |
|---|---|---|---|---|---|
| امتعه | کسه | 100000 | 1/3/1388 | د امتعې پيرېدل په نغده | 1 |
| اوږد مهاله ديون | لنډمهاله ديون | 125000 | 5/4/1388 | د اوږدمهاله ديون بدلول په لنډ مهاله د يونو | 2 |
| اثاثيه | لنډمهاله ديون | 20000 | 7/5/1388 | د موبل او فرنيچر پيرېدل په پور | 3 |
| لنډ مهاله ديون | کسه | 25000 | 9/6/1388 | له کيسې څخه د لنډمهاله ديون ورکړه يا تاديه | 4 |

ketabton.com - The Digital Library

**له ژورنال دفتر څخه د استفادې لاملونه:**

د ډېرو لاملونو له مخې د ژورنال شتون د اقتصادي تصديو لپاره اړين ګڼل کېږي، چې تر ټولو مهم يې په لاندې توګه دي: په يوې معاملې پورې اړوند توضيحات لکه د معاملې لنډ متن، د کريډټ او ډبټ حسابونو ټاکل، په يوه ځای کې ليکل کيږي، ترڅو تل لازم معلومات په آسانۍ سره ترلاسه شي؛ په داسې حال کې، چې له ګُل دفتر څخه د داسې معلوماتو ترلاسه کول، ناشونی دی.

په دې دفتر کې ټول ورځني معلومات د رامنځ ته کېدو د نيټې په ترتيب سره ښودل کيږي. که موخه د يوې تصدۍ د مالي معلوماتو او ورځنيو معلوماتو څېړنه وي، نو د هغې ښه ښودونکې مرجع د ژورنال دفتر دی.

ژورنال د ګُل دفتر د تيروتنو او غلطيو د مخنيوۍ په برخه کې مرسته کوي او د ژورنال دفتر له شتون پرته له تيروتنو څخه مخنيوی ګران کار دی.

**ليجر Ledger :**

که چيرې معاملات په يوه ټاکلې دوره کې ژورنال ته رسېدلي وي، بل پړاو، پر بېلو حسابونو يې ويشنه ده، چې دغه بيل حسابونه له ليجر څخه عبارت دي، چې د معاملاتو تر ويشنې او تقسيماتو وروسته په ليجر کې خپل دايمي ځای مومي؛ دغه دفتر د اصلي يا لوی دفتر په نامه هم يادېږي؛ ځکه چې ټول معاملات د تقسيم بندۍ په بڼه پکې ثبتيږي؛ ژورنال ټول معاملات د رامنځ ته کېدو له نيټې سره يې يو ځای ليکي؛ په داسې حال کې، چې ليجر د معاملاتو تر تجزيې وروسته، د معاملاتو د هر يوه لپاره بيل حسابونه جوړوي.

همدارنګه بايد يادونه وشي، چې ليجر د مضاعف سيستم تطبيق ممکنوي؛ ځکه چې هره معامله په دوو دفترونو (اخيستونکي او ورکوونکي) کې ثبتيږي.

**د ليجر قواعد:**

د ليجر شتون د يوشمېر زياتو قواعدو له مخې، د اقتصادي تصديو لپاره اړين دي، چې ترټولو مهم يې په لاندې توګه دي:

له ليجر څخه په کاراخيستنې سره د مضاعف سيستم په سمه بڼه او برياليۍتوګه په کار اچول کيږي؛ د ليجر په دفتر کې هره معامله په دوو برخو (ورکوونکې او اخيستونکې) تقسيم او په اړوند حساب کې ثبتيږي.

په اشخاصو او بېلابېلو کمپنيو پورې اړوند معاملات د هر شخص يا کمپنۍ په حساب کې په بېل او جلا توګه ثبتيږي، چې په پايله کې بشپړ او د باور وړ معلومات د هر حساب په اړه برابرېږي.

ketabton.com - The Digital Library

څرنګه چې عواید او بېلابېل لګښتونه په بېلابېلو حسابونو کې په بېله او جلا بڼه ثبتیږي، نو په دې اساس ممکنه ده، د عوایدو او لګښتونو کچه او پایلې یې د هر کال په پای کې د عوایدو او لګښتونو د بېلو حسابونو له لارې د ګټې او تاوان دفتر ترتیب او د ګټې او تاوان کچه وټاکل شي.

**اومه مواد:**

په صنعتي تصدیو کې اومه مواد له هغو موادو څخه عبارت دي، چې د تولیداتو ډېره او اصلي برخه ترې جوړیږي.

**لکه:** د ترکاڼۍ په فابریکه کې، لرګي، د نساجي په فابریکه کې پنبه او د بوټ جوړولو په فابریکه کې چرم اومه مواد دي. که چیرې اومه مواد د ۱۰۰۰ افغانیو په ارزښت په نغده توګه وپېرل شي، د ثبت قاعده یې داسې ده:

| مبلغ | کریدت | دبت |
|---|---|---|
| 1000 | کسه | اومه مواد |

په صنعتي تصدیو کې اومه مواد په عین شکل نه پلورل کیږي، بلکې کارځای ته وړل کیږي، ترڅو ترې کار تمامه تولیدات جوړ شي.

که چیرې له تحویلخانې څخه اومه مواد له اړتیا سره سم، کارځای ته د ۵۰۰۰ افغانیو په قیمت لیږدول کیږي، د ثبت قاعده یې داسې ده:

| مبلغ | کریدت | دبت |
|---|---|---|
| 5000 | اومه مواد | داومه موادو لګښت |

۵۰۰۰ اومه مواد، د اومه موادو لګښت، د اومه موادو حساب، لکه د امتعې حساب، یو اکتیفي حساب دی او د د اومه موادو مصرف یو نتیجوي حساب وي، چې د ګټې او تاوان دفتر ته لیږدول کیږي.

**مرستیال (معاونه) مواد:**

په صنعتي تصدیو کې مرستیال مواد له هغو موادو څخه عبارت دي، چې د بشپړتیا لپاره په کار اچول کیږي؛ په داسې حال کې، چې د تولید اصلي برخه نه جوړوي.

لکه:- د نجارۍ په فابریکه کې میخ، په خیاطۍ کې تنۍ (دکمه)، په بوټ ګنډلو کې سریښ او

ketabton.com - The Digital Library

داسې نور، چې البته د مرستيال موادو تحويلخانې له اومو موادو څخه بېل، او بېل حسابونه هم لري.
لکه:- د مرستيال موادو پيرېدنه په نغده ۸۰۰۰۰ افغانی دي، چې د ثبت قاعده يې داسې ده:

| مبلغ | کريدت | دبت |
|---|---|---|
| ۸۰۰۰۰ | کسه | مرستيال مواد |

که چيرې د مرستيال موادو له تحويلخانې څخه له سندونو سره سم او د اړتياوو له مخې د ۴۰۰۰ افغانيو په ارزښت مواد، کار ځای ته وليږدول شي، د ثبت قاعده يې داسې ده:

| مبلغ | کريدت | دبت |
|---|---|---|
| 4000 | مرستيال مواد | د مرستيال موادولګښت |

د مرستيال موادو حساب هم د بيلانس يو اکتيفي حساب دی؛ په داسې حال کې، چې د مرستيال موادو د لګښت حساب، يو نتيجوي حساب دی؛ يعنې د ګټې او تاوان په دفتر کې دبتيږي.

**محرکه مواد:**

په صنعتي تصديو کې محرکه مواد له هغو موادو څخه عبارت دي، چې د توليداتو په بشپړتيا کې جنساً نه داخليږي، بلکې د محرکه (حرکت ورکوونکو) موادو په توګه په مصرف رسيږي.

**لکه:** ګريس، مبلايل، پټرول او داسې نور مواد دي، چې ماشينونو ته د حرکت ورکولو لپاره په کار اچول کيږي او بايد ووايو، چې د دې موادو تحويلخانې هم بيلې دي او بيل حسابونه لري.

| مبلغ | کريدت | دبت |
|---|---|---|
| 10000 | بانک | محرکه مواد |

**لکه:** د بانک په مرسته د محرکه موادو پيرېدنه په ۱۰۰۰۰ افغانيو، چې د ثبت قاعده يې په داسې ډول ده.

که چيرې له اړتياوو سره سم، له تحويلخانې څخه، د ۳۰۰۰ افغانيو په ارزښت مواد کارځای ته وليږدول شي، د ثبت قاعده يې په داسې ډول ده:

| مبلغ | کريدت | دبت |
|---|---|---|
| 3000 | محرکه مواد | د محرکه موادو لګښت |

ketabton.com - The Digital Library

**د فعالیت پایله:**

باید څرګنده کړو، چې اومه مواد، مرستیال مواد او زماني محرکه مواد، چې کارځای ته رسیږي، د کارورواندې کوونکو له خوا پر کارتمامه امتعه بدلیږي.

**لکه:** د ماشین په مرسته له لرګي او میخ او له محرکه موادو څخه په استفادې میز او څوکۍ، الماری او داسې نور لوازم جوړیږي، چې دغه جوړه شوې یا بشپړه شوې امتعه د فعالیت د پایلې په نوم یادیږي او په دوه ډوله دي.

**کارتمام تولیدات:** په صنایعو کې کارتمامه تولیدات له هغو تولیداتو څخه عبارت دي، چې ټول تولیدي کاري پړاوونه یې بشپړ کړي وي او د خرڅلاو لپاره چمتو وي. د کارتمامو تولیداتو حساب هم د بیلانس اکتیف د اړوندو حسابونو له جملې څخه دي.

نیمکاره تولیدات: امکان لري، د موجودۍ پر مهال د بیلانس جوړولو په ورځ، یوشمېر نیم کاره تولیدات د ماشینونو پر سر د کارګرانو تر لاس لاندې وي، چې لاتراوسه په بشپړ شوو تولیداتو تبدیل شوي نه وي، چې دغه تولیدات د نیم کاره تولیداتو په نامه یادیږي. نیم کاره تولیدات د خرڅلاو لپاره چمتو نه وي، خو د ارزښت او قیمت لرونکي وي، چې د کال په پای کې د بیلانس جوړولو پر مهال د بیلانس د اکتیف پر لوري درجیږي.

د کار د وسایلو د استفادې موده او د استهلاک سنجش یې:د کار د وسایلو یو له ځانګړو ځانګړنو څخه دا دی، چې دغه وسایل د یو ځل استفادې په پایله کې له منځه نه ځي، بلکې د استفادې لپاره دوامداره موده لري؛ د دې اصل له مخې باید پانګه اچول شوې پیسې د یو ځلي لګښتونو په توګه په پام کې ونه نیول شي، بلکې د وسایلو د استفادې پر مودې وېشل کیږي.

د دغې چارې د نه ترسره کېدو په صورت کې، تصدۍ د وسایلو د استهلاکونو د لګښتونو له درکه، د بېلابېل تمام شوي قیمت تولید لري، په دې توګه، نه شي کولی ځان، د مارکیټ له روانې وضعې سره عیار کړي. له دې پلوه تصدۍ دنده لري، چې د وسایلو د استفادې موده په دقیقه توګه وټاکي؛ په پانګونه کې ټاکل شوي پیسې، د یادو وسایلو د عمر پر اوږدوالي وویشي او په دې ترتیب سره د استهلاک د لګښتونو بار دې هغې امتعې ته ولېږدوي، چې په دې موده کې تولیدیږي.

استهلاکونه نه یوازې د تولیداتو د تمام شوي قیمت له پلوه، بلکې په همدې ترتیب د تصدۍ د بقاء او دوام له کبله د فوق العاده اهمیت لرونکي دي؛ په ټولیزه توګه د تولید د وسایلو د استهلاکونو له منابعو څخه، د تولید وسایل پیرېدل او تهیه کیږي، چې دغه ډول پانګونه د بدلېدونکې یا تعویضي پانګونې په نامه یادیږي.

د تصدۍ موخه د استهلاکونو له محاسبې څخه په لومړي قدم کې دا ده، چې د وسایلو تر وروستني (نهایي) استعمال وروسته له پولي سرچینو څخه، چې د استهلاکونو په فنډ کې په واک

ketabton.com - The Digital Library

کې لري، د تصدۍ د فعالیت دوام په موخه د دویم ځل لپاره، نوي ماشینونه خریداري کړي. که ټولې تصدۍ د استهلاک په وړاندې د تولید وسایلو ته، جدي پاملرنه وکړي، له شک پرته د ملي اقتصاد ټول تولیدي فعالیتونه ښه والی مومي او د وخت په تېرېدو سره زاړه ماشینونه پر عصري او پرمختللو ماشینونو بدلیږي.

د استهلاکونو محاسبه د تصدۍ د مالي توازن او د تصدۍ د سیالیت لپاره هم ارزښت لري، چې په دې صورت کې، تصدۍ دې ته اړتیا نه لري، چې د تولیدي وسایلو د برابرولو په موخه، د بیا لپاره پور واخلي او یا خپل سیال وسایل، چې د نورو موخو په غرض یې ساتلي، مصرف کړي. د تولید وسایل او د کار وسیلې که استعمال شي او یا نه شي استعمال، د وخت په تېرېدو سره په یوې ټاکلې اندازې خپل ارزښت له لاسه ورکوي. که د وسایلو د ارزښت دغه تنقیص په پیسو سره افاده شي، په دې صورت کې له استهلاکونو څخه خبرې کیږي، چې دغه ورکړه، د هغه پړاو استهلاکونه ښیي، چې باید د یوه منظم پلان له مخې له وسایلو څخه د استفادې پر بېلو پړاوونو ووېشل شي او د تصدۍ د خرڅلاو د سیاستونو په پام کې نیولو سره د استهلاکونو د وېل (ګران) له میتودونو څخه یو میتود، چې د تصدۍ له وضعې سره مناسب وي، په پام کې ونیسي.

**استهلاکونه:** څرنګه چې مو مخکې تر څېړنې لاندې ونیول، دوه ډوله شتمنۍ په لاندې توګه سره بیلولی شو:

- ثابته شتمني.
- سیاره شتمني.

د سیارو شتمنیو له عمده څانګړنو څخه، دا دي، چې د استفادې له امله په بشپړه توګه تغییر د شکل کوي او یا دا چې د ثابتو شتمنیو په پرتله، د شکل تغییر یې چټک وي.

**لکه:** اومه مواد چې د استفادې په پایله کې د تولید د کار په بهیر کې، په نیم کاره تولیداتو او کارټامو تولیداتو باندې بدلیږي، په دې ترتیب سره په یادو موادو کې د شکل تغییر په وضاحت سره لیدل کیږي.

ثابته شتمني: د ثابتو شتمنیو د بڼې تغییر په تدریجې ډول سره ترسره کېږي.

د بیلګې په ډول: تر هغه وخته چې د ثابتې شتمنۍ یوه ودانۍ یا ماشین په کلي توګه له منځه ولاړ شي، د غیرمترقبه عواملو له پام کې نیولو پرته به، ډېر کلونه په بر کې ونیسي. په بل عبارت، یاده ودانۍ یا ماشین په تدریجي ډول استهلاکېږي، نو ویلی شو، چې د استهلاک کلمه د ثابتو شتمنیو د ارزښت له تدریجي تقلیل یا لږوالي څخه عبارت ده.

د استهلاک د رامنځ ته کېدو عوامل: د ثابتې شتمنۍ استهلاک د لاندې بېلابېلو لاملونو په پایله کې ترسره کیدای شي، چې هر یو یې په لاندې توګه تر څېړنې لاندې نیسو:

ketabton.com - The Digital Library

د استهلاک د رامنځ ته کېدو اقتصادي علت: د تخنیک د پرمختګ له امله استهلاک: څرنګه چې تخنیک په دوامداره توګه د پرمختګ په حال کې دی او د تولید نوې کړنلارې رامنځ ته کېږي او همدارنګه په بازار کې پرمختللي او اقتصادي تولیدات وړاندې کیږي، نو پر دې بنسټ، ټول خلک او تصدۍ غواړي، له پرمختللي تخنیک څخه کار واخلي او مخکني وسایل د کار له بهیر څخه بهر کړي، چې یاد وسایل که څه هم د تخنیک له پلوه نه دي زاړه شوي، خو باید استهلاک شي. د دې لپاره، چې مخکني وسایل په لږ قیمت سره پلورل کیږي، پر ځای یې نوې شتمنۍ رامنځ ته کېږي. د بیلګې په ډول: د یوې ترانسپورتي وسیلې قیمت په حساب کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ده، خو د پورتنیو دلایلو پربنسټ پر ۴۰۰۰۰ افغانیو یې پلورو ۶۰۰۰۰ افغانۍ د بیلانس له لګښت څخه عبارت دی، چې اقتصادي دلیل منځ ته راغلی، چې د ثبت طریقه یې په لاندې توګه ده:

| پیسې | کریدت | دبت |
|---|---|---|
| 40000 | ترانسپورتي وسایل | کسه |
| 60000 | ترانسپورتي وسایل | فوق العاده استهلاک |

**د استهلاکاتو د رامنځ ته کېدو تخنیکي او طبیعي علل**

د استفادې او استعمال پربنسټ استهلاک: که چیرې له ثابتې شتمنۍ څخه د تصدۍ د موخو د ترلاسه کولو لپاره په عملي توګه استفاده وشي، لکه له ماشین آلاتو، ترانسپورتي وسایلو او داسې نورو څخه استفاده وشي او یا په صنعتي تصدیو کې د ماشین په وسیله تولید ترسره شي، له ثابتې شتمنۍ څخه د استفادې پر بنسټ یې قیمت نه تنقیص کیږي او د استهلاک مخارج رامنځ ته کېږي.

د نه استفادې پربنسټ استهلاک: که چیرې له ماشینونو څخه استفاده ونه شي، د حرارت، برودت، سوړوالی او د داسې نورو طبیعي لاملونو له امله د یادو ماشینونو پرزې زنګ ووهي او له فعالیته ولویږي؛ په دې ځای کې هم د استهلاک مخارج رامنځ ته کېږي.

د ذاتي ارزښت دکموالي له امله استهلاک: که د یوې حجاري (د تیږو تراشلو) پر تصدۍ د دولت له خوا د بامیانو په ساحه کې داسې ځمکه په ډېرو پیسو وپلورل شي، چې د حجارۍ تصدۍ د ګټې اخیستنې وړ تیږې ولري او تصدۍ هرکال ترې ګټه اخلي؛ همدا چې کان یا معدن د زمان په تېرېدو سره کمیږي او یا بالاخره په بشپړه توګه خلاصیږي، تصدۍ خپل قیمت هم له لاسه ورکوي.

**د استهلاک د رامنځ ته کېدو حقوقي علل**

د قوانینو او تړونونو پربنسټ استهلاک: ځینې وخت د قوانینو او تړونونو پربنسټ ثابتې

ketabton.com - The Digital Library

شتمنۍ استهلاک ته سوق کیږي، که چیرې د تړونونو پر بنسټ له شیانو څخه ګټه اخیستنه لکه یوه مغازه، دوکان، سرای او داسې نور د یوې اندازې پیسو په مقابل کې په یوه ټاکلې موده کې یو شخص او یا تصدۍ ته سپارل کیږي، د قرار داد له پای ته رسېدو سره سم، یاده ثابته شتمني، لومړني څښتن ته یې سپارل کیږي، په دې توګه د ورکړ شویو پیسو پاتې اندازه استهلاک ته سوق کیږي.

د مالیاتي قوانینو پربنسټ استهلاک:په هغو تصدیو کې، چې یو شمېر کوچني سامان آلات پیدا کیږي، لکه: چکش، پیچکش او داسې نور، چې قیمت یې لږ او شمېر یې زیات وي، د کلنی استهلاک محاسبې ته د مالیاتي قوانینو پربنسټ اجازه ورکړل شوې ده، چې د لږ قیمت دغه ډول شتمني که څه هم عمر یې زیات وي، د پیرېدلو او تحویلخانې ته د رسېدو په پړاو کې استهلاک ته سوق کړي؛ همدارنګه د استهلاک د قوانینو پربنسټ، د اشخاصو هغه ځمکه یا ودانۍ، چې د سړک، بند یا د برېښنا په مسیر کې واقع کېږي، له استهلاک سره مخامخېږي.

د غیر مترقبه عواملو په پایله کې د استهلاک د رامنځته کېدو علت: ثابته شتمني د زلزلې، سیلاب، اور او داسې نورو طبیعي افاتو له امله زیانمنیږي؛ ان له کاره لوېږي، نو پر دې بنسټ، د دغه ډول شتمنیو قیمت استهلاک ته سوق کیږي.

**د نیمګړې (ناقصې) پانګونې له امله د استهلاک د رامنځ ته کېدو علت:**

ځینې وختونه یوه تصدۍ د ناسمې احصایې او د دقیقو پلانونو د نشتوالي پر بنسټ، په کار پیلوي او پکې زیات لګښتونه ترسره کیږي، خو د پروژې تر بشپړېدو وروسته، تصدۍ نه شي کولی، له دغې پانګونې څخه اقتصادي ګټه پورته کړي، په دې اساس ویلی شو، چې پانګونه نیمګړې ده او استهلاک ته سوق کیږي.

د استهلاکونو د سنجولو میتودونه: د ثابتو شتمنیو د استهلاکونو د سنجولو لپاره زیات میتودونه شتون لري، چې تصدۍ کولی شي د خپلو تولیدي شرایطو په پام کې نیولو سره، د دغو میتودونو له جملې څخه کار واخلي، د ثابتې شتمنۍ د استهلاکونو د سنجولو ځینې میتودونه په لاندې ډول دي:

پر خطي سیستم د استهلاک د سنجولو میتود:د استهلاک په دغه ډول سنجش کې د ثابتې شتمنۍ عمر، د ثابتې شتمنۍ د داغمې قیمت او د ثابتې شتمنۍ د تهیې قیمت په پام کې نیول کیږي او د هر کال د استهلاک پیسې سنجول کیږي، چې معمولاً یادې پیسې ثابتې دي او په مساوي توګه د ثابتې شتمنۍ د عمر په بیلابیلو کلونو کې له ارزښت څخه یې کمېږي.

د بیلګې په ډول: فرضاً د یوې پایې ماشین د تهیې قیمت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ او د عمر موده یې ۲۰ کاله دی؛ که چیرې موږ د یاد ماشین د داغمې قیمت ۳۵۰۰ افغانۍ اټکل کړی وي؛ د کلنې استهلاک **پ**یسې یې په لاندې توګه سنجول کېږي:

ketabton.com - The Digital Library

- د تهیې قیمت ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ.
- د استفادې موده ۲۰ کاله.

د کلني استهلاک پیسې= (د داغمې قیمت – د تهیې قیمت) / (د استفادې موده)

- د داغمې قیمت ۳۵۰۰ افغانۍ

$$\frac{100000-3500}{20}=\frac{96500}{20}=4850$$

د استهلاک د سنجولو میتود د صعودي سیستم په بنه: صعودي فرمایش له ثابتو میتودونو څخه دی، چې پکې کلنۍ پیسې د کال له مخې زیاتیږي؛ یعنې په لومړیو کلونو کې د استهلاک ترټولو کمې پیسې او په وروستیو کلونو کې د استهلاک تر ټولو زیاتې پیسې د ثابتې شتمنۍ د تهیې له قیمت څخه وضع کیږي. د استهلاک سنجش د زیاتېدو په طریقه، کیدای شي په حسابي بڼه له لاندې بېلګې سره سم سنجش شي.

په حسابي طریقه، د صعودي استهلاک سنجش: د حسابي په دغه طریقه کې، د ثابتې شتمنۍ اوږد عمر سره جمع کیږي او د کسر په مخرج کې د استفادې وړ ګرځي او د یاد کسر په صورت کې د شتمنۍ د تهیې قیمت لیکل کیږي او په دې ترتیب، د کلني استهلاک پیسې سنجول کیږي، چې په صعودي بڼه د ثابتې شتمنۍ د استفادې له کلونو سره ضربیږي.

بیلګه: د تولید د وسیلې د تهیې قیمت ۱۸۰۰۰۰ افغانۍ او له دغې وسیلې څخه د استفادې کلونه شپږ کاله اټکل شوی دی؛ د کلني استهلاک پیسې د حسابي صعودي فرمایش په طریقه محاسبه کړئ؟

| | |
|---|---|
| د تهیې قمیت | ۱۸۰۰۰۰ افغانۍ |
| د استفادې موده | ۶ کاله |

$$1+2+3+4+5+6=21$$

د کلني استهلاک پیسې $\frac{180000}{21}=8571$

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| لومړی کال | 8571 = 1 × 8571 = |
| دویم کال | 17142 = 2 × 8571 = |
| درېیم کال | 25713 = 3 × 8571 = |
| څلورم کال | 34284 = 4 × 8571 = |
| پنځم کال | 42855 =5 × 8571 = |
| شپږم کال | 51426 = 6 × 8571 = |

**د نزولي طريقې له مخې د استهلاک د سنجولو ميتود:**

په دغه طريقه کې د استهلاک پيسې د صعودي استهلاک پر خلاف دي او دیادو پیسو کال کميږي؛ له دغې طريقې څخه د ګټه اخيستنې لپاره دليل راوړل کيږي، چې په وروستيو کلونو کې د توليد وسايل ډېر استهلاکيږي او ترميم يې ډېر لګښتونه غواړي، نو ځکه په وروستيو کلونو کې د استهلاک لګښتونه بايد لږ وي، ترڅو د وسايلو د ترميم لپاره په تصدۍ کې پولي منابع موجودې وي؛ د دغې طريقې نيمګړتيا دا ده که چېرې توليد شوې امتعه په مارکيټ کې د خرڅلاو بازار ونه لري، په ځانګړې توګه په لومړيو کلونو، چې د استهلاک لګښتونه زيات وي، نو د سياليت بنه رامنځ ته کېږي.

همدارنګه له دې دغې طريقې څخه په استفادې د تخنيکي پرمختګ او د اقتصادي بدلون په رامنځ ته کېدو سره تصدي په اسانۍ سره کولی شي، له دغو بدلونونو سره ځان عيار کړي. په دې معنا هر کله چې تخنيکي پرمختګ د وسايلو د پېرېدلو اړتيا رامنځ ته کوي او رامنځ ته شوي بدلونونه د دې لامل ګرځي، چې ياد وسايل دې بدل شي، تصدۍ کولی شي له رامنځ ته شويو شرايطو سره ځان عيار کړي؛ ځکه د لومړيو کلونو د استهلاکونو پيسې په کافي اندازه زياتې دي او تصدۍ کولی شي، د زياتو امکاناتو په لرلو سره د تخنيکي پرمختګ زمينه برابره او اقتصادي بدلونونه تعقيب کړي.

بيلګه: د يوې ثابتې شتمنۍ د تهيې قيمت ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ، د استفادې موده يې ۸ کاله ده؛ د حسابي نزولي استهلاک له لارې کلنۍ استهلاک پيدا کړئ؟

د تهيې قيمت ۱۲۰۰۰۰.

د استفادې موده ۸ کاله.

$$1+2+3+4+5+6=21$$

د کلني استهلاک پيسې $\dfrac{120000}{36}$ =3333

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| لومړی کال | = 3333 × 8 = 26664 |
| دویم کال | = 3333 × 7 = 23331 |
| درېیم کال | = 3333 × 6 = 19998 |
| څلورم کال | = 3333 × 5 = 16665 |
| پنځم کال | = 3333 × 4 = 13332 |
| شپږم کال | = 3333 × 3 = 9999 |
| اووم کال | = 3333 × 2 = 6666 |
| اتم کال | = 3333 × 1 = 3333 |

په محاسبه کې د ځینو دفتري اصطلاحاتو تشریح: **دبت:** د حساب کیڼ اړخ ته دبت (اخیستنه) وایي. دغه اصطلاح د بانکدارۍ په پیل کې له ایټالیا څخه په ۱۸ میلادي پیړۍ کې اخیستل شوې ده؛ یعنې هرې پیسې او یا جنس، چې د شرکت یا تصدۍ په واک کې دننه کیږي، په اړوند حساب کې دبتیږي.

**کریدت:** د حساب ښي یا راسته اړخ ته کریدت (ورکړه) وایي. دغه اصطلاح هم د بانکدارۍ په پیل کې پر ۱۸ میلادي پیړۍ کې له ایټالیا څخه اخیستل شوې ده؛ یعنې کومې پیسې یا جنس، چې د شرکت یا تصدۍ له واک څخه بهر وځي، په اړوند حساب کې کریدتیږي.

**اکیتف:** د بیلانس کیڼ اړخ ته اکیتف وایي، چې ثابته او سیاره شتمنۍ په کې شامله ده او د فعال په معنا ده، چې د ټولو شتمنیو ښودونکی دی.

**پسیف:** پسیف د بیلانس ښي اړخ ته وایي، چې پکې پانګه، پورونه یا دیون او فنډونه شامل دي او په دري ژبه کې د غیرفعال په نوم یادیږي، چې د ټولو شتمنیو ښودونکې ده.

د بیلانس د اکتیف او پسیف ترمنځ اړیکې: د بیلانس د اقتصادي او حسابدارۍ فن په اصطلاح کې د هغه حساب له صورت څخه عبارت دی، چې د تصدۍ مالي وضع په یوه ټاکلي وخت کې د بیلګې په ډول، په ۲۹ د کب کې ښیي؛ په داسې توګه، چې د تصدۍ شتمنۍ، د پور او پانګې په وړاندې قرار نیسي. په بیلانس کې شتمنیو ته ټول ورته اقلام په لنډه توګه ښودل کیږي؛ په داسې حال کې، چې د موجودۍ په لیست کې په مفصله توګه ښودل شوي دي؛ یعنې د بیلانس پسیف لوری ښیي، چې د شتمنیو منابع کومې دي، په داسې حال کې، چې د بیلانس اکتیف د پانګې د کارونې صورت ښیي.

**پاتې(بقیه):** پاتې یا بقیه د حساب د دواړو خواوو له سرجمع توپیر څخه عبارت دی. که چیرې کیڼ لوری زیات وي او ښی لوری لږ وي، پاتې یا بقیه پر ښي لوري زیاتیږي. دغه پاتې یا بقیې ته کریدټي پاتې وایي، د دې پر خلاف، چې که ښی لوری زیات او کیڼ لوری لږ وي، پاتې یا بقیه باید په کیڼ لوري کې ښکاره شي، چې په دې صورت کې به پاتې یا بقیه دبتي وي.

ketabton.com - The Digital Library

**انډول یا موازنه:** د حساب انډول یا موازنه په حقیقت کې په هغه لوري کې د پاتې (بقیې) له درجولو څخه عبارت دی، چې پیسې یې لرې وي، ترڅو په وسیله یې د حساب د دواړو خواوو انډول برابر شي؛ ځکه چې د بیلانس حساب د تلې حیثیت لري او تله باید موازنه ولري؛ پخوانیو محاسبینو به دغه موضوع د میزان کولو په نامه یادوله.

د ګټې او تاوان د معاملاتو پایله اخیستنه: لکه څرنګه چې د هرې تصدۍ موخه د ګټې ترلاسه کول دی، نو په دې اساس تصدۍ د ګټې د ترلاسه کولو لپاره فعالیت کوي؛ یعنې امتعه په ارزانه بیه اخلي او د ګټې په تثبیت یې بېرته پلوري او یا  د کریدت (پور) د ورکړې په وړاندې تکتانه ترلاسه کوي او که چیرې دغه منابع په نغده توګه ترلاسه کړو، څرګنده ده، چې په حساب کې پانګه زیاته شوې؛ یعنې کریدت کیږي؛ ځکه چې د پانګې کریدت د پانګې د تزیید په معنا ده،که چیرې موږ دغه حاصلات تراوسه نه وي اخیستي، په طلباتو کې دبتیږي.

**د بیلګې په ډول:** د یوه خدمت په بدل کې نغده اجوره ترلاسه کوو، چې په دې صورت کې پانګه له کیسې څخه دبتیږي؛ پورتنۍ موضوع مو چې مطالعه کړه، په حاصلاتو پورې اړوندیږي او دا دی اوس د مخارجو  بحث پیلوو.

دا یو واضح امر دی، چې هره تصدۍ د ګټې د ترلاسه کولو لپاره فعالیت کوي، خو په دې منظور مجبوره ده، چې یو سلسله مخارج هم ومني.

**د بیلګې په ډول:** د کارکوونکو لپاره اجوره یا معاش ورکول کیږي، د بخارۍ، ګروپ او داسې نورو د ګرمولو او روښانولو لپاره یې لګښتونه ورکوي. د اوبو، تلیفون، فکس او داسې نورو لپاره تادیات لري او یا د فعالیت په بهیر کې د ثابتې شتمنۍ لکه: ودانۍ، د کور سامان، ماشین آلات، نقلیه وسایط او داسې نورو د قیمت تنقیص سنجوي؛ بالاخره دغه تنقیصات د مخارجو په نوم یادیږي. باید یادونه وکړو، چې تر دې وړاندې موږ ولیدل، چې حاصلات د شتمنۍ د زیاتوالي (تزیید) لامل او له بله پلوه د پانګې د زیاتوالي (تزیید) لامل کیږي، د مخارجو پر خلاف، چې له یوې خوا په شتمنیو کې او له بلې خوا په پانګه کې د تنقیص لامل ګرځي.

لکه: د تصدۍ د کارکوونکو لپاره ۵۰۰۰۰ افغانۍ معاش ورکول کیږي.، چې د ثبت طریقه یې په دې ډول ده:

| پیسې | کریدت | دبت |
|---|---|---|
| ۵۰۰۰۰ | کسه | پانګه |

د معاملاتو د تمرین لپاره یو ساده ژورنال جوړوو او لاندې معاملات پکې ثبتوو؛ مامورینو ته د معاشونو ورکړه، د رتبې په اساس ۱۰۰۰۰ افغانۍ نغدې، د قرطاسیې پیرېدل په نغده ۲۰۰۰

ketabton.com - The Digital Library

افغانۍ؛ د کمیشن حاصلات په نغده توګه اخیستل کېږي ۲۵۰۰۰ افغانۍ، د ټکټانې حاصلات اخیستل کېږي ۸۰۰۰ افغانۍ، د ټکټانې لګښتونه ورکول کېږي په نغده توګه ۱۰۰۰۰ افغانۍ.

| Dr | د ګټې او تاوان دفتر | Cr |
|---|---|---|
| مخارج | حاصلات | |
| لګښتونه | عواید | |
| د پانګې ګټه | دپانګې تاوان | |
| سر جمع | سر جمع | |

**د ژورنال دفتر**

| شمیره | تشریحات | نیټه | پیسې | C | D |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د معاشاتو نغده ورکړه | 1/3/1388 | 10000 | کسه | پانګه |
| 2 | د قرطاسیې پیرېدل په نغده | 5/4/1388 | 2000 | کسه | پانګه |
| 3 | د کمیشن حاصلات په نغده توګه اخیستل کېږي. | 7/5/1388 | 25000 | پانګه | کسه |
| 4 | د ټکټانې حاصلات په نغده اخیستل کېږي. | 9/6/1388 | 8000 | پانګه | کسه |
| 5 | د ټکټانې لګښتونه په نغده ورکول کېږي. | 25/6/1388 | 10000 | کسه | پانګه |

| D | پانګه | C | D | کسه | C |
|---|---|---|---|---|---|
| 10000 | 8000 | | 8000 | 110000 | |
| 2000 | 250000 | | 25000 | 10000 | |
| 10000 | | | | 2000 | |
| 11000 | | | | 10000 | |
| 33000 | 33000 | | 33000 | 33000 | |

که چیرې په یوه تصدۍ کې پانګه (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ او کسر هم (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ وي، پورتني معاملات لومړی په ژورنال او ورپسې په لوی یا کبیر دفتر کې ثبتېږي، په داسې توګه، چې

ketabton.com - The Digital Library

د پانګې د زیاتوالي (تزیید) پر ځای عایداتي فرعي حسابونه او لګښتونه په پام کې نیول کېږي، ترڅو د پانګې حساب څرګند شي او ټول عایدات او لګښتونه په بېلو حسابونو کې ثبت شي.

| D یا افتتاحیه بیلانس C | | D شخصي پانګه C | |
|---|---|---|---|
| 100000 | 100000 | 41000 | 100000 |
| | | | 11000 |
| **100000** | **100000** | **111000** | **111000** |

| شمیره | تشریحات | نیټه | پیسې | C | D |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د معاشاتو نغده ورکړه | 1/3/1388 | 10000 | کسه | د معاش لګښتونه |
| 2 | دقرطاسیې پیرېدل په نغده | 5/4/1388 | 2000 | کسه | دقرطاسیې لګښتونه |
| 3 | د کمیشن حاصلات | 7/5/1388 | 25000 | دکمشین حاصلات | کسه |
| 4 | نغده اخیستل کیږي | 9/6/1388 | 8000 | تکتا نه حاصلات | کسه |
| 5 | د ټکټاني لګښتونه په نغده ورکول کیږي. | 25/6/1389 | 10000 | کسه | د تکناني لګښتونه |

| D د قرطاسیې لګښتونه C | | D دمعاش لګښتونه C | |
|---|---|---|---|
| 2000 | 2000 | 10000 | 10000 |
| **2000** | **2000** | **10000** | **10000** |

ketabton.com - The Digital Library

| D گټه | C | D کسه | C |
|---|---|---|---|
| 2000 | 25000 | 100000 | 10000 |
| 10000 | 8000 | 25000 | 2000 |
| 10000 | | 8000 | 10000 |
| 11000 | | | 1110000 |
| <u>33000</u> | <u>33000</u> | <u>133000</u> | <u>133000</u> |

لکه څرنګه چې موږ د پورتنۍ پوښتنې حل پر دوو بېلو لارو مطالعه کړ، لیدل کېږي، چې د لومړۍ طریقې له مخې د پانګې ټول تزئیدات او تنقیصات د پانګې په خپل حساب کې ثبت شوي دي او په دې صورت کې لاندې نیمګړتیاوې شتون درلود:

- د پانګې حساب په ګډه وډه توګه د لګښتونو او حاصلاتو د ثبت ډولونه وړاندې کړې وه.
- که چا د لګښتونو د احصایې په اړه پوښتنه کوله، محاسباتو یې په خپل حساب ځواب نه شوای ورکولی، د دغې نیمګړتیا د لرې کولو لپاره د پانګې د حساب پر ځای د حاصلاتو او مخارجو ثبت یې، د پانګې په فرعي حسابونو کې، چې عبارت دي له:

د حاصلاتو حسابونه او د لګښتونو حسابونه او یا په مشروع توګه که ووایو حاصلات، چې د پانګې له تزییدڅخه عبارت ده، د دې پر ځای، چې د پانګې په حساب کې کریدت وکړو، د حاصلاتو له بیلو حسابونو څخه کریدت کوو، او د حاصلاتو حسابونه کریدت کوو او د حاصلاتو حسابونه تل کریدت کیږي ځکه چې د پانګې د تزیید حیثیت لري.

د دې لپاره چې د پانګې تنقیص په خپله د پانګې په حساب کې دبت کړو، د لګښتونو په بیلو حسابونو کې یې دبت کوو او د لګښتونو حسابونه، د پانګې تنقیصي حسابونه دي، چې تل دبتیږي، ځکه چې د پانګې د تنقیص حیثیت لري؛ په دې صورت کې موږ دوه ډوله حسابونه لرو، چې عبارت دي له:

الف- بیلانسي حسابونه، چې اکټیفي او پسیفي وي:

بیلانسي حسابونه له هغه حسابونو څخه عبارت دي، چې اقلام یې په مستقیمه توګه د ختم بیلانس ته لیږدول کیږي. لکه د کسر حسابونه، طلبات، شتمنۍ، پانګه، پورونه یا دیون او داسې نور.

ب- نتیجوي حسابونه، چې عایداتي او مصارفاتي وي:

نتیجوي حسابونه هغو حسابونه دي، چې اقلام یې په ګټې او تاوان پورې اړوندیږي، چې په پایله کې د تصدۍ ګټه او تاوان څرګندیږي؛ لکه حسابونه او لګښتونه.

ketabton.com - The Digital Library

**پوښتنه:** د کیسې ابتدایي شتون (۸۰۰۰۰)، بانکي شتمني (۱۷۰۰۰۰)، پر نورو تصدیو طلبات (۳۰۰۰۰)، پر اشخاصو طلبات(۲۰۰۰۰) او پورونه یا دیون (۱۴۰۰۰۰)، پانګه معلومه کړئ.

- د مغازې کرایه له بانکه ورکول کیږي (۶۰۰۰ ) افغانۍ.
- په مسلکي مجله کې د ګډون لپاره، (۳۰۰ ) افغانۍ ورکول کېږي.
- د تیلفون محصول په نغده ورکول کیږي (۸۰) افغانۍ.
- د ټکټانې بانکي عواید د بانک له درکه د بانک په حساب (۱۰۸۷۰) افغانۍ.
- د سوند موادو پیرېدل له بانکه (۳۶۰۰ ) افغانۍ.
- اداري لګښتونه له بانکه ورکول کیږي (۱۶۲۰ ) افغانۍ.
- د طلباتو تکتانه په نغده توګه ترلاسه کېږي (۱۴۰۰۰۰ ) افغانۍ.
- د یوې دعواء لګښتونه محکمې ته ورکول کیږي (۲۸۰۰ ) افغانۍ.
- د برېښنا لګښتونه له بانکه ورکول کیږي (۱۴۵۰ ) افغانۍ.
- حسابي مشاور ته د اجورې ورکړه (۲۲۰۰) افغانۍ.

**لارښوونه**

پرانیستی یا افتتاحیه بیلانس ترتیب، پانګه تثبیتوو. پرانیستي یا افتتاحیه بیلانس پر خپلو اجزاوو باندې ویشو او د بیلانس حسابونه دایروو.

معلاملات په ژورنال کې ثبتوو.

- د ژورنال حسابونه اړوند دفتر ته لیږدوو، د لګښتونو د حاصلاتو د حسابونو لپاره بیل حسابونه دایروو.
- نتیجوي حسابونه تړو او د ګټې او تاوان حساب جوړوو.
- د ګټې او تاوان وروستۍ پایله پانګې ته لیږدوو.
- د بیلانس حسابونه تړو او د ختم بیلانس جوړوو.

| A | افتتاحیه بیلانس | P |
|---|---|---|
| 170000بانکي شتمني | پانګه 160000 | |
| 30000 پر تصدیو طلبات | پورونه یا دیون 140000 | |
| 20000 پر اشخاصو طلبات | | |
| 80000 د کسې ابتدایي شتون | | |
| **300000** | **300000** | |

ketabton.com - The Digital Library

**پانګه**

| D | C |
|---|---|
| | 160000 |
| | **160000** |

**دیون**

| D | C |
|---|---|
| | 140000 |
| | **140000** |

**کسه**

| D | C |
|---|---|
| 80000 | |
| **80000** | |

**بانکي شتمني**

| D | C |
|---|---|
| 170000 | |
| **170000** | |

**پر تصدیو طلبات**

| D | C |
|---|---|
| 30000 | |
| **30000** | |

**پر اشخاصو طلبات**

| D | C |
|---|---|
| 80000 | |
| **80000** | |

| شمېره | تشریحات | کریدت | دبت | افغانۍ | نیټه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د بانک په واسطه ورکړې | بانک | متفرقه لګښتونه | 6000 | 5/4/88 |
| 2 | دمجلې د ګډون لیاره ورکړه | کسه | متفرقه لګښتونه | 300 | 5/4/88 |
| 3 | دتیلفون دمحصول نغده ورکړه | کسه | دتیلفون لګښتونه | 80 | 5/4/88 |
| 4 | د بانکي شتمنۍ له درکه د ټکټاني عواید | دټکټاني حاصلات | بانک | 10870 | 5/4/88 |
| 5 | د بانک په واسطه د سوند موادو پیرېدنه | بانک | سوند لګښتونه | 3600 | 5/4/88 |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 6 | د بانک په واسطه د شتمنیو د لگښتونو ورکړه | بانک | متفرقه لگښتونه | 1620 | 5/4/88 |
| 7 | د طلباتو د ټکټاني نغدي ترلاسه کول | تکتانه حاصلات | کسه | 14000 | 5/4/88 |
| 8 | محکمې ته د دعوا د لگښتونو ورکړه | کسه | متفرقه لگښتونه | 2800 | 5/4/88 |
| 9 | د بانک په واسطه دبرېښنا د لگښتونو ورکړه | بانک | دبرېښنا لگښتونه | 1450 | 5/14/88 |
| 10 | حسابي مشاور ته د اجورې ورکړه | کسه | متفرقه لگښتونه | 2200 | 5/4/88 |

**د تیلفون لگښتونه**

| D | C |
|---|---|
| 80 | 80 |
| **80** | **80** |

**سره لگښتونه**

| D | C |
|---|---|
| 3600 | 3600 |
| **3600** | **3600** |

**د تیلفون لگښتونه**

| D | C |
|---|---|
| 1450 | 1450 |
| **1450** | **1450** |

**سره لگښتونه**

| D | C |
|---|---|
| 140000 | 140000 |
| **140000** | **140000** |

**پر اشخاصو طلبات**

| D | C |
|---|---|
| 20000 | 20000 |
| **20000** | **20000** |

**پر تصدیو طلبات**

| D | C |
|---|---|
| 30000 | 30000 |
| **30000** | **30000** |

ketabton.com - The Digital Library

| D | ټکټانه حاصلات C |
|---|---|
| 24870 | 10870 |
| | 14000 |
| **24870** | **24870** |

| D | پانګه C |
|---|---|
| 166820 | 160000 |
| | 6820 |
| **166820** | **166820** |

| D | کسه C |
|---|---|
| 80000 | 300 |
| 14000 | 80 |
| | 2800 |
| | 2200 |
| | 88620 |
| **94000** | **94000** |

| D | بانکي شتمني C |
|---|---|
| 10870 | 6000 |
| 170000 | 3600 |
| | 1620 |
| | 1450 |
| | 168200 |
| **180870** | **180870** |

| A | د ختم بيلانس P |
|---|---|
| 168200 بانکي شتمني | پانګه 166820 |
| 30000 پر تصديو طلبات | پورونه يا ديون 140000 |
| 20000 پر اشخاصو طلبات | |
| 88620 کسه | |
| **306820** | **306820** |

مضاعفه مح زيات شوی او د کسر له حساب څخه تنقيصيږي؛ يعنې په دواړو دفترونو کې بدلون رامنځ ته کېږي، چې نن ورځ ټولې تصدۍ له مضاعفې محاسبې څخه کار اخلي او د دغه سيستم بنسټيزه ګټه د حسابونو توازن او د محاسبې د تېروتنو پېژندنه او په اسانۍ سره يې موندنه ده، چې په دې صورت کې بايد د يوې معاملې دبتونه د مخامخې معاملې له کريډټونو سره مساوي وي.

ketabton.com - The Digital Library

د اکتیفي حسابونو بقایا: د اکتیفي حسابونو بقایا بیا د بیلانس اکتیف ته لیږدول کېږي او د پسیفو حسابونو بقایا هم د ختم بیلانس پسیف سمت ته بېرته لیږدول کېږي او یوازې د حاصلاتو او لګښتونو حسابونه د ګټې او تاوان بیلانس ته لیږدول کېږي. د پورتنیو تشریحاتو پربنسټ، بیل حسابونه یوازې دکار د آسانۍ لپاره رامنځ ته کېږي که چیرې د پرانستي یا افتتاحیه بیلانس اقلام واخلو او تزییدات پرې ورزیات او تنقیصات ترې منفي کړو، وروستی موجودي بیرته د ختم بیلانس ته لیږدوو، چې په دې اساس، د پرانیستی یا افتتاحیه بیلانس لومړنی بېلانس او تحول موندلی بیلانس د ختم بیلانس په نامه یادېږي. هر بیلانس د تېر کال په پای کې د پرانیستي یا افتتاحیه بیلانس حیثیت لري، چې په دې اساس، د تېر کال د ختم بیلانس د حمل په لومړي کې د نوي مالي کال ښودونکی وي.

د بیلانس تعریف: بیلانس د موجودۍ لیست له لنډیز څخه عبارت دی، چې پکې د تصدۍ ټوله شتمني، د تصدۍ پانګه، د تصدۍ پانګه او پورونه یا دیون په لنډه توګه درجیږي او دوه اړخونه لري. (Active او passive)، چې ټولې ثابتې او سیارې شتمنۍ په اکتیف (Active) اړخ کې درجېږي او ټوله پانګه او پورونه یا دیون په پسیف (passive ) اړخ کې ثبتیږي.

د افتتاحیه بیلانس د ترتیبولو طریقه: د یوې تصدۍ لومړنۍ یا ابتدایي موجودي په لاندې توګه ده، چې له مخې یې د یادې تصدۍ افتتاحیه بیلانس جوړوو.

| | |
|---|---|
| **الف: ثابته شتمني** | |
| ● ځمکه | 150000 |
| ● ودانۍ | 220000 |
| ● ماشین آلات | 180000 |
| ● لوازم | 60000 |
| **ب: سیارې شتمنۍ** | |
| ● طلبات | 70000 |
| ● بانک | 200000 |
| ● کسه | 50000 |
| **ج: پانګه او پورونه یا دیون** | |
| ● پورونه یا دیون | 130000 |
| ● پانګه | 800000 |
| اوس افتتاحیه بیلانس جوړوو. | |

ketabton.com - The Digital Library

| P | افتتاحیه بیلانس | A |
|---|---|---|
| ج: پانګه او پورونه یا دیون | | الف: ثابتې شتمنۍ |
| پانګه 130000 | | 150000ځمکه |
| پورونه یا دیون 800000 | | 220000 ودانۍ |
| | | 180000 ماشین |
| | | 60000 لوازم<br>**ب: سیارې شتمنۍ**<br>70000 طلبات<br>200000 بانک<br>50000 کسه |
| **930000** | | **930000** |

| شتمنۍ | پوورونه یا دیون | پانګه |
|---|---|---|

اختتامیه بیلانس: اختتامیه یا د ختم بیلانس هغه دی، چې اقتصادي فعالیت او د تصدۍ مالي پایلې د کب پر ۲۹ نیټه یا د مالي کال په پای کې په لنډه توګه ښیي.

د ګټې او تاوان د دفتر تعریف: د ګټې او تاوان دفتر یا د فعالیت ځای پایله، د عوایدو او لګښتونو له پرتلنې څخه عبارت دی. د ګټې او تاوان دفتر د حساب یو صورت دی، چې د یاد حساب په ښي اړخ کې حاصلات درجیږي او په کیڼ اړخ کې یې لګښتونه ثبتیږي. که وروستۍ پایله د دبت په سمت کې څرګنده شي، د ګټې پایله او که دکریدت په سمت کې څرګنده شي، د تاوان پایله ده.

**د پوښتنو د حل کیلي:**

د دې لپاره، چې د محاسبوي پوښتنو په حلولو کې له ستونزو سره مخ نه شو، دغه لارښود د حسابي اجراآتو پر مهال د پوښتنو د حل د کلۍ په توګه په پام کې نیسو. که چیرې له هغه سره سم د پوښتنو پر حلولو پیل وکړو، له تیروتنې او غلطۍ پرته به د ختم بیلانس پر جوړولو بریالي شو.

په لومړي ګام کې له لومړني موجودۍ څخه افتتاحیه بیلانس داسې ترتیبوو، چې شتمنۍ د بیلانس په اکتیف سمت او پانګه او پورونه یا دیون د موازنې لپاره د بیلانس په پسیف سمت کې ثبت شي، چې د بیلانس اکتیف سمت له پسیف سمت سره مساوي وي او که چیرې پانګه نامعلومه وي، د شتمنیو له سرجمع څخه پورونه یا دیون منفي کوو، په دې توګه پانګه ترلاسه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د شتمنيو سرجمع – پورونه يا ديون = پانګه

وروسته هغه معاملات، چې د فعاليت په بهير کې ترسره کيږي، په ژورنال کې په سمه توګه ثبت او ورپسې ورکړل شوي معاملات اړوند دفتر ته رسوو. د معاملاتو په ختم کې، لومړی مصارفاتي دفترونه او حاصلاتي دفترونه سره موازنه کوو؛ د دې دفترونو پاتې يا توپير، د فعاليت ځايونو په پايله کې، چې د ګټې او تاوان په نامه ياديږي، د ګټې او تاوان د تثبيت په غرض داسې ليږدول (انتقال) کيږي، چې د مصارفاتي دفترونو توپير د دبت په سمت او د حاصلاتي دفترونو توپير د ياد دفتر په کريدت سمت کې وښودل شي. وروسته د فعاليت ځای (ګټه او تاوان) د پايلې توپير، پانګې ته ليږدول (انتقال) کيږي. که چيرې فعاليت ځای د فعاليت په دې دوره کې ګټه کړې وي، پاتې(بقيه) له توپير سره د پانګې د کريدت په سمت کې ثبتيږي او که چيرې فعاليت ځای د فعاليت په دې دوره کې تاوان کړی وي، توپير د پانګې د دبت په سمت کې ثبتيږي.

تر دې وروسته د شتمنيو، پورونو يا ديون او پانګې حسابونه موازنه کوو او همدا دی، چې د ټولو دفترونو پاتې (بقيه) تثبيتيږي. د شتمنيو پاتې (بقيه) حسابونه د ختم بيلانس د اکتيف سمت او د پانګې، پورونو يا ديون پاتې (بقيه) حسابونه او د استهلاکاتو فندونه د ختم بيلانس پسيف سمت ته ليږدول کيږي، چې پر دې بنسټ، د ختم بيلانس هم بايد موازنه ولري او د ختم بيلانس اکتيف سمت د پسيف له سمت سره موازنه ولري. په دې صورت کې، په حسابي اجرأأتو کې کومه تيروتنه نه ده شوې او که چيرې د ختم بيلانس د اکتيف او پسيف ستونونو ترمنځ توپير رامنځ ته شي، په دې صورت کې په حسابي اجراأتو کې تيروتنه شوې ده.

**د دويم کلاس تحديدي حسابونه:**

څرنګه چې په تېرو بحثونو کې مطالعه شوې، په اقتصادي موسسو کې د فعاليت يا توليد رامنځ ته کول، لګښتونه غواړي، چې ياد لګښتونه په مستقيمه توګه پر ټمام شوي قيمت ترسره کيږي، که په دقيقه توګه مطالعه وشي، له دغو لګښتونو څخه ځينې د تصدۍ په توليدي فعاليت پورې اړوند او مشروط وي، چې د توليدي واحد د رامنځ ته کولو په پايله کې راڅرګنديږي، لکه بشپړې اجورې (تکميلي مزد)، د اجورې ګډ لګښتونه، د اومو موادو لګښت، د مرستيال موادو لګښت، د محرکه موادو لګښت، د معاشونو ورکړه، استهلاک او داسې نور، خو د يادو لګښتونو نورې برخې د تصدۍ په فعاليت پورې اړوندې او مشروطه نه دي، مګر د لګښتونو په توګه د ټول توليدي واحد پر قيمتونو محاسبه کيږي.

د دې لپاره، چې اصلي مخارج او حاصلات د يوې حسابي دورې په دننه او يا بهر رامنځ ته شوی وي، له هغو مخارجو او حاصلاتو څخه يې تفکيکوو، چې د تصدۍ په فعاليت پورې اړه ونه لري.

ketabton.com - The Digital Library

نو د دغې موخې لپاره يو ځانګړی ګروپ ځانګړی کړی دی، چې دغه ګروپ د دويم کلاس د ۲۷ حسابونو له ګروپ څخه عبارت دی او د ليکلي يا تحريري ګروپ په نامه نومول شوی دی. دغه لګښتونه او عوايد د حاصلاتو او د بې طرفه لګښتونو په نامه يادېږي، چې د دويم کلاس په دغه حسابي ګروپ کې لاندې اقلام ثبتيږي:

- هغه مخارج او تاوانونه، چې په فعاليت ځای پورې اړوند او مشروط نه دي.
- د مخارجو فوق العاده نقصانات.
- هغه مخارج او نقصانات، چې يوازې يوځل پيښيږي.

همدارنګه درې پورته نظريې د حاصلاتو په اړه هم مطابقت کوي.

په بيلانس کې د قيمت تحولات:

مخکې مو د بيلانس يوه يا څو نمونې مطالعه کړې، خو د دې لپاره، چې تصدۍ خپل اقتصادي موخې ته ورسيږي، په فعاليت پيلوي او د تصدۍ هر مالي فعاليت د بيلانس په اقلامو کې د تحول لامل کيږي او له بله پلوه د بيلانس سيستم له هغه صورت حساب څخه عبارت دی، چې د تصدۍ مالي وضع په يوې ټاکلي موده کې لکه د کب پر۲۹ يا د وري (حمل) پر لومړۍ ښيي. که چيرې د دغو دواړو ټاکلو نيټو يعنې د وري (حمل) لومړۍ نيټې (د فعاليت د دورې پيل) او د کب د ۲۹ نېټې (د مالي کال ختم ) ترمنځ يو سلسله مالي اقتصادي فعاليتونه ترسره نه شي، نو د وري (حمل) د لومړۍ نيټې اړوند بيلانس په خپل حال پاتې کيږي او په اقلامو کې يې تحولات نه رامنځ ته کيږي؛ په داسې حال کې که مالي او اقتصادي فعاليتونه ترسره شي، په بيلانس او اقلامو کې يې تحول رامنځ ته کيږي، لکه:

| A | B - A | P |
|---|---|---|
| 120000 اثاثيه | | پانګه 645000 |
| 300000 امتعه | | اوږدمهال پورونه يا ديون50000 |
| 540000طلبات | | لنډمهال پورونه يا ديون425000 |
| 160000 کسه | | |
| **1120000** | | **1120000** |

- که يادې تصدۍ د خپلو مالي فعاليتونو په ډله کې ۱۰۰۰۰ افغانۍ امتعه وپيرې، نو د کيسې له حساب څخه ۱۰۰۰۰ افغانۍ کمېږي او د امتعې په حساب کې زياتيږي، خو دغه تحول نه شو کولی د بيلانس په اکتيف کې د امتعې او کيسې په حساب کې وښيو؛ ځکه د دغو تحولاتو ښوول د بيلانس او موضوع شتون د نه پوهېدو وړ ګرځوي.
- که يادې تصدۍ ۱۲۵۰۰۰ افغانۍ لنډمهاله پور پر اوږدمهاله پور بدل کړي، لنډمهال پور

ketabton.com - The Digital Library

کمېږي او اوړد مهاله پور زیاتیږي.

- که چیرې یو ځل ۲۰۰۰۰ افغانۍ پور فرنیچر وپیرو.
- که چیرې د لنډمهالو پورونو (دیون) له جملې څخه ۲۵۰۰۰ افغانۍ یې ورکړل شي، نو په دې اساس کسه او همدارنگه لنډمهال پورونه (دیون) تنقیص ښیي، څرنگه چې مو مخکې هم یادونه وکړه، موږ نه شو کولی، په خپل بیلانس کې آني یعنې ډېر چټک تحولات وښیو، خو د آسانتیا لپاره د بیلانس د اقلامو کار یو تر بل لاندې نه لیکو، بلکې د یو بل څنګ ته یې لیکو او پورتنۍ پایلې ترلاسه کولی شو.
- اکټیفي بدلون: سرجمع بدلون نه مومي او موازنه په خپل لومړني حال پاتې کیږي.
- پسیفي بدلون: سرجمع بدلون نه مومي او موازنه په خپل لومړني حال پاتې کیږي.
- د اکټیف او پسیف تزیید: سرجمع زیاتیږي او موازنه په خپل حال پاتې کیږي.
- د اکټیف او پسیف تنقیص:- سرجمع کمیږي او موازنه په خپل حال پاتې کیږي.

په یوه لویه دولتي موسسه کې له ثبات څخه ثبت او د پېرېدنې د هیئت یا استازي د مسئولیتونو د ګټې د ترلاسه کېدو محاسبه

په لویو دولتي موسسو کې د مالونو او تجهیزاتو پېرېدل، د یوه پلاوي یا د پېرېدنې استازي او په خپله د پېرېدنې څانګې د رییس په وسیله کنټرولیږي.

**الف**- په موسسې پورې اړوند د ټولو مالونو ساتنه او مراقبت.

**ب**- د موسسې د نورو څانګو د غوښتنو ترتیب او (فایلنګ).

**ج**- د تحصیل شوو، پلورل شوو مالونو او په اطاق کې د موجودو مالونو او د تحویلخانو د اومو موادو له موجودۍ څخه دوامداره او جاري ثبت.

**د**- د یوه لوړ معیار له مخې، د خرڅلاو د ټولو اقلامو ساتنه لږ تر لږه د خریدارۍ له شعبې څخه په عین وخت کې له غوښتنلیکونو سره د زیاتو موادو د پیرېدنې لپاره.

**هـ**- له هغو ټولو مالونو څخه، چې د خرڅلاو او اومو موادو د څانګې په واک کې وي، په یوه منظم وخت کې د فزیکي موجودۍ ترسره کول.

په پورتنیو مسوولیتونو پورې اړوند، ځینې نورې چارې عبارت دي له: د دفتر غوښتنلیکونه، د خرڅلاو او اومو موادو د خونې غوښتنلیکونه، د دوامداره موجودۍ کارتونه او د فزیکي موجودۍ پاڼې.

دفتري غوښتنلیکونه:که چیرې یو کاتب وغواړي د اومو موادو له اطاق (تحویلخانې) څخه اقلام بهر کړي، اړ دی، چې د دفتر د غوښتنلیک یوه فورمه ډکه (خانه پري) او په خپله او یا د څانګې آمر پکې لاسلیک وکړي او ورپسې د غوښتنلیک اصلي کاپي اړوند تحویلدار ته لیږي او مواد تسلیمیږي.

د تسلیمۍ پر مهال، اړوند تحویلدار په جدول کې د هر هغه جنس مخې ته یوه علامه ږدي، چې نوموړي شخص ته یې تسلیموي؛ دغه چاره، له تحویلخانې څخه د جنس پر وتو (خروج) او بل شخص ته یې پر تسلیمۍ دلالت کوي.

ketabton.com - The Digital Library

تحویلدار د دفتري غوښتنلیک سندونه د دوو دلیلونو له مخې له ځانه سره ساتي.

لومړی دا چې له تحویلخانې څخه د موادو ایستل یوازې د ده له صلاحیتونو څخه دي او دویم دا چې د غوښتنلیک دغه فورمې د معلوماتو یوازینی سند دی، چې نوموړی یې د خرڅلاو او د اومو موادو د برابرولو څانګې ته د متداومه موجودۍ کارتونو د جوړولو لپاره لیږي.

| | |
|---|---|
| • شمیره................... | **د افغانستان اسلامي جمهوریت** |
| دتحویلخانې د غوښتنلیک نیټه | |
| • نیټه....................... | د ف س ۹ فورمه د تحویلخانې غوښتنلیک |
| | 3- د غوښتونکې څانګې نوم |
| د ترمیم فرمایش | 4- د نمایندګۍ نوم |

**مهرباني لاندې خدمتونو او اجناس برابر کړئ.**

| د اقلامو شمیره | د زېرمې شمیره | تفصیلات – خد متونه | کچه | واحد | په حساب کې معامله شوه |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | • هغه اقلام، چې تري کرښه راتاو شوې وي، په تحویلخانه کې شتون نه لري؛ د هغې د خریدارۍ وړاندیز دې وشي.<br>• لاسلیک---------  --------------<br>دتحویلخانې آمر  نیټه | | | |

13- د صلاحیت لرونکي لاسلیک:------

14- د تحویلخانې د آمر لاسلیک:------

توزیع:- په یوه اصل کې

الف:-

ب:-

ج:-

ketabton.com - The Digital Library

## د اومو موادو کارت ، د تحویلخانې کارت
## د صحت شامپو۲۲۷ ملي لیتر

د جنس شمېره:------ د جنس نوم:________________

موقعیت:---------

اعظمي حد۱۰۰ ، ټیټ حد۲۰ .

| نیټه | تحصیل | بیلانس | نیټه | تحصیل | صدور | بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | 16 | 60 | 10 | 32 |
| | | | 21 | | 6 | 92 |
| | | | 23 | | | 82 |
| | | | 25 | | | 76 |

**د متداومې (دایمي) موجودۍ کارت:**

متداومه(دایمي) موجودي: د خرڅلاو او اومو موادو په ځانګه کې یوه متداومه موجودۍ له هغو ټولو موادو څخه ترسره کېږي، چې په تحویلخانه کې برابرېږي. دغه دایمي موجودي، د یوه دایمي کارت په بڼه، (د تحویلخانې کارت) لکه څرنګه چې په پورتنۍ بیلګه کې ښودل شوې، ساتل کیږي.

د اومو موادو کارت د تحویلخانې د دفترونو او سندونو له مهمو توکو څخه ګڼل کېږي. تحویلدار د دغو کارتونو په وسیله، د خپلې تحویلخانې د موادو په اړه له نویو او وروستیو معلوماتو څخه خبرېږي. دغه کارتونه، چې د الفبا په ترتیب د جنس د نوم له مخې ترتیبېږي، د یوه ښه مأخذ او دفتر په بڼه د تحویلخانې موادو د ټاکلو او کچې د تثبیت لپاره رامنځ ته کېږي. موږ په اسانۍ سره کولی شو، د هر هغه نوي جنس نوم، چې په تحویلخانه کې داخلېږي، په دغو کارتونو کې درج کړو او یا تحویلدار کولی شي، له دغو کارتونو څخه په ګټه اخیستنه، هره پوښتنه چې د ده تر واک لاندې توکو په اړه رامنیځته کیږي، ځواب کړي.

د متداومې موجودۍ د کارت نور جزییات تشریح شوي دي.

الف- د جنس شمېره: او یا د موادو شمیره د جنس له لنډې نومونې څخه عبارت دی، چې کېدای شي له دې پرته، چې د جنس نوم او بشپړو مشخصاتو ته مراجعه وشي، جنس په ښه توګه تشخیص شي.

ب- د موقعیت شمېره: یوازې د لویو تحویلخانو او یا ګدامونو لپاره د ارزښت وړ ده.

د بیلګې په ډول، (۲۵) یوازې د تحویلخانې له یوې ځانګړې ځانګې څخه استازیتوب کوي او د

ketabton.com - The Digital Library

(۴۲) شمېره د هماغې ځانګې په څلورمه الماری کې د دويم صندوق مفهوم لري.

ج- اعظمي حد: د جنس له هغه لوړ مقدار څخه عبارت دی، چې د خريدارۍ د شعبې له خوا ترې د کار اخيستنې اجازه ورکړل شوې ده. کله چې تحويلدار د خريدارۍ له شعبې څخه د زياتو موادو غوښتنه او يا سپارښتنه کوي، اعظمي حد تر جاريه بيلانس، چې د اومو موادو کارت (تحويلخانه) يې کم ښيي، ګزارش ورکوي.

د- د يوه ښه تحويلدار مواد او جنسونه هيڅکله نه تمامېږي. کله چې د يوه جنس زيرمه ټيټې کچې ته ورسيږي، تحويلدار مجبور دی، يو غوښتنليک ترتيب کړي او په ترڅ کې يې د خريدارۍ له شعبې څخه د زياتو موادو د پېرېدلو غوښتنه وکړي.

هـ- کله چې له تهيه کوونکي څخه مواد ترلاسه شي، شمېره يې د تحصيل په ستون کې درجيږي.

و- د صدور د ستون مندرجات، د دفتر د غوښتنليکونو له مخې، له تحويلخانې څخه د جنسونو له ايستلو سره جوخت اخيستل کيږي.

د تحويلخانې غوښتنليک: تحويلدار له بهر څخه د موادو د سپارښتنې اجازه نه لري؛ هغه يوازې د دې حق لري، چې د اړينو موادو د زياتې پېرېدنې رپوټ شعبې ته وړاندې کړي، کله چې د جنس يا موادو د ګودام زيرمه خپلې ټيټې کچې ته ورسېږي، تحويلدار د تحويلخانې له خوا يو غوښتنليک ترتيبوي.

غوښتل شوی مقدار د اعظمي حد او اومو موادو د کارت د بيلانس ترمنځ له موجود توپير څخه عبارت دی. که چيرې د خريدارۍ پلاوی غوښتنليک منظور کړي، نو تر لاسليکولو وروسته يې ټايپست ته ورکوي، ترڅويې د يوې خريدارۍ د فورمې په بڼه ټايپ کړي.

فزيکي موجودي

په لويو موسسو کې د فزيکي موجودۍ د ترسره کولو کړنلاره، تر ډېره بريده په کوچنيو موسسو کې د موجودۍ له چارې سره ورته والی لري.

دا جوته ده، چې په لويو موسسو کې د موجودۍ زياتې ځانګې موجودې وي او د سوداګريزو توکو او مالونو کچه هم زياته وي، خو په ټوليزه توګه د دواړو طرزالعمل يو شانته دی.

**د ګټې او تاوان صورت**

د ګټې او تاوان صورت، په يوې ټاکلې موده کې د يوې موسسې د يو سلسله حسابي محاسباتو له خالصې ګټې او تاوان څخه عبارت ده. دا د خرڅلاو د يوه دفتر د حساب صورت نه دی، خو دا په خپله پر دې دليل دی، چې ولې سندونه له متداومې موجودۍ څخه په دقيقه توګه اخيستل کيږي او فزيکي موجودي لږ تر لږه په کال کې يوځل ترسره کيږي.

لکه څرنګه چې په شکل کې هم ښودل شوی، د مالونو موجودي د کال په پيل او پای کې پخپله د موسسې د خالصې ګټې او تاوان د محاسبې لپاره يو عمده بنسټ وي.

ketabton.com - The Digital Library

## د الف، ب، ج کمپنۍ

## ۱۷- ۴ د ګټې او تاوان صورت

د هغه کال لپاره، چې د ۱۳۸۸ کال د کب پر ۲۹ مه پای ته ورسید.

**د خرڅلاو عاید**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 10000000 | | | | د مالونو خرڅلاو |
| | 1800000 | 1/1/11388 | | د مالونو موجودي |
| | 7100000 | | | پیرېدنه |
| | 8900000 | | | د هغو مالونو بیه، چې د خرڅلاو لپاره چمتو دي. |
| | 1400000 | 29/12/1388 | | د مالونو موجودي |
| 7500000 | | | | د پلورل شوو مالونو قمیت. |
| 2500000 | | | | ناخالصه ګټه |
| | | لګښتونه | | |
| | | 850000 | معاشونه او اجورې | |
| | | 104000 | د دفتر د وسایلو لګښتونه | |
| | | 16000 | د تیلفون اوتیلګراف لګښتونه | |
| | | 14000 | پستي لګښتونه | |
| | | 145000 | د کرایې لګښتونه | |
| | | 25000 | د بیمې لګښتونه | |
| | | 32500 | د برېښنا، تودولو او روښانولو لګښتونه | |
| | | 165000 | د استهلاکي تنزیل لګښتونه | |
| | | 27000 | د غیرحسنه پور لګښتونه | |
| | | 21500 | ټولیز لګښتونه | |
| 1400000 | | | د لګښتونو مجموع | |
| 11000000 | | | خالصه ګټه | |

ketabton.com - The Digital Library

## د څلورم څپرکي د مطالبو لنډيز

**په دولتي تصديو کې سنجش او محاسبه:**

د موجودۍ کړنه: د افغانستان د سوداګرۍ د مقررو له مخې، هر سوداګر اړ دی، چې د هر کال په پیل او پای کې د خپلې شتمنۍ او پورونو (دیون) د اقلامو موجودي ترسره کړي؛ د موجودۍ په اړه همدغه اړین اجراآت، د موجودۍ د کړنې یا عمل په نامه یادېږي.

د موجودۍ لیست: د موجودۍ د چارو پایلې، چې د شتمنیو او پورونو(دیون) ټول اقلام په بر کې نیسي، په یوه بېل لړلیک یا فهرست کې دې جمع شي او دغه فهرست د موجودۍ د لیست په نامه یادېږي.

د موجودۍ د لیست بېلګه:

| شمیره | د شتمنۍ نوم | فرعي ستون | اصلي ستون |
|---|---|---|---|
| A | ثابته شتمني | | |
| 1 | ځمکه | 290000 | |
| 2 | ودانۍ یا تعمیر | 230000 | |
| 3 | د ترانسپورت وسایل | 190000 | |
| | د ثابتې شتمنۍ مجموع | | 710000 |
| B | سیاره شتمني | | |
| الف | امتعه | | |
| 1 | د پسه پوستکی | 63700 | |
| 2 | د غوایي پوستکی | 42600 | |
| | د امتعې مجموع | | 106300 |
| ب | بانکي شتمني | | |
| 1 | په ملي بانک کې | 280000 | |
| 2 | په پشتنې تجارتي بانک کې | 750000 | |
| 3 | په د افغانستان بانک کې | 200000 | |
| | د بانکي شتمنۍ مجموع | | 1230000 |
| ج | طلبات | 30000 | |
| 1 | د آهو بوټونو پر فابریکې باندې | 25000 | |
| 2 | د عقاب بوټونو پر فابریکې باندې | 22000 | |
| 3 | محمود بوټیک | | |
| | متفرقه طلبات | | |

ketabton.com - The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| 4 | د طلباتو مجموع | | |
| C | پورونه یا دیون | | |
| 1 | اوږدمهاله پورونه یا دیون | 1010000 | |
| 2 | منځ مهاله پورونه یا دیون | 11000 | |
| 3 | لنډ مهاله پورونه یا دیون | 23000 | |
| | د پورونو یا دیون مجموع | | 1044000 |

| P | افتتاحیه بیلانس A |
|---|---|
| د پانګې مجموع 1099300 دپورونو(دیون) مجموع 1044000 | د ثابتې شتمنۍ مجموع 710000<br>د امتعې مجموع 106300<br>دبانکي شتمنۍ مجموع1230000<br>د طلباتو مجموع 97000 |
| 2143300 | 2143300 |

**د ژورنال دفتر:**

ژورنال، چې د روزنامچې دفتر، ورځنی یا یومیه دفتر او د اساس دفتر په نامه یادیږي، د معاملاتو د لومړني ثبت دفتر په نامه هم نومول کېږي. ژورنال له فرانسوي لغت (JOUR) څخه اخیستل شوی، چې د ورځې په معنا دی؛ یعنې دغه دفتر له هغه دفتر څخه عبارت دی، چې د یوې تصدۍ د مالي کال د ټولو فعالیتونو د رامنځ ته کېدو نېټه په ترتیب سره ثبتوي او کریډتي او دبټي حسابونه ټاکي او په معین ستون کې یې په اړه تشریحات ورکول کیږي.

**د ژورنال دفتر بېلګه**

| شمیره | تشریحات | نیټه | پیسې | C | D |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د امتعې پیرېدل په نغده | 1/3/1388 | 100000 | کسه | امتعه |
| 2 | د اوږدمهاله دیون بدلول پر لنډمهاله دیون باندې | 5/4/1388 | 125000 | لنډ مهاله دیون | اوږد مهاله دیون |
| 3 | د موبل او فرنیچر پیرېدل په پور | 7/5/1388 | 20000 | لنډ مها له دیون | اثاثیه |
| 4 | له کسې څخه د لنډمهاله دیون ورکړه یا تادیه | 9/6/1388 | 25000 | کسه | لنډ مهاله دیون |

ketabton.com - The Digital Library

لیجرLedger : که چیرې معاملات په یوه ټاکلې دوره کې ژورنال ته رسېدلي وي، بل پړاو، پر بېلو حسابونو یې ویشنه ده، چې دغه بیل حسابونه له لیجر څخه عبارت دي، چې د معاملاتو تر ویشنې او تقسیماتو وروسته په لیجر کې خپل دایمي ځای مومي؛ دغه دفتر د اصلي یا لوی دفتر په نامه هم یادېږي؛ څکه چې ټول معاملات د تقسیم بندۍ په بڼه پکې ثبتیږي؛ ژورنال ټول معاملات د رامنځ ته کېدو له نیټې سره یو ځای لیکي؛ په داسې حال کې، چې لیجر د معاملاتو تر تجزیې وروسته، د معاملاتو د هر یوه لپاره بیل حسابونه جوړوي.

د استهلاک د رامنځ ته کېدو عوامل: د ثابتې شتمنۍ استهلاک د لاندې بېلابېلو عواملو له امله ترسره کیدای شي.

د استهلاکاتو د رامنځ ته کېدو اقتصادي علت:

- استهلاک د تخنیک د پرمختګ له امله.

د استهلاکاتو د رامنځ ته کېدو تخنیکي او طبیعي لاملونه.

- د استفادې او کارونې له امله استهلاک.
- د نه استفادې له امله استهلاک.
- د ذاتي ارزښت د تقلیل له امله استهلاک.

د استهلاک د رامنځ ته کېدو حقوقي لاملونه:

- د قوانینو او قراردادونو پربنسټ استهلاک.
- د مالیاتي قوانینو پربنسټ استهلاک.

د غیرمترقبه عواملو په پایله کې د استهلاک رامنځ ته کېدل.

د نیمګړې پانګونې له امله د استهلاک رامنځ ته کېدل.

د استهلاکونو د سنجش میتود: د ثابتو شتمنیو د استهلاکونو د سنجولو لپاره مقرر میتودونه شته، چې تصدۍ کولی شي د خپلو تولیدي شرایطو په پام کې نیولو سره له دغو میتودونو څخه کار واخلي؛ لکه:

۱- پر خطي سیستم باندې د استهلاک د سنجولو میتود.

۲- د صعودي سیستم له مخې د استهلاک د سنجولو میتود.

۳- د نزولي سیستم له مخې د استهلاک د سنجولو میتود.

د ګټې او تاوان د معاملاتو پایله اخیستنه: لکه څرنګه چې د هرې تصدۍ موخه د ګټې ترلاسه کول دی، نو په دې اساس تصدۍ د ګټې د ترلاسه کولو لپاره فعالیت کوي؛ یعنې امتعه په ارزانه بیه اخلي او د ګټې په تثبیت یې بېرته پلوري او یا  د کریدت (پور) د ورکړې په وړاندې تکتانه ترلاسه کوي او که چیرې دغه منابع په نغده توګه ترلاسه کړو، څرګنده ده، چې په حساب کې پانګه زیاته

ketabton.com - The Digital Library

شوې؛ يعنې کريډت کيږي؛ ځکه چې د پانګې کريډت د پانګې د تزييد په معنا ده. که چيرې موږ دغه حاصلات تراوسه نه وي اخيستي، په طلباتو کې دبتيږي.

| P | ګټه او تاوان | A |
|---|---|---|
| د ټکټاني حاصل 8000<br>د کميشن  حاصل25000 | | قرطاسيه 2000<br>د ټکټاني لګښتونه 10000<br>معاش 10000<br>ګټه 11000 |
| **33000** | | **33000** |

الف- هغه بيلانسي حسابونه، چې اکتيفي او پسيفي دي. بيلانسي حسابونه له هغه حسابونو څخه عبارت دي، چې اقلام يې په مستقيمه توګه د ختم بيلانس ته ليږدول کيږي. لکه د کسر حسابونه، طلبات، شتمنۍ، پانګه، پورونه يا ديون او داسې نور.

**ب**- نتيجوي حسابونه هغه حسابونه دي، چې اقلام يې په ګټې او تاوان پورې اړه لري، چې په پايله کې د تصدۍ ګټه او تاوان څرګنديږي؛ لکه د پانګې د تثبيت فورمول د عوايدو او لګښتونو حسابونه.

پانګه جمع د شتمنيو- پورونه يا ديون= پانګه

ketabton.com - The Digital Library

## د څلورم څپرکي پوښتنې:

۱. د پوستکو په تصدۍ کې د موجودۍ چارو، د کب د میاشتې په آخر کې لاندې اقلام ښودلي دي. د هغې د موجودۍ لیست جوړ کړئ؟
۲. په افغانستان کې له قانون سره سم د موجودۍ چارې څرنګه ترسره کیږي، معلومات ورکړئ؟
۳. د ژورنال دفتر څه شی دی، له بېلګې سره یې واضح کړئ؟
۴. لیجر څه شی دی، له بېلګې سره یې واضح کړئ؟
۵. د لیجر ګټې ولیکئ؟
۶. د صنعتي تصدۍ اومه مواد تشریح کړئ؟
۷. مرستیال یا معاونه مواد څه شی دي، په تولیدي تصدیو کې یې له بیلګې سره تشریح کړئ؟
۸. محرکه مواد څه شی دي، له بېلګې سره یې واضح کړئ؟
۹. د فعالیت پایله څرنګه ترلاسه کېږي، له فورمول سره یې تشریح کړئ؟
۱۰. د تصدۍ د کارتمامو تولیداتو په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۱. د کار له وسایلو څخه د استفادې د مودې او د استهلاک د سنجش په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۲. د استهلاک د رامنځ ته کېدو عوامل توضیح کړئ؟
۱۳. د استهلاک د رامنځ ته کېدو اقتصادي علت تشریح کړئ؟
۱۴. د استهلاک د رامنځ ته کېدو تخنیکي علل له بېلګې سره واضح کړئ؟
۱۵. د دبت، کریدت، اکتیف، پسیف، پاتې یا بقیه او موازنې په اړه له بېلګو سره معلومات ورکړئ؟
۱۶. د ګټې او تاوان دفتر رسم کړئ؟
۱۷. د ژورنال او لیجر دفترونه د بېلګې په توګه رسم کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني(اعتمادي) وجهي صندوق اجرایي کړنلارې

**ټولیزه موخه:**
له مالي چارو، تدارکاتو، محاسبې او د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني (اطمیناني) پیسو صندوق له ځانګړو اړتیاوو سره، د افغانستان د اسلامي جمهوریت په وزارتونو او ولایتونو کې د بشري منابعو آشنا کول.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلان له لاندې موضوعاتو سره آشنا شي:

- له دغو طریقو او دستورالعملونو څخه د استفادې له کړنلارې سره.
- د لګښتونو له ټولیزو شرایطو سره.
- له معاشاتي لګښتونو سره.
- له غیرمعاشاتي معمولو لګښتونو سره.
- له خاصو ورکړو یا تادیاتو سره.

**له دغه دستور العمل نه د ګټې اخیستنې څرنګوالی:**

دغه دستورالعمل د اړوندو وزارتونو د تهیې او تدارکاتو، اداري، مالي او د معاشونو د څانګو او بېلابېلو دولتي ادارو د ګټې اخیستنې لپاره ترتیب شوی دی. همدارنګه مستوفیان او په ولایتونو کې د وزارتونو اړوندې څانګې هم باید له دغه دستورالعمل څخه ګټه واخلي.

دغه دستورالعمل په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لیکل شوی دی. د دغو ژبو په متن کې د توپیر په صورت کې انګلیسي متن د اعتبار وړ ګڼل کېږي.

د دستورالعمل نسخې: اوسنۍ د (۱۳۸۹) کال موجوده نسخه، د دغه دستورالعمل درېیمه نسخه ده. په دغه نسخه کې، نوي معلومات لکه: د وړیا مرستو په ژمنلیک کې ترسره شوي تعدیلونه او ورته کړنلارې، چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او نړیوال بانک ترمنځ منل شوي دي. سربېره پر دې د تدارکاتي کړنلارو د اجرا کولو په اړه اضافي توضیحات او همدارنګه د تدارکاتو نوی قانون (PPL) چې د ۱۳۸۷ کال د مرغومي میاشتې راهیسې د اجرا وړ دی، شامل دی.

ketabton.com - The Digital Library

د دغه دستورالعمل محدوده: دغه دستورالعمل یوازې د اضافي شرایطو په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اړتیاوو لپاره په پام کې نیول شوی دی او فقط د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې وجوهو د صندوق (ARTF) له خوا د مطلوبو لګښتونو د تمویل په موخه دی. دغه دستور العمل د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ترسره کېدونکو اجرایي کړنلارو ځایناستی او یا بشپړه تشریح نه دی، او داسې باید و نه ګڼل شي.

**د لګښتونو عمومي شرایط**

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې وجهي صندوق (ARTF) د تاسیس موخه:

(ARTF) یا د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې وجهي صندوق، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت پانګه ییز او جاري لګښتونه (GIRA) او د افغانستان لپاره د بیارغونې اړینې پروژې او پروګرامونه تمویلوي او هېواد ته د افغان متخصصو کدرونو د بېرته ستنېدو لپاره لاره هواروي. د افغانستان دبیارغونې لپاره امانې وجهي صندوق (ARTF) د نړیوالې ټولنې د مرستو عادلانه وېش ترویجوي او په دې برخه کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پر مالکیت او رهبرۍ ټینګار لري او همدارنګه د دولت له هغه وړاندیز شوي پرمختیایي پلان څخه ملاتړ کوي، چې له ملي بودجې څخه ورته تخصیص ځانګړی شوی دی.

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې وجهي صندوق (ARTF) ګټې په لاندې توګه دي:

— دبیارغونې لپاره دمرستو په برخه کې د روڼتیا (شفافیت) او حساب ورکولو د کچې لوړول.
— د ملي اهدافو پر بنسټ، د بیارغونې پلان د همغږي کولو په موخه، د ملي بودیجې له پیاوړتیا سره مرسته.
— د دولت موجود ظرفیت ته په پام سره، د فشارونو کمولی او د وخت په تېرېدو سره د بنسټیزو ظرفیتونو له ودې سره یې مرسته.
— د دولت د لا اغېزمن فعالیت په موخه، د جاري بودیجې د لګښتونو له مالي حمایت سره مرسته.

**د افغانستان نافذه قوانین:**

د دې لپاره چې لګښتونه د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې وجهي صندوق (ARTF) له انده مطلوب وګڼل شي، باید د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت قوانین او مقررې مراعات شوې وي. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اجرا وړ قوانین او مقررې عبارت دي له (خو پر دې نه محدودیږي):

— د کلنۍ منظور شوې بودیجې (لایحه).

ketabton.com - The Digital Library

- د مالي او عامه لګښتونو د اداري قانون (PFEML).
- د ملکي خدمتونو قانون.
- د تدارکاتو قانون او نور اړوند طرزالعملونه.
- د تدارکاتو د پالیسۍ اداري له خوا د صادر شویو متحدالمالونو په ګډون د مالیې وزارت له خوا صادر شوي متحدالمالونه.

د یادونې وړ ده، چې د عامه تدارکاتو قانون، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته اجازه ورکړې، د هغو نړیوالو موسسو تدارکاتي مقررې چې له دغه قانون سره په ټکر کې وي، په دې صورت کې حکومت کولی شي، د مخکنیو ژمتیاوو په پام کې نیولو سره، په ترون کې د تمویل شویو جنسونو، خدمتونو، ساختماني چارو د تهیې او تدارک په برخه کې، د یادو موسسو له مقررې سره موافقه وکړي.

د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت سره د نړیوال بانک (WB) هوکړه لیک (موافقتنامه) د نړیوال بانک مقررو ته اشاره لري. په دې برخه کې، د افغانستان قانون اجازه ورکړې ده، که چیرې د نړیوال بانک (WB) د مقررو او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د قانون تر منځ ټکر رامنځ ته شي، نو د دغو لګښتونو لپاره باید د نړیوال بانک مقررې رعایت شي.

**کلنۍ مصوبه بودیجه:**

لګښتونه یوازې هغه مهال مطلوب ګڼل کیږي، چې په کلنۍ بودیجه کې منظور شوې وي. دغه الزامونه د افغانستان د قوانینو له مخې او همدارنګه د (GRIA) او (WB) ترمنځ د منلو وړ تطبیقېدونکو معیارونو پر بنسټ، وړاندې کیږي.

کلنۍ بودجه د دولت له خوا ترتیب او وړاندیز کیږي او د پارلمان له خوا منظوریږي او د کال په اوږدو کې فقط د هغوی په مجوز سره د اصلاح وړ ده.

د مالي او عامه لګښتونو د اداري قانون(PFEML): د مالي او عامه لګښتونو د اداري قانون (PFEML)، د دولتي عوایدو او لګښتونو د مدیریت په برخه کې، اضافي مقررې او کړنلارې چمتو کړې دي.

د ملکي خدمتونو قانون: د ملکي خدمتونو قانون، تادیه، رتبه بندي او په استخدام پورې نور اړوندو اصطلاحات په بر کې نیسي.

د تدارکاتو قانون او نور اړوند طرزالعملونه: ټول جنسونه او خدمتونه باید د افغانستان د تدارکاتو (PPL) له قانون او اړوند قوانینو سره سم تدارکات شي. د یادونې وړ ده، د تدارکاتو نوی قانون، د تهیې او تدارکاتو په برخه کې، د بسپنه ورکوونکو (تمویلوونکو) موسسو د شرایطو په پام کې نیول مجاز ګڼلې دي.

ketabton.com - The Digital Library

د تدارکاتود پالیسۍ د اداري (PPU) له خوا د صادر شویو متحدالمالونو په ګډون د مالیې وزارت (MOF) له خوا صادر شوي متحدالمالونه:

مالیې وزارت تل د مطلوبو لګښتونو په برخه کې، له اضافي مقررو او لارښودو سره یو ځای یو لړ متحدالمالونه صادروي. دغه متحدالمالونه په منظمه توګه پر وزارتونو او د اړوندو ولایتونو پر مستوفیتونو وېشل کېږي.

**د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) نورې اړتیاوې:**

د افغانستان د بیارغونې لپاره اماني وجهي صندوق (ARTF) د مطلوبو لګښتونو لپاره، د افغانستان د قوانینو او مقررو سربیره، یو لړ نور اضافي شرایط هم ټاکلي دي. په دغه اضافي شرایطو کې لاندې موارد شامل دي:

- د بلاعوضو مرستو په تړونلیک کې ټاکل شوې اړتیاوې او اصلاحات یې.
- د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) د تطبیق وړ معیارونه (د ۱۳۸۳ کال د لیندۍ میاشتې پر ۲۱ بیاکتنه شوې ده).
- د مطلوبیت د ځانګړو برخو په تړاو، د نړیوال بانک یا د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) د رهبرۍ کمیټې پرېکړې.

د بلاعوضې مرستې د هوکړه لیک الزامونه (ARTF): د بلاعوضې مرستې په توافقنامه (ARTF) کې، لګښتونه (ARTF) پر پانګه ییزو او جاري لګښتونو وېشل شوي دي. (۱ برخه) د لومړۍ برخې تر سرلیک لاندې د لګښتونو د مطلوبیت لپاره د بلاعوضې مرستې توافقنامه، ځانګړې اړتیاوې په ګوته کړې دي:

- لګښتونه باید د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت (GIRA) له بودیجې سره سم وي.
- د نظامیانو، شبه نظامیانو او پولیسو لګښتونه د نامطلوبو لګښتونو جزء دي او نه تمویلېږي.
- لګښتونه په هغه صورت کې مطلوب وي، چې د هوکړه لیک د لاسلیکېدو د۲۰۰۲ د مې ۱۳ (۱۳۸۱/۲/۲۳) تر نیټې وروسته ترسره شوې وي.

په ضمن کې د بلاعوضې مرستې په هوکړه لیک کې جزییات، د پېرېدلو کړنلارې ښیي.

د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق د تطبیق وړ معیارونه: دغه د اجراء او تطبیق وړ معیارونه، هغه توافقات دي، چې د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) د رهبرۍ کمیټې او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ترمنځ ترسره شوي دي، ترڅو د لګښتونو په برخه کې، د دولت د کړنو د ښه والي لپاره مبنا او بنسټ وګرځي. دغه معیارونه، د ورکړې او د دولتي لګښتونو (SOE) په صورت کې یې د ثبت لپاره او د لګښتونو د ورکړې او د سندونو او مدارکو د تهیې ترمنځ یوه زماني دوره مشخصوي.

ketabton.com - The Digital Library

په اړوندو ځانګو کې د اجرا وړ اړینو معیارونو جزییات، په دغه دستورالعمل کې په تفصیل سره توضیح او تشریح شوي دي. د اجراء وړ معیارونو بشپړه ټولګه، د دغه دستورالعمل په II برخه کې وړاندې شوي دي.

د ځانګړو مواردو په اړه د نړیوال بانک یا د رهبرۍ کمېټې (ARTF) پرېکړې: ان د ټولو قوانینو او مقررو د رعایتولو ترځنګ کېدای شي، ځینې وختونه په مطلوب یا نامطلوب ځای د یو ځانګړي لګښت د راوستلو په برخه کې، یو لړ شکونه او تردیدونه رامنځ ته شي. د داسې مواردو د رادمخه کېدو په صورت کې به نړیوال بانک یا د رهبرۍ کمېټه پرېکړه کوي.

( د ځمکې د پېرېدنې لګښتونه، د همداسې نامطلوبو پرېکړو یوه بېلګه ده).

**معاشاتي لګښتونه:**

مقدمه

د معاشاتي لګښتونو تعریف: معاشاتي لګښتونه، ټول هغه لګښتونه دي، چې د دولت د مالي سیستم (AFMIS) په ۲۱۱۰۰ تر ۲۱۱۹۹ بودیجوي کودونو کې ثبت شوي دي. په دغه لګښتونو کې د اصلي معاشونو، امتیازاتو او بخششیو ورکړه شاملېږي.

معاشاتي لګښتونه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لګښتونو د زیاتې برخې په بر کې نیولو سره، د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) د تمویل وړ تر ټولو لویه برخه جوړوي. د معاشونو د استحقاق پروسه کولی شو، په لاندې توګه رالنډه کړو:

| مرجع | د معاشونو د استحقاق پروسه | | د اړتیا وړ سندونه او مدارک |
|---|---|---|---|
| ۵-۲-۳ | استخدام | = | د تقررمکتوب/ داستخدام قرارداد/ تشکیل |
| ۵-۳-۳ | حاضري | = | د حاضرۍ دفتر او راپور (الکترونیک) |
| ۵-۳-۴ | د ورکړې وړ اصلي معاش (خالصه ورکړه) | = | د معاشونو استحقاق (م ۴۱ فورمه) |
| | صادر شوی چک | = | م۱۶ فورمه او چک |
| ۵-۳-۵ | د معاش ورکړه | = | د م ۴۱ فورمې لاسلیک یا د بانکي انتقال ثبت |

ketabton.com - The Digital Library

د لګښتونو د مطلوبیت د شرایطو دغه څانګه، د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) له خوا، د معاشونو او په هغه پورې د اړوندو لګښتونو ورکړې په بر کې نیسي. دغه طرزالعملونه نه یوازې د میاشتنیو معاشونو د لګښتونو ورکړه، بلکې د بخششیو ورکړه هم په بر کې نیسي.

**استخدام:**

د معاشونو د مطلوبیت لومړنی شرط، د استخدام مدرکونه دي. یو شخص ته ورکړه هغه مهال مطلوب ګڼل کیږي، چې د وزارت له خوا د تقرر او استخدام په اړه یې مدرک په لاس کې وي.

استخدام یا د خدمت قرارداد ( د اجیرانو) د کارکوونکو د تقرر مکتوب په وسیله اثباتېږي. امکان لري، د هغو کارکوونکو قرارداد چې ډېر وړاندې استخدام شوي دي، اوسمهال په لاس کې نه وي؛ په داسې مواردو کې د کارکوونکي، وروستۍ ترفیع پاڼه د نوموړي د استخدام ترټولو معتبر مدرک ګڼل کېږي. همدارنګه د اجیرانو د خدمت قرار داد او د کارکوونکو د تقرر مکتوب، د مامور د هغه اصلي معاش د دقیقې کچې لپاره یو مدرک دی، چې دی یې په میاشتني توګه ترلاسه کوي.

د استخدام د اثباتولو په منظور، اړوند پستونه باید د هغه تشکیل په چوکاټ (سازماني چارټ) کې موجود وي، چې د اداري اصلاحاتو کمیسیون او د جمهوري ریاست دفتر او همدارنګه د بودیجې مصوب وي. د دولت د مالي قوانینو پربنسټ، له تشکیل څخه بهر، هېڅ راز استخدام او ګومارل د منلو وړ نه دي او په پایله کې اړوند لګښتونه نامطلوبه ګڼل کیږي.

د افغانستان د قوانینو پربنسټ، د تشکیل له حد څخه بهر هېڅ راز استخدام، مجاز نه دی او له دې اړخه ترسره شوي لګښتونه نامطلوب ګڼل کېږي.

حاضري: د کارکوونکو د وجود او په کارځای کې د هغوی د حضور د اثبات لپاره ( ( په وزارتونو او ادارو کې د حاضرۍ ثبت)) کې اړین ګڼل کېږي.

د حضور او غیابت ثبت، د میاشتنۍ حاضرۍ او ورځنۍ حاضرۍ په راپورونو کې (یا د الکترونیکي حاضرۍ د ثبت په بڼه) کې شامل دي. د کتنې پر مهال، د معاشونو ورکړه یوازې هغه مهال مطلوب ګڼل کیږي، چې د هر کارکوونکي حضور، د حاضرۍ د دفتر په اساس له میاشتني راپور او د معاشونو له لیست (د م ۴۱ فورمې) سره سمون ولري.

لکه څرنګه چې وړاندې هم ورته اشاره وشوه، د حاضرۍ او د حاضرۍ د ثبت ځینې راپورونه په الکترونیکي بڼه وي. د الکترونیکي حاضرۍ او د لاسي حاضرۍ د راپورونو ترمنځ هر ډول اړیکي باید مشخصې او د پوهېدنې وړ وي. په عین حال کې، د هغې حاضرۍ مدرکونه، چې په لاسي بڼه ساتل کیږي (چې د حاضرۍ دفتر، د حاضرۍ راپورونه او داسې نور په بر کې نیسي) باید مرجع ولري او د دغو راپورونو اړیکې یو بل ته د فهم وړ وي.

ketabton.com - The Digital Library

د دې لپاره چې د معاشونو لګښتونه مطلوب وګڼل شي، د م ۴۱ په فورمه کې د کارکوونکو ټول شمېر، باید د حاضرۍ په راپور (د حاضرۍ په لنډیز) کې د کارکوونکو له ټول شمېرسره سمون ولري.

که چیرې ثابته شي، چې یو کارکوونکی په وزارت کې فزیکي حضور نه لري، خو د حاضرۍ ثبتونه وښيي، چې نوموړی حاضر دی، په دغه صورت کې به د یادې ادارې د معاش ټول لګښتونه نامطلوبه تشخیص شي.

اصلي یا د ورکړې وړ معاش (د معاشونو تشکیل ورکوونکي توکي)، (د ورکړو پیسو خالصه محاسبه)

د میاشتني معاشونو د استحقاق لیست (م ۴۱ فورمه) له لاندې توکو څخه جوړیږي:

| بند | شرح | مبلغ |
|---|---|---|
| ۱,۴,۳,۵ | دکارکوونکو له جدول سره سم اصلي معاش | + |
| ۳,۴,۱,۵ | نغدي ملکي او کادري امتیازات – (تحصیلي او تخصصي امتیازات) | + |
| ۲,۴,۳,۵ | د ترانسپورت او ماکولاتو امتیازات | + |
| ۳,۴,۳,۵ | مؤقت اضافي امتیازات (PRR) | + |
| ۴,۴,۳,۵ | بخششي معاش | + |
| | | = ناخالصه جمع |
| ۵,۴,۳,۵ | د تقاعد او مالیاتو وضع | - |
| ۶,۴,۳,۵ | نور کسرات | - |
| | | = دکسراتو جمع |
| ۵,۳,۵ | | د ورکړې وړ معا ش ( خا ل صه ورکړه) |

د دې لپاره چې د م ۴۱ فورمه په مطلوب ډول محسوبه شي، باید د ورکړې وړ معاش د پیسو مجموع له اړوند چک سره سمون وخوري. د م۴۱ فورمې او د صادر شوي چک پر بنسټ، د ورکړې وړ معاش تر منځ هر ډول اختلاف، نامطلوبه ګڼل کیږي.

سربیره پر دې، د کسراتو تر وضعې وروسته د معاش ناخالصه جمع باید د ورکړې وړ معاش له جمعې سره مساوي وي.

ketabton.com - The Digital Library

**د کارکوونکو د معاش له جدول سره سم اصلي معاش:** اصلي معاش د مامور له رتبې او بست سره تړاو لري. رتبه باید د خدمتونو له قرار داد (د تقرر مکتوب) یا د استخدام له قرار داد(۲ پ له وروستۍ ترفیع پاڼې) سره د اثبات وړ وي. په هرې رتبې پورې اړوند معاش هر کال د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت (GRIA) په واسطه ټاکل کیږي.

ملکي او کادري نغده امتیازات (تحصیلي او تخصصي) باید د تقرر په مکتوب یا قرار داد کې ذکر شوي وي.

**د ترانسپورت او ماکولاتو امتیازات:** د ماکولاتو امتیازات د کاري ورځو د شمیر پر اساس له م۴۱ فورمې سره سم محاسبه کیږي. د ماکولاتو د امتیاز ورځنۍ پیسې باید د تایید شوې حاضرۍ له دفتر سره برابرې وي. د حاضرۍ راپور او د حاضرۍ دفتر د ماکولاتو د امتیاز د مطلوبیت لپاره د بشپړ مستند ملاتړ په توګه ګڼل کیږي.

له هغه ځایه، چې زیاتر وزارتونه د خپلو کارکوونکو لپاره د ترانسپورت وسیلې برابروي. پر دې بنسټ، ترانسپورتي امتیازات د یو شمېر کمو وزارتونو له خوا اجرا کیږي. د ترانسپورت لګښتونه یوازې په هغه صورت کې، چې وزارت د ترانسپورت وسیله برابره نه کړي، مطلوب ګڼل کیږي. په دې ترڅ کې د ترانسپورت امتیاز د ورکړې د ورځو شمیر، باید د کاري ورځو تر شمیر زیاتې نه وي.

**د مؤقت اضافي معاشونو امتیازات(PRR):** د اداري اصلاحاتو پروګرام (PRR)، په وزارتونو او ولایتونو کې د سازماني بدلون د رامنځ ته کولو لپاره یوه پروسه ده، چې په پایله کې به یې وزارتونه له کاري اړخه نور هم پرمختګ وکړي. د اداري اصلاحاتو (PRR) پروسه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون (IARSCS) تر څارنې یا نظارت لاندې ترسره کیږي.

**د مؤقتو اضافي معاشونو عمومي شرایط (PRR):** د دې لپاره، چې د مؤقتو اضافي معاشونو لګښتونه د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) لپاره مطلوب وګڼل شي، لږ تر لږه باید لاندینۍ اړتیاوې په پام کې ونیول شي:

- د وزارتونو یا ولایتونو د جوړښت تجدید باید د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسون (IARCSC)  له خوا تصویب شوی وي.
- په وزارتونو کې کلیدي پستونه باید مشخص او اعلان شي.
- که پورتني شرایط ترسره نه شي، د موقتو اضافي معاشونو(PRR) له ورکړو څخه به هیڅ یو یې د تمویل مطلوبیت ونه لري.

**د مؤقتو اضافي معاشونو خاص شرایط:** د مؤقتو اضافي معاشونو(PRR) د قانوني چوکاټ د رامنځ ته کېدو لپاره، د عمومي اړتیاوو سربیره، همدارنګه د مؤقتو اضافي معاشونو (PRR) لګښتونه، د معاشاتي لګښتونو جزء ګڼل کیږي او په دې اساس باید د معاشونو د استحقاق له ټولو اړتیاوو سره سمون ولري. په دې برخه کې، تر ټولو مهمې موجودې اړتیاوې په لاندې توګه دي:

ketabton.com - The Digital Library

- د کارکوونکو د استخدام پر بنسټ، سندونه او مدارک.
- د معاشونو د استحقاق لیست تایید او لاسلیک شوی وي.
- د کارکوونکو له خوا د مؤقتو اضافي معاشونو (PRR) د امتیازاتو د ترلاسه کېدو لاسلیک.

سربیره پردې، د مؤقتو اضافي معاشونو(PRR) لګښتونه باید له هغه نورم سره سمون ولري، چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسون (IARCSC) له خوا ټاکل شوی دی. هغه نورمونه چې د وزارتونو او اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون ترمنځ د کوم توافق له مخې ټاکل شوي وي، تر ستندرد نورم زیات او بهر دي، په دې توګه، د منلو وړ نه دي.

**اضافي معاش (بخششي):** د بخششي معاش د مطلوبیت معیار له عادي معاشونو سره یو شانته دی. اساسي توپیر، د بخشش د ورکولو واک او صلاحیت دي.

بخششي معاش یوازې په هغه صورت کې د منلو وړ دی، چې د رسمي حکم پر بنسټ یا له نورو قانوني لارو (لکه د روژې د مبارکې میاشتې بخششی) د وزیر یا (معین) په تصویب ورکړل شي.

**د تقاعد او مالیاتو وضع**

د تقاعد حق کسرات، د ملکي او کادري امتیازاتو په ګډون له اصلي معاش څخه د ۳٪ پر بنسټ محاسبه کیږي. د مؤقتو مامورینو او د هغو مامورینو، چې مخکې د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت څخه متقاعد شوي دي، تقاعد نه کسر کیږي. وزارتونه باید له دې څخه ډاډ ترلاسه کړي، چې د هغو مامورینو په اړه مالیې وزارت ته معلومات وړاندې شوي، چې له هغوی څخه تقاعد باید کسر نه شي او بالعکس.

**نور کسرات:** د نورو کسراتو لپاره کېدای شي بیلابیل دلایل (لکه: تر ارتقا (ترفیع) وروسته د لومړنۍ میاشتې معاش کسر، له میاشتني معاش څخه کسر شوې مالیه، د وزارتونو د پام وړ کسرات او داسې نور) شتون ولري.

**د معاش تادیه (ورکړه):** د مامورینو معاش یا په مستقیمه ډول په نغده توګه هغوی ته ورکول کیږي او یا بانکي حساب ته یې لیږدول کیږي.

**د معاشونو تایید شوی پلان (VPP):**

د معاشونو تایید شوی پلان، هغه سیستم دی، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له خوا د کارکوونکو د شتون د تایید او پیژندګلوۍ او بانکي حساب ته یې په مستقیمه توګه د خالصو معاشونو د لیږدولو په موخه، طراحي شوی دی.

دغه سیستم په اتوماتیک ډول، د میاشتني معاش د لیست (م۴۱ فورمې) او د ورکړې د غوښتنلیک (م۱۶ فورمې) د جوړولو ظرفیت لري. د پیسو ورکړې د مالیې وزارت له لارې ترسره

ketabton.com - The Digital Library

کیږي او په مستقیمه توګه په سوداګریزو بانکونو کې د مامورینو بانکي حسابونو ته لیږدول کیږي. وزارتونه باید مالیې وزارت ته د وړاندې شوو معلوماتو لکه: اصلي معاش، امتیازاتو، کسراتو، د ورکړې وړ خالص معاش او د بانکي جزییاتو له سموالي، صحت او بشپړوالي څخه ډاډ ترلاسه کړي.

**نغده تادیه (ورکړه):**

د معاش په تړاو یو له اړینو داخلي کنترولونو څخه، د کارکوونکو له خوا د معاش د اخیستو لاسلیک دی. د وصول له لاسلیک پرته، معاش مطلوب نه ګڼل کیږي.

ځینې وختونه جغرافیایي موقعیت، شخصا ټولو کارکوونکو ته د معاش رسیدل یا وصول ستونزمنوي.

په همداسې مواردوکې، د یوې واحدې جغرافیایي سیمې د ټولو کارکوونکو معاش باید یو تن ترلاسه کړي.

د یوې ځانګړې جغرافیایي سیمې د ټولو کارکوونکو په استازیتوب، د یو تن له خوا د معاش د رسیدلو یا وصول لاسلیک، په هغه صورت کې د مطلوبې ورکړې (پرداخت) په توګه منل کیږي، چې د پام وړ پیسې معادل یو بېل مدرک، د ټولو کارکوونکو د انفرادي وصول په لاسلیک سره وړاندې شي.

**تادیه او رتبه بندی:** په دې وروستیو کې ( د ۱۳۸۷کال د سرطان په میاشت (۲۰۰۸ جولای)) کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون (IARCSC) له خوا د ورکړې او رتبه بندۍ پر سیستم بیا کتنه وشوه، د ورکړې او رتبه بندۍ د سیستم اړینې ځانګړتیاوې په لاندې توګه دي:

۱- د بستونو اړتیاوې، د سازمانونو (وزارتونو) د اړتیاوو پر بنسټ ټاکل کیږي.

۲- په یو بست پورې د اړوندو دندو د طبقه بندۍ لپاره کاري یا شغلي جوړښتونه، د اړوندو اړتیاوو د لېږې کولو په خاطر طراحي کیږي.

۳- چارې یا دندې د رتبې پر بنسټ طبقه بندې کیږي.

**د معاشونو لپاره د تطبیق وړ معیارونه:** د افغانستان د معلوماتو د مالي ادارې په سیستم (AFMIS) کې د معاشونو په ثبت کې ځنډ: د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF)، د معاشونو په تړاو د تطبیق وړ اضافي معیارونه وضع کړي دي. دغه اضافي مقررې، د معاش د ورکړې میاشتې او په (AFMIS) کې یې د ثبت نېټې ترمنځ محدود مهال ټاکلي دي. هغه معاشونه، چې په (AFMIS) کې په ځنډ سره ثبت شوي دي، نامطلوب ګڼل کیږي.

د مرکزي ادارو لپاره په ثبت کې وروسته والی (د مرکز معاشونه): په مرکزي ادارو (کابل) کې، په وزارتونو پورې اړوند معاشونه باید تر هغې میاشتې وروسته، چې معاش په هغه پورې اړوند دی، د دریو میاشتو په ترڅ کې، د مالیې وزارت له خوا پیدا او په (AFMIS) کې دې ثبت شي.

ketabton.com - The Digital Library

بیلګه: د وري (حمل) د میاشتې معاش، باید د چنګاښ میاشتې (۴ میاشت) تر وروستۍ ورځې، د مالیې وزارت له خوا پیدا او په (AFMIS) کې ثبت شي.

**د ولایتونو لپاره په ثبت کې وروسته والی:** په ولایتونو پورې اړوند معاشونه باید تر هغې میاشتې وروسته، چې معاش په هغه پورې اړوند دی، د څلورو میاشتو په ترڅ کې، د مالیې وزارت له خوا وصول او په (AFMIS) کې ثبت شي.

بېلګه: د وري (حمل) د میاشتې (۱ میاشت) معاشونه باید د زمري میاشتې (۵ میاشت) تر وروستۍ ورځې پورې د مالیې وزارت له خوا وصول او په (AFMIS) کې دې ثبت شي.

**غیر معاشاتي معمول لګښتونه:**

**مقدمه:** دا برخه غیرمعاشاتي جاري لګښتونه په بر کې نیسي، چې عملیاتي او تدارکاتي لګښتونه (M&O) او همدارنګه غیر معاشاتي لګښتونه (NPBSE) پکې شامل دي.

د هغو عملیاتي او تدارکاتي لګښتونو (M&O) تعریف، چې د افغانستان د بیارغونې لپاره له اماني وجهي صندوق څخه د ترلاسه کېدو وړ وي: عملیاتي او تدارکاتي لګښتونه (M&O)، په ټولیزه توګه د پرمختیایي بودیجې له فصولو، پیشکۍ، مرستې، د پورونو له بېرته ورکړې او پوځي لګښتونو پرته، له۲۱۲۰۰ تر۲۵۱۹۹ پورې، د بودیجوي کوډونو ټول جاري لګښتونه (فصول) په بر کې نیسي.

د لګښت یا مصرف پروسه کولی شو په لاندې پړاوونو وویشو:

| مرجع | د پېرېدلو پروسه | | سندونه او مدارک |
|---|---|---|---|
| 5-4-2 | د تدارکاتو پلان جوړونه | == | د کلني تدارکاتو پلان |
| 5-4-3 | د پیرېدلو غوښتنې (د تدارکاتو غوښتنه) | == | د پیرېدلو غوښتنې (دتدارکاتو غوښتنه- م۳فورمه ) |
| 5-4-3 | بودیجه | == | د بودیجې د دفتر حساب / م ۲۰فورمه |
| 5-4-4 | تدارکات | == | د تدارکاتو دوسیه |
| 5-4-4 | قرارداد | == | قرارداد |
| 5-4-7 | دجنسونو وصول/ د کار ترسره کېدل | == | د جنسونو رسید (م ۷ فورمه او د کار د سرته رسیدو (پرمختګ) راپور |
| 5-4-10 | د چک صادرول | == | م۱۶ فورمه او چک |
| 5-4-10 | پلورنځي ته ورکړه یا پرداخت | == | خرڅوونکو ته د چک ورکول او لاسلیک یې |

ketabton.com - The Digital Library

له دغو پړاوونو څخه هريو په جلا توګه په لاندې بندونو کې تشريح شوي دي:

**د تدارکاتو پلان:** د تدارکاتو قانون ۱۱ ماده څرګندوي، چې اداره، هغو اصلي منابعو ته په پام سره، چې ورته لاسرسی لري، د حجم او اندازې، اقتصادي توب، مناسب وخت او نورو محدوديتونو په پام کې نيولو سره، چې د دغه قانون موخې پکې منعکس شي، اړوند تدارکاتي پلان ترتيبوي. د تدارکاتو قانون په II څپرکو کې او د تدارکاتو پاليسۍ اداره (PPL) په 001C او 018 C متحدالمالونو کې دواړه د دغې موضوع پر اړتيا ټينګار لري.

**د تدارکاتو اقدام:**

د تدارک (پيرېدنې) تر هر ډول عملياتو مخکې بايد د بوديجې د حساب دفتر (م ۲۰) ته په مراجعې سره، د بوديجې له شتوالي څخه ډاډ ترلاسه شي. بايد د م۳ يوه فورمه يا د پيرېدنې غوښتنليک تر برابرولو وروسته، د مجازو مسئولينو (مسئول مقام) له خوا تاييد شي، همدارنګه په دغه فورمه کې بايد د لګښت د برآورد پيسې شاملې وي. د پيرېدنې ټول لګښتونه، چې د م۳ له فورمې يا د پيرېدنې له غوښتنليک څخه پرته ترسره کيږي، نامطلوب ګڼل کيږي. د پيرېدنې تر پيلېدو وروسته، د پيرېدنې د تاييد ترلاسه کول، يا د کافي بوديجې نشتوالي، د نامطلوبو لګښتونو د رامنځ ته کېدو لامل کيږي.

دې ته مو بايد پام وي، چې د تدارکاتو قانون (PPL)، يوازې د لګښتونو (د تدارکاتو اجازه) د منظورولو مسوول مقام، د امر صادرول مجاز ګڼي. امر ورکوونکی آمر کولی شي، خپل ټول صلاحيت يا د صلاحيت يوه برخه، خپلو دويمو واحدونو ته ورکړي. د صلاحيت د واک دغه تفويض، بايد د م ۵۰ په فورمه کې مستند شي.

**تدارکات:**

د تدارکاتو د ميتودونو نه رعايت د ډېرو نامطلوبو لګښتونو د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي.

د صحيح تدارکاتي ميتود غوراوي او د مقرراتو سم رعايت يې، د پيرېدنې د ترسره کولو په برخه کې له اړينو موضوعاتو څخه ګڼل کيږي. کله چې تړون يا قرارداد لاسليک شي، په هغه پورې اړوند ټول لګښتونه، چې پکې اړوند تدارکاتي مقررات نه وي رعايت شوي، نامطلوب ګڼل کيږي.

د (ARTF) توافقنامه د مطلوبيت د ټاکلو بنسټ جوړوي. دغه هوکړه ليک (توافقنامه) څرګندوي، چې پيرېدنه بايد د (IBRD) د پورونو تدارک له لارښود او د (IDA) له اعتبارونو سره سم، چې د نړيوال بانک (WB) له خوا خپاره شوې، ترسره شي. دغه لارښود لږ تر لږه د منلو وړ

ketabton.com - The Digital Library

ستندردونه تشریح کوي او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته اجازه ورکوي، چې پیرېدنه د محلي قانون پر بنسټ ترسره کړي، خو دغه قانون باید د نړیوال بانک په لارښود کې له توصیف شوو ستندردونو سره مطابقت ولري.

د تدارکاتو قانون (PPL)، چې د ۱۳۸۷ کال په مرغومي (د ۲۰۰۹په جنوري) کې تصویب شو، تر ډېره بریده، د نړیوال بانک (WB) د لارښود له تشریح شویو ستندردونو سره سمون لري. د تدارکاتو په قانون (PPL) کې، د پیرېدنې تصویب شوي میتودونه، لکه: له واحدې منبع سره قرارداد، د نرخ ورکولو غوښتنلیک او داخلي خلاصې داوطلبي، د نړیوال بانک له میتودونو سره په ځانګړې توګه له واحدې منبع (DC) سره د تدارکاتو د انعقاد، نرخ اخیستنې (NS) او د داوطلبۍ د اعلان (CBAL) په برخه کې، یو شانته دی.

په هر حال د داوطلبۍ د بیلابیلو فورمونو، چې د تدارکاتو په قانون کې تشریح شوي او د محلي داوطلبۍ د اعلان ترمنځ، چې د نړیوال بانک (WB) په لارښود کې تشریح شوي، یو لړ ځانګړي توپیرونه ترسترګو کېږي، په ځانګړې توګه، د داوطلبۍ لپاره (SBDS) د نړیوال بانک (WB) معیاري شرطپاڼې، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له خپرو شوو فورمو سره توپیر لري.

خو د دغه توپیرونو له شتون سره، د تدارکاتو قانون (PPL) د نړیوال بانک له لارښود سره سمون لري او نړیوال بانک ټول هغه لګښتونه، چې د تدارکاتو د قانون (PPL) پر بنسټ ترسره شوي، د منلو وړ بولي.( لاندې متن د ۴-۴-۱ بند د معاملاتو حدود مطالعه کړئ). دغه موارد، د تدارکاتو د یو پیاوړي چوکاټ د رامنځ ته کولو او ساتلو په موخه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ځواکمنولو په موخه د بحث وړ دی. په عین حال کې، د مطلوبیت معیارونو د ساده کولو او د اداري بیروکراسۍ د له منځه وړلو په پار هم د یادولو ده.

باید یادونه وکړو، چې د افغانستان د تدارکاتو د قانون پر بنسټ تر ۲۵۰۰۰۰ امریکايي ډالرو پورې ترسره شوي لګښتونه، د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق له خوا د مطلوبو اقلامو په توګه منل کیږي.

د دې لپاره، چې تر (۲۵۰۰۰۰) امریکايي ډالرو لوړ لګښتونه مطلوب وګڼل شي، نو باید د داوطلبۍ د ستندردو فورمو په ګډون، د نړیوال بانک ځانګړي لارښوونې رعایت شي.

دې ته مو باید پام وي، چې د نړیوال بانک (WB) له لارښود څخه کار اخیستنه، له هغو مواردو پرته، چې د تدارکاتو په قانون (PPL) کې تشریح شوي، په ځانګړې توګه د تدارکاتو قانون (PPL) د ۴ مادې په ۲ بند کې اجازه ورکړل شوې ده، که د نړیوالو موسسو د تدارکاتو قانون د دغه قانون له حکمونو سره مغایر وي، په دې صورت کې حکومت کولی شي، د مخکنیو شمیرو په پام

ketabton.com - The Digital Library

کې نیولو سره، په تړون کې د تمویل شویو جنسونو، خدمتونو او ساختماني چارو د تهیې او تدارک په برخه کې، د یادو موسسو له مقررو سره موافقه وکړي.

**د تدارکاتو د میتود غوراوي:** لاندې جدول د تدارکاتو د ډېرو معمولو میتودونو لنډیز ښيي:

د دغو میتودونو د کارولو شرایطو او مقتضیاتو په ګډون نور توضیحات په لاندې برخه کې راوړل شوي دي.

| د تړون اټکل شوی ارزښت (افغانۍ) | د تړون اټکل شوی ارزښت (امریکایي ډالر) | د تدارکاتو میتود | بند |
|---|---|---|---|
| 3،000 افغانۍ یا تر هغه لږ | | له واحدې سرچینې سره د تړون انعقاد د تدارکاتو له قانون (PPL) سره سم | 1-2-4-4 |
| تر 3،000 افغانیو زیاتې او تر 500،000 لږې | | د تدارکاتو له قانون (PPL) سره سم، د نرخ اخیستنې غوښتنلیک | 2-2-4-4 |
| تر500،000 افغانیو زیاتې | تر 250،000 ډالره لږې وي | د تدارکاتو له قانون (PPL) سره سم، د داوطلبۍ د محلي اعلان له لارې. | 3-2-4-4 |
| | تر 250،000 ډالره زیاتې وي | د (WB) له قانون سره سم، نړیواله داوطلبي | 6-4 |

**د عامه تدارکاتو له قانون (PPL) سره سم د پیرېدنې میتودونه:**

د عامه تدارکاتو له قانون (PPL) سره سم د پیرېدنې میتودونه په لاندې برخه کې تشریح شوي دي.

**د قرارداد صلاحیت:** د تدارکاتو قانون (PPL) ۹۱ ماده د امر ورکوونکي آمر لپاره مالي کچه (د تدارکاتي میتودونو د هر یوه لپاره د معاملاتو اندازه یا حدود) ځانګړي کړې ده. دغه حدود یا اندازه باید د پیرېدنې د مناسب میتود د ټاکلو پر مهال په پام کې ونیول شي. د تدارکاتو قانون ۹۲ مه ماده څرګندوي، که چیرې په هر معاملاتي میتود کې، د یوې معاملې اټکل شوې پیسې له ټاکل شوې اندازې څخه لوړې شي، اړونده اداره یا وزارت باید د تدارکاتي پړاوونو تر پیلېدو وړاندې د

ketabton.com - The Digital Library

ځانګړي تدارکاتي کميسيون (SPC) منظوري واخلي. په دې برخه کې، د (تاييد اخيستلو لپاره، د خاصو تدارکاتو کميټې ته، د امر ورکوونکي آمر د صلاحيت تر حدودو لوړو دوسيو د ليږلو ميتود) تر نامه لاندې، د تدارکاتو د پاليسي اداره 1386/008PPU/C ګڼه متحدالمال هم موجود دی.

**له معياري شرطپاڼو څخه ګټه اخيستنه:** د تدارکاتو د پاليسۍ اداره (PPU)، معياري شرطپاڼې (SBDS) يې د ۰۲۴ ګڼې په متحدالمال کې، د ۱۳۸۸ کال د جوزا پر ۲۰ مه نېټه (۲۰۰۹ په جون) کې خپرې کړې. تدارکاتي واحدونه کولی شي د دغه فورم سافټ (کمپيوټري بڼه) د تدارکاتو پاليسي له ادارې (PPU) څخه ترلاسه کړي.

د يادولو ده، چې لانديني توضيحات د پيرېدنې د ميتودونو بشپړ جزييات نه په ډاګه کوي، بلکې د مطلوبيت د کليدي معيارونو د جوتوولو په لټه کې دي. د تدارکاتو قانون (PPU)، د تدارکاتو له مقررو، ميتودونو او اړوندو متحدالمالونو سره يو ځای، د تدارکاتو پاليسي د ادارې (PPU) له خوا خپور شوی دی. د پېرېدنې له سمو او مناسبو ميتودونو څخه د کاراخيستنې په موخه، بايد ياد قانون ته پاملرنه وشي.

**د منابعو ټاکنه: ل**ه واحدې منبع څخه د تدارکاتو ميتود، د تدارکاتو قانون (PPL) په ۲۴ مه ماده کې تشريح شوی دی. د دغه ميتود له مخې، پيرېدنه په مستقيمه توګه له يوه خرڅوونکي سره ترسره کيږي. د دغه ميتود پر بنسټ، د پيرېدنې د ترسره کولو کچه ۳۰۰۰ افغانۍ دی (د ۱۳۸۷ کال په مرغومي کې د تدارکاتو قانون (PPL) د اصلاحاتو په اساس) د دغه ميتود له مخې د ۳۰۰۰ افغانيو تر اندازې زياته پېرېدنه نامطلوبه ده، خو له لاندېنيو شرايطو پرته:

۱. د تدارکاتو د پلاوي د موجه او ليکلې پريکړې پربنسټ، په دې اړه، چې يوازې واحد قرار دادي کولی شي، تدارکات د ټاکلې مودې په بهير کې برابر کړي.

۲. په هغو حالاتو کې، چې د جنسونو، خدمتونو او د اړتيا وړ ودانيزو چارو د برابرولو او تدارک په اړه قرارداد، د قانون له حکمونو سره سم، انحصاري حقوق ولري او مناسب بديل يې هم نه وي موجود.

۳. په هغه صورت کې، چې د جنسونو، خدمتونو او ودانيزو چارو د برابرولو او تدارک لپاره بېړنۍ اړتياوې موجودې وي، چې د ځنډېدو په صورت کې يې، عامه روغتيا، عامه ګټې او مصونيت له جدي خطر سره مخ وي او د واوطلبۍ د پړاوونو يا نورو تدارکاتي تګلارو د سرته رسولو لپاره لازم وخت، غير عملي وي.

له پورتنيو موارد‌و څخه په هر يوه کې، بايد د پېرېدنې په دوسيه کې، د ميتود د غوراوي په تړاو يوه توضيح يا تشريح موجوده وي. په دې معنا چې د قرار داد دوسيه بايد د دې په اړه، چې ولې د پيرېدنې ميتود د واحدې منبع له لارې ترسره شوي ده، مستند توضيحات ولري.

د تدارکاتو قانون (PPL) په ۹۱ مه ماده کې، د کورني او بهرني واحدې منبع له لارې د واک (سقف) او پيرېدنې (معاملاتو) حدود تعريف کړی دی. هغه لګښتونه، چې د واحدې منبع د

ketabton.com - The Digital Library

میتود پر بنسټ ترسره شوي او د تدارکاتو قانون د ۹۱ مې مادې د معاملاتو تر سقف (حدودو) لوړ وي، یوازې هغه مهال مطلوب ګڼل کیږي، چې د تدارکاتو د پراوونو تر پیلېدو مخکې د ځانګړو تدارکاتو د کمېسیون (SPC) اجازه لیک یې ترلاسه کړی وي. د مطلب د وضاحت لپاره، د ځانګړو تدارکاتو د کمېسیون (SPC) د اجازه لیک ترلاسه کول، د لګښتونو لپاره د واحدې منبع له لارې ترسره شوې او د تدارکاتو قانون (PPL) د ۹۱ مې مادې د معاملاتو له حدودو څخه بهر مخکنې توضیح شوي خاص شرایط د هریوه لپاره (III-II-I) الزامي دي.
دغه موضوع بېړنۍ حالات هم په بر کې نیسي.

**د نرخ ورکولو غوښتنلیک:**

د تدارکاتو قانون (PPL) ۲۱ مه ماده د نرخ ورکولو (نرخ اخیستنې) د غوښتنلیک له لارې د پیرېدنې مېتود توضیح کوي. د دغه مېتود له مخې، د جنسونو او خدمتونو لپاره نرخ اخیستنه لږ تر لږه له دریو خرڅوونکو څخه چې په شرایطو برابر وي، الزامي ده.

د دغه میتود لپاره د مطلوبیت بنسټیز معیارونه په لاندې توګه دي:

- اټکل شوې پیسې باید د یاد صلاحیت له حدودو او د تدارکاتو قانون (PPL) د ۹۱ مې مادې له اړوندو توضیحاتو څخه بهر نه وي.
- د نرخ اخیستنې د غوښتنلیک سند باید د ادارې د پام وړ اړتیاوو بیانوونکی وي.
- هر تهیه کوونکی یوازې یو مکتوب وړاندیز، چې د مذاکرې یا تغییر وړ نه وي، وړاندې کوي.
- هغه خرڅوونکی چې د نرخ اخیستنې په ناسته کې د تدارکاتي واحد له الزاماتو سره سم تر ټولو ټیټ نرخ وړاندې کړي، باید د ګټونکي په توګه وپېژندل شي.

**پرانیستی داوطلبي:**

د تدارکاتي قانون(PPL) له ۲۲ مې ماده سره سم، پرانیستې داوطلبي د پیرېدنې هغه میتود دی، چې ورته لومړیتوب ورکول کیږي. د تدارکاتو د قانون (PPL) بېلابېل بندونه، د پیرودنې دغه میتود په تفصیل سره روښانه کړی.

۱- د ټولو جنسونو، خدمتونو او ودانیزو چارو برابرول او تدارک (د مشورتي خدمتونو د سرته رسولو په استثناء) د پرانیستې داوطلبۍ له لارې ترسره کیږي، خو دا چې په دغه قانون کې بل ډول تصریح شوې وي.

۲- که چیرې د جنسونو، خدمتونو او ودانیزو چارو برابرول او تدارک د پرانیستې داوطلبۍ له لارې شونې نه وي، دلایل یې په لیکلې بڼه د تدارکاتي پړاوونو په سندونو کې درجیږي.

ketabton.com - The Digital Library

د یادونې وړ ده، چې د آفرونو (وړاندیزونو) د ارزونې څانګې او د قرارداد د ګټونکی اعلان، چې په لاندې برخه کې راغلی دی، د نرخ ورکولو د غوښتنلیک په میتود پورې اړه لری. د هغو پېرېدنو لپاره، چې له واحدې منبع څخه ترسره کېږي، د قرارداد د ګټونکي شرایط اعلان هم، د اجراء وړ وي.

**د بلنې اعلان:** د بلنې لپاره د مطلوبیت کلیدي معیارونه عبارت دي له:
- د تدارکاتي واحد نوم، پته او د اړیکو شمېره.
- د پیرېدنې د الزاماتو په ماهیت کې د جنسونو، ودانیزو چارو یا خدمتونو او ځای او د اقلامو د تحویل مهالني جدول یا د قرارداد د ترسره کولو میزان پکې شامل دي.
- مدارکو ته د لاسرسۍ لارښوونې څرنګوالي، د ورکړې وړ هر ډول پیسې د داوطلبۍ د مدارکو او د داوطلبۍ د مستنداتو د ژبې لپاره شامل دي.
- د داوطلبۍ د ناستې په  ترسره کولو پورې اړوند لارښوونه (معلومات) او د آفرونو (وړاندیزونو) د ثبت وروستۍ نېټه، چې باید له ۲۱ نه د ۹۱ ورځو تر منځ کار، د اعلان له نېټې څخه په پام کې ونیول شي.
- د داوطلبۍ د ناستې د جوړېدو نېټه باید په اعلان یا شرطپاڼه کې په روښانه توګه بیان شي.

**د وړاندیزونو ترلاسه کول:** په دې برخه کې لاندې کلیدي معیارونه باید په پام کې ونیول شي:
- وړاندیزونه باید په داوطلبۍ کې د ګډون کوونکو یا د هغوی د قانوني مجاز استازو له خوا لاسلیک او مهر شي.
- آفرونه (وړاندیزونه) وزارتونو او ادارو ته د وړاندې کولو پر مهال ثبت او د آفر د تحویلېدو رسید دې صادر شي. د پرانیستل شویو آفرونو (وړاندیزونو) لیست، د آفرونو (وړاندیزونو) د ثبت ځایناستی نه ګڼل کېږي.
- یوازې هغه آفرونه (وړاندیزونه) تر څېړنې لاندې نیول کېږي، چې د اعلام شوې قانوني مقررې تر ټاکلې نېټې وړاندې ترلاسه شوي وي.

**د داوطلبۍ د ناستې جوړېدل:** په دې برخه کې د مطلوبیت کلیدي معیارونه باید په لاندې توګه په پام کې ونیول شي:
- د تدارکاتو اداره باید د داوطلبۍ د پاکټونو د پرانیستلو ټول پړاوونه ثبت کړي او په اړوندې تدارکاتي دوسیې کې یې وساتي. دغه مستندات باید لږترلږه د لاندې معلوماتو لرونکي وي:

ketabton.com - The Digital Library

- د ټولو خرڅوونکو (تهیه کوونکو) نوم، چې وړاندیزونه یې پرانیستل شوي دي.
- د داوطلبۍ د یوه ناظر حضور یا عدم حضور، په هغه صورت کې چې لازم وي.
- د پولي واحد او مبلغ او له هغو مواردو پرته، چې د دواطلبۍ ناسته یوازې په تخنیکي مواردو پورې اړوند وي، د هر راز تخفیفاتو په ګډون د داوطلبۍ د پیسو مجموع.
- د خرڅوونکو (تهیه کوونکو) د ټولو هغو کارکوونکو او استازو نومونه، چې د داوطلبۍ په ناسته کې ګډون کوي.

**د آفرونو ارزونه:** له دې پرته، چې دې ته پام وشي، چې د تدارکاتو له کوم میتود څخه کار اخیستل شوی، د آفرونو(وړاندیزونو) ارزونه باید په څرګنده او مستنده توګه تصویب او تایید شي.
د داوطلبۍ د ارزونې بنسټیز الزامات عبارت دي له:
- ټول وړاندې شوي (تحویل ورکړل شوې) آفرونه او پوښتنپاڼې باید د ارزونې په ناسته کې په پام کې ونیول شي.
- د ارزونې راپور دې، د وړاندې شوي نرخ له آفرونو (وړاندیزونو) او پوښتنپاڼې سره سمون ولري.
- د داوطلبۍ د ارزونې راپور باید د تدارکاتي کمیټې له خوا تصویب او نیټه دې ورته وټاکل شي.
- ټیټ (نازل) آفر دې غوره کړل شوی وي.

د لګښتونو د نه مطلوبیت یو له عمده دلیلونو څخه دا دی، چې د تدارکو د ارزونې مدارک نیمګړي او یا واضح نه وي او په دې اساس، د داوطلبۍ د ګټونکي د غوره کېدو څرنګوالی نامشخص وي. دغه مورد په آسانۍ سره د آفرونو (وړاندیزونو) د یوه پرتلیز جدول د برابرولو په وسیله، چې آفرونو (وړاندیزونو) ته د ارجاع وړ وي، رفع کېدونکی دی. (لکه: د آفرونو (وړاندیزونو) شماره ګذارۍ او د داوطلبۍ د ارزونې په جدول کې یې د یادې شمېرې ثبت).
د تدارکاتو د قانون ۲۹(PPL) مه ماده هغه میتود، چې باید د ناموفقه داوطلبۍ د تدارکاتو په اړه مراعات شي، تشریح کوي. د تدارکاتو قانون (PPL) په میتود پورې اړوند میتودونه او همدارنګه د تدارکاتو د پالیسي ادارې (PPL)، ۰۰۹C متحدالمال هم دغه شرایط تشریح کړي دي.

**قرارداد:**
د تدارکاتو پړاو، د قرارداد تر لاسلیکېدو وروسته بشپړیږي، ( په کمو پیسو د پیرېدنو لپاره، چې د نرخ ورکولو د غوښتنلیک میتود په کار اچول کیږي) د قیمت پوښتنپاڼه (نرخ پاڼه) کېدای شي،

ketabton.com - The Digital Library

د قرارداد په توګه وګڼل شي، په دې توګه، د قرارداد ترون ته اړتیا نه پیدا کیږي. د تدارکاتو قانون (PPL)، ۴۶ او ۴۷ مې مادې د قرارداد د عقد د الزاماتو ذکر کړی دی.

قرارداد باید لږ تر لږه لاندې معلومات په بر کې ولري:

- د قرارداد نیټه.
- د خرڅوونکي نوم (تیارونکی یا قرارداد کوونکی).
- د تدارک شوو جنسونو فني مشخصات.
- د قرارداد موده (د قرارداد وخت).
- د قرارداد ټولې پیسې (یا د هر قلم پیسې که چیرې د اقلامو شمېر زیات وي).
- د برابرونکي او تصویب کوونکي (د وزارت یا ادارې د امر ورکوونکي آمر) لاسلیک.

د قرارداد تر ترون وروسته، برابرونکي ته ټولې ورکړې، باید له قرار داد سره سمون ولري. د اقلامو په شمیر کې بدلون، د جنس د غوښتنې کیفیت او یا قیمتونه، چې په عمومي پیسو کې د بدلون لامل ګرځي، د دې لامل کیږي، چې د یاد قرارداد لګښتونه نامطلوب وګڼل شي.

**د داوطلبۍ د ګټونکي اعلان:**

د امر ورکوونکي آمر تر پرېکړې وروسته، اداره باید د قراردادۍ مشخصات چې د ګټونکي نوم، پته، د اجناسو لنډیز، ودانیزې چارې او یا تدارکات شوي خدمتونه او د قرارداد پیسې (ارزښت) پکې ذکر شوی وي، په ډله ییزو رسنیو کې اعلان کړي. د تدارکاتو قانون (PPL) (۶۳ مه ماده) د لیکل شوو لارښوونو سربیره، د تدارکاتو د پالیسۍ اداره، هم ۰۱۲ C ګڼه متحدالمال یې په دې اړه صادر کړی دی.

**د عامه تدارکاتو په قانون (PPL) کې ډیر لږ معمول (متداول) میتودونه:**

هغه یوازینی الزام، چې له دغه میتود څخه د ګټه اخیستنې په اړه شتون لري دا دی، چې وزارتونه او ادارې باید په دې اړه د افغانستان د بیارغونې او پراختیا خدمتونو له ادارې (ARDS) سره د تدارکاتو د پړاوونو له پیل څخه مخکې اړیکې ټینګې کړي. محدوده داوطلبي کیدای شي، محلي یا نړیواله وي. د افغانستان د بیارغونې او پراختیا د خدمتونو اداره (ARDS) د تدارکاتي واحدونو د ملاتړ په موخه رامنځ ته شوې (تاسیس شوې) ده.

**نړیواله داوطلبي:**

د تدارکاتو قانون (PPL) له ۲۵ مادې سره سم، نړیواله داوطلبي ممکنه ده، هغه مهال ترسره شي، چې د اجناسو، ساختماني چارو او خدمتونو پیربدنې په دې اړه لږ تر لږه درې وړاندیزونه

ketabton.com - The Digital Library

(آفرونه) د افغانستان د محلي برابرونکو له خوا وړاندې نه شي یا دا چې محلي داوطلبي د واجدو شرایطو پلورونکو د پیژندګلوي یا غوراوي لپاره کومې نتیجې ته ونه رسیږي.
له نړیوالو منابعو څخه په یو له دغو حالاتو کې تدارکات ترسره کیدای شي:

۱. په هغه صورت کې، چې د اجناسو، خدمتونو او ساختماني چارو د برابرولو او تدارک په موخه په افغانستان کې د رقابتي قیم پربنسټ، د داوطلبانو شمېر تر دریو کسانو لږ وي.
۲. په هغه صورت کې، چې د هېواد په دننه کې د داوطلبۍ په پړاوونو کې، داوطلب د منلو وړ تشخیص نه شي.

**تړلې (مقیده) داوطلبي:**

تړلې(مقیده) داوطلبي په ځانګړې توګه د پیرېدنې هغه میتود دی، چې د تدارکاتو قانون(PPL) په ۲۳ مه ماده کې مطرح شوې ده، په دغه صورت کې یوازې یو شمېر محدودو برابروونکو (تهیه کوونکو) ته بلنه ورکول کیږي. په داسې مواردو کې، د پیرېدنې په دوسیه کې باید داسې توضیحاتو شامل وي، چې ولې له محدوده داوطلبۍ څخه استفاده شوې او همدارنګه د تدارکاتو د کمیټې لومړنی تایید الزامي دی.

د دوه پړاویزه داوطلبۍ لپاره د خرڅوونکو بلنه: له دغه میتود څخه یوازې د خدمتونو لپاره ګټه اخیستل کیږي او د داوطلبۍ دوه پړاوونه په کې شامل دي. په لومړي پړاو کې په شرایطو د برابرو خرڅوونکو لیست ( د هغوی په مناقصه کې د ګډون له غوښتنې سره سم) چمتو کیږي؛ په دویم پړاو کې هغه شرکتونه، چې غوره کړل شوي دي، خپل وړاندیزونه وړاندې کوي.

د تدارکاتو په قانون کې د قیمتي اجناسو تدارکات: د تدارکاتو د پالیسۍ ادارې (PPL) په ۱۰ متحدالمال کې له تدارکاتي واحدونو څخه غوښتل شوي، چې د لوړو باارزښتو مالي قراردادونو د ترتیب شویو تدارکاتي پړاوونو د ترسره کېدو په موخه، د افغانستان د بیارغونې او پراختیا خدمتونو له ادارې (ARDS) څخه د مرستې غوښتنه وکړي.

د تدارکاتو له قانون سره سم، تر ۵۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو زیات، د ودانیزو چارو د قراردادونو او د اجناسو او تر ۲۰۰،۰۰۰ ډالرو زیات، د خدمتونو د قراردادنو تدارک، باید د افغانستان د بیارغونې او پراختیا خدمتونو ادارې (ARDS) ته ارجاع شي.

**د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق تدارکاتي لارښود:**

د افغانستان د جمهوري دولت (GIRA) او نړیوال بانک (WB) ترمنځ د منعقده قرار داد پربنسټ، نړیوال بانک هغه لګښتونه، چې د افغانستان د محلي قوانینو په رعایتولو سره ترسره شوي، تر ۲۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالره پورې یې مني. تر ۲۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو د زیاتو لګښتونو

ketabton.com - The Digital Library

لپاره، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت (GIRA) باید د نړیوال بانک د ستندرد فورمو (معیاري شرطپاڼې) په ګډون، د نړیوال بانک له ځانګړو لارښوونو سره سم عمل وکړي، د دغه دستورالعمل۱ – ۴- ۴ بندونه په دې برخه کې، د پیرېدنې میتود مناسبې لارښوونې په ګوته کوي.

مستقیم قرار داد (DC)، محلي پیرېدنه (NS)، او د محلي داوطلبۍ اعلان (CBAL) د پیرېدنې لپاره د نړیوال بانک ضوابط دی، چې د قرار داد په ارزښت لرونکو لګښتونو پورې اړوندیږي، نو د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت (GIRA) لپاره د کارونې وړ نه دي. هغه پیرېدنې چې ارزښت یې تر ۲۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو زیات نه وي، د افغانستان قانون د نړیوال بانک له خوا د منلو وړ ده، په داسې حال کې، چې د نړیوال بانک له لارښوونو سره همغږي ولري.

په هر حال، د نړیوالې داوطلبۍ میتودونه د نړیوال بانک (WB) له ضوابطو سره سم، د ۲۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو لګښتونو لپاره د اجراء وړ دي او په لاندې اصلي پړاوونو کې شامل دي:

- د خرڅوونکو ارزونه، چې آیا له شرایطو سره برابر دي.
- د داوطلبۍ لپاره غوره کړل شوو خرڅوونکو ته بلنه (دعوت).
- په داوطلبۍ کې د وړاندیزونو یا آفر ارزونه.
- د قرارداد لاسلیک.
- د ګټونکي اعلان.

د دې لپاره، چې تر۲۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو زیات لګښتونه د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې له وجهي صندوق (ARTF) څخه د بیا ورکړې وړ وي، باید دغه قراردادونه د تدارکاتي پړاوونو تر پیلېدو وړاندې د نړیوال بانک په استازیتوب، د افغانستان د بیارغونې او پراختیایي خدمتونو د اداري (ARDS) له خوا تر څېړنې لاندې ونیول شي او تاییدیه یې واخیستل شي.

دغه کتنه او څېړنه باید د تدارکاتي پړاوونو د ترسره کېدو مخکې صورت ومومي او د قرارداد په دوسیه کې دې وساتل شي. تر ۲۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو زیات هیڅ راز لګښتونه، له دغې تادیې پرته، د بیاورکړې وړ نه ده.

د افغانستان د محلي قانون په اساس با ارزښته جنس او خدمتونه تر ۲۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو زیات ا و با ارزښته ودانیزې چارې تر ۵۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو زیاتې باید د دغه دستورالعمل له ۵-۴ بندونو سره سم د افغانستان د بیاغونې او پراختیایي خدمتونو اداري (ARDS) ته راجع کړل شي. سربیره پر دې، چې د پورتنیو سقفونو له یادو فعالیتونو څخه هیڅ یو یې له لومړني تایید پرته، مطلوب نه ګڼل کیږي.

**د جنس رسید:** د پیرېدنې د پروسې د ختم له پړاوونو څخه، یو هم د جنس وصول یا رسیدل دي (د تدارکاتو د قانون۸۶ مه ماده). اړوند وزارت د تدارک شوي جنس د رسیدو د تایید او د م ۷ فورمې رسید د ترتیبولو مسئول دی.

ketabton.com - The Digital Library

(م۷ هغه منل شوی فورم دی، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت (GIRA) له خوا د جنس د رسید لپاره د استفادې وړ ګرځي او د کالیو پر وصول د لګښت د مطلوبیت د اثبات لپاره د لارښوونې بشپړ مدرک دی. د یوې مشخصې اړیکې شتون د ورکړې د غوښتنلیک تر منځ (م۱۶ فورمه) او م۷ فورمه د ارزښت وړ دي، په ځانګړې توګه که یو قرارداد څو م۱۶ فورمې په بر کې ونیسي او د م۱۶ په هره فورمه کې څو م۷ فورمې شاملې وي، توحیدي لیست د ورکړل شوو م۱۶ فورمو پورې اړوند له م۷ فورمو څخه کفایت کوي).

**د حساب صورت (بل):** اړینه ده، چې هره ورکړه د صادر شوي حساب له صورت سره د برابروونکو (خرڅوونکو) له خوا اثبات شي. د حسابونو صورت (بلونه) باید معلومات، د قرارداد ګڼه او د اجناسو ډول یا د وړاندې شوو خدمتونو (لکه: د جنس شرح او د رسید نیټه) او همدارنګه د پیرېدنې د پیسې اندازه په بر کې ولري. د کار په اړه د کار د پرمختګ یو راپور کیدای شي د استفادې وړ وګرځي.

**د بودیجې یا تخصیص شتوالی:** ټول لګښتونه باید په هر باب پورې اړوند په سمو فصلونو کې د کافي تخصیص د موجودیت په پام کې نیولو سره د لګښتونو د تمویل د مطلوبیت په موخه، ثبت شي.

**ورکړه یا پرداخت:** برابروونکي ته د لګښتونو د مطلوبیت له شرایطو څخه یو هم د ورکړې اثبات دی. د ورکړې مدرک د برابرولو لپاره بیلابیلې لارې شتون لري:

- چک باید مستقیمه توګه د خرڅوونکي بانکي حساب ته صادر شي.
- د چک د رسید یا وصول پربنسټ د خرڅوونکي لاسلیک.

(له چک څخه یوه نسخه باید په تدارکاتي اداره کې د چک د صادریدو د اثبات په موخه وساتل شي).

**خاصې ورکړې یا تادیات:**

**مقدمه:** د(خاصو ورکړو) یا تادیاتو اصطلاح یوازې په خپله په ورکړو پورې نه اړوندیږي، بلکې د دغو ورکړو د تمویل لپاره د مطلوبیت په شرایطو لاس پورې کوي. دغه شرایط په دوو موردونو کې د اجتناب پذیر او اجتناب ناپذیر د مطلوبیت په نشتوالي کې شامليږي.

دغه برخه لاندې موارد جوتوي:

- پیشکی (۲ ، ۵).
- سفر خرڅ (۳ ، ۵).
- د جنسي مرستو ډولونه (۴ ، ۵).
- مرستندویه یا کمکي ورکړې او د نه موندلو وړ نور انتقالات(۵ ، ۶).
- له هېواد څخه بهر لګښتونه (۷ ، ۵).

پیشکی: پیشکی د لګښتونو جزء نه ګڼل کیږي او همدارنګه د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني

ketabton.com - The Digital Library

وجهي صندوق(ARTF) له خوا د تمویل وړ نه دي. په هر حال د پیشکیو اصطلاح د بېلابېلو ورکړو لپاره په کار اچول کیږي او د هر یوه لپاره یې د منلو وړ خاص معیارونه شتون لري.

د پیشکیو ورکړه په لاندې ډول سره د تطبیق وړ ده:

- ولایتونو ته د پیشکۍ ورکړه (۱ ، ۲ ، ۵).
- وزارتونو ته د پیشکۍ ورکړه (۲ ، ۲ ، ۵).
- خرڅوونکو ته د پیشکۍ ورکړه (۳ ، ۲ ، ۵).

ولایتونو ته د پیشکۍ ورکړه: ټول ولایتونه د پیشکۍ عمده پیسې د معاشاتي او غیر معاشاتي لګښتونو د ورکړې لپاره ترلاسه کوي. په ولایتونو پورې اړوندې پیشکۍ په لګښت یا مصرف کې نه محسوبیږي، نو په دې اساس مطلوب نه ګڼل کیږي.

دغه پیشکۍ د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق(ARTF) د تطبیق وړ معیارونو ته په پام سره باید په موقع تصفیه شي.

**وزارتونو ته د پیشکۍ ورکړې:**

وزارتونه د خاصو پیربېدنو لپاره د پیشکۍ د غوښتنې اجازه لري. دغه پیشکۍ باید په جلا توګه په ۲۱۳۰۰، ۲۲۱۰۵، ۲۲۹۰۰، ۲۲۹۰۱، ۲۵۹۰۰ فصلونو کې ثبت شي. همدارنګه ځینې پیشکۍ وزارتونو ته په لګښتي (مصارفاتي) فصلونو کې ثبتیږي، له دې پرته، چې د پیشکۍ کوډونه په پام کې ونیول شي، د دواړو لپاره د نه مطلوبیت شرایط یو شانته دي.

د مالیې وزارت له ۲۱ متحدالمال سره سم، پیشکۍ باید د څلورو اونیو په موده کې تصفیه شي، له دې پرته مالیې وزارت د لاندې، پیشکیو له ورکړې څخه ډډه کوي. هغه لګښتونه، چې د پیشکیو له محل څخه تصفیه کیږي، د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق(ARTF) د مقرراتو په اساس باید په مرکزي وزارتونو کې د ۳ میاشتو په لړ کې د چک تر صادریدو وروسته تصفیه شي.

پیشکۍ باید په روښانه توګه د تصفیې په مدارکو(سندونو) کې اجراء(وتړل) شي. دغه کار د م۱۲ فورمې له لارې په استفادې (د محسوبې فورمې) او د م۱۰ فورمې (د م ۱۶ له لارې د پیشکۍ د تصفیې سند) له لارې ترسره کیږي. د پیشکییو د تصفیې لپاره ټول محسوبې مدرکونه باید په دغه دستورالعمل کې د یادو لګښتونو د تمویل د مطلوبیت له ټولو ضوابطو سره سمون ولري.

**قراردادیانو ته د پیشکیو ورکړه:**

د دوو بیلو ډولونو پیشکیو ترمنځ تشخیص خرڅوونکو ته ارزښت لري:

ketabton.com - The Digital Library

۱. د قرارداد په اساس د پیشکۍ ورکړه، چې کیدای شي مطلوب وي.
۲. هغه پیشکۍ، چې له قرارداد سره سم نه وي، نامطلوبې وي.

**د قرار داد په اساس د پیشکیو ورکړه:**

هغه پیشکي، چې د قرارداد په اساس ترسره کیږي، پیشکي نه ګڼل کیږي. تر هغه ځایه چې د ورکړې میتود په قرارداد کې په واضح توګه څرګنده شوې ده، دغه ورکړې د لګښت یا مصرف جزء او مطلوب ګڼل کیږي. (په شرط د دې چې د لګښتونو د مطلوبیت ټول شرایط رعایت شوي وي). هغه پیشکۍ، چې له قرارداد سره سمې نه وي.

خرڅوونکو ته پیشکي چې د قرارداد په اساس نه وي ترسره شوی، لګښت نه ګڼل کیږي. دغه پیشکۍ یوازې هغه مهال لګښتونه ګڼل کیږي، چې تصفیه شي او په دې معنا ټول مدرکونه او مستندات ( د حسابونو صورت، د م ۷ فورمه او داسې نور) باید ترتیب شي. دغه پیشکۍ باید د ۴ اوونیو په موده کې د مالیې وزارت د دستورالعمل پر اساس تصفیه شي، له دې پرته، امکان لري د مالیې وزارت د لاندې پیشکیو له ورکړې څخه ډډه وکړي.

له قرارداد څخه بهر پیشکۍ پورې اړوند لګښتونه به د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې وجهي صندوق (ARTF) د مقرراتو په اساس په هغه شرط مطلوب وي، چې محسوبۍ یې د پیشکۍ د چک د صادریدو له نیټې د ۳ میاشتو په اوږدو کې وړاندې شي.

**سفر خرڅونه:**

هغو کارکوونکو ته، چې د وزارتونو له خوا په سفر ځي، سفر خرڅ ورکول کېږي. د هېواد په دننه کې د سفر خرڅ لپاره د ورځې یو څه ثابتې پیسې موجودې وي. له هېواد څخه د بهر سفرونو لپاره سفر خرڅ یوې سیمې یا یوه هېواد ته چې مامور د هغه د ترسره کولو لپاره، لیږل کیږي او د هغه په رتبه او د مسافرۍ د اوږدوالي په مودې پورې تړلی دی. د سفر خرڅ د ترلاسه کولو لپاره د مامور لاسلیک لازم دی او اړوند سفر باید د وزارتونو له خوا مجاز اعلان شي.

او د دې سفر د سرته رسیدو پر اساس مدرک شتون ولري ( بیلګه: د طیارې ټکټ، د موټرو د کرایې بلونه یا د هوټل بل). سربېره پر دې، سفر خرڅ باید د ((سفر خرڅ د لایحې)) په اساس، چې له عدلیې وزارت څخه صادره شوې، محاسبه شي.

**جنسي مرستې:**

جنسي مرستې، هغه جنسونه یا خدمتونه دي، چې وزارتونو ته د یوه مرسته کوونکي له خوا

ketabton.com - The Digital Library

په مستقیمه توګه ورکول کېږي. نو په دې اساس اړوند وزارت د دې اجناسو یا خدمتونو د ورکړې لپاره کوم تعهد نه لري. له هغه ځایه چې وزارت باید د دغو مرستو یا مساعدتونو له اړخه کوم مبلغ نه مصرفوي، نو لګښت یا مصرف نه ګڼل کېږي او همدارنګه د افغانستان د بیارغونې لپاره د امانې وجهي صندوق(ARTF) د مقرراتو په اساس نامطلوبه تشخیص ورکړل شوی دی او نه ښایي چې تمویل شي.

جنسي مرستې د ۱۴ مې ګڼې متحدالمال په اساس چې د مالیې وزارت د خزاینو ریاست له خوا خپاره شوي، باید په(AFMIS) کې ثبت نه شي.

**دولتي تصدۍ:**

د دولتي تصدیو لګښتونه د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) له خوا د لګښتونو د تمویل په مطلوبیت کې نه شاملیږي. د دغو لګښتونو د مستثنی والي دلیل دا دی، چې دولتي تصدۍ باید له مالي پلوه خپلواکې وي او لګښتونه یې د هغوی د عوایدو له نظره تدارک شي. جوته ده، چې د ساب سایدي (مرستې) په ګرځیدو او ورکړه کې، د پانګې تدارک دولتي تصدیو ته د وزارتونو له خوا د تمویل مطلوبیت د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق(ARTF) په وسیله نه لري.

هغه پیربدنې، چې د یو وزارت له خوا له دولتي تصدیو څخه تر سره کیږي، په دې شرط، چې د یادې تصدۍ قرارداد د دولتي تصدۍ د ګټونکي له لارې په یوې دولتي پروسه کې وي. (د واحدې سرچینې د ټاکلو له لارې او په مستقیمه توګه نه وي)، مطلوب ګڼل کیږي.

**مرستندویه ورکړې او د نه موندلو وړ نور انتقالات:**

د نه موندلو وړ نور انتقالات، هغو کسانو ته له ورکړې څخه عبارت دي، چې دولت د دې ورکړو په بدل ترې جنس، ساختماني چارې او خدمتونه ترلاسه کوي. دغه ډول ورکړې د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق(ARTF) له خوا د تمویل لپاره مطلوب نه ګڼل کیږي.

د مرستې ورکړې د دې مواردو له مصادیقو څخه ګڼل کیږي.

له هېواد څخه بهر لګښتونه: له هېواد څخه بهر لګښتونه، د وزارتونو د بهرنیو څانګو ټول لګښتونه (لکه: سفارت خانې او د نمایندګیو دفترونه) پکې شامل دي.

د دغو لګښتونو د مطلوبیت معیار د لګښت په ډول پورې تړاو لري:

- معاشاتي لګښتونه.
- د ځایونو د کرایې لګښتونه.
- غیر معاشاتی نور لګښتونه.

ketabton.com - The Digital Library

له هېواد څخه بهر معاشاتي لګښتونه: په معاشاتو لګښتونو کې، د هغو ډلو کارکوونکو معاشونه شاملیږي، چې د خدمت لپاره په بشپړه توګه له هېواده بهر ګومارل شوي دي (د سفر خرڅ د ورکړې لپاره ۳، ۵ بندونو ته مراجعه وکړئ).

له هېواده بهر د معاشونو د لګښتونو لپاره اړین دي،چې له معاشونو څخه د معاشونو د جمع ګُل له لیست سره سم، له هېواده بهر د دفتر د سرپرست په تایید او تصویب ورسیږي او د معاشونو په لیست کې د پیسو د رسید په توګه د کارکوونکو لاسلیک شتون ولري. سربیره پر دې، د بودیجې د تخصیص او تشکیل شتون، الزامي ده، ترڅو لګښتونه مطلوب وګڼل شي

**له هېواده بهر د ځایونو د کرایې لګښتونه:**

د کرایې د لګښتونو لپاره، د اجارې له قرارداد څخه یوه کاپي باید د وزارت له خوا برابره شي. له قرار داد څخه یوه کاپي، د لګښتونو د ترسره کېدو د اثبات لپاره په مطلوبه بڼه د منلو وړ مدرک وي. که د قرارداد د مودې تر پای ته رسیدو وړاندې د کرایې قرارداد باطل یا لغو شي، د ورکړل شوې کرایې پیسې باید مالک ته د قرار داد د باطلیدو له بابت څخه بیرته ورکړل شي او د کابل ښار په بانک کې هغه خاص حساب ته ولېږدول شي، چې د مالیې وزارت له خوا ورته تخصیص ورکړل شوی دی.

**له هېواده بهر نور غیر معاشاتي لګښتونه:**

د افغانستان د تدارکاتو قانون (PPL) څرګندوي، چې له هېواده بهر د افغانستان دولتي ادارې باید خپلې پیرېدنې د کوربه هېواد د قوانینو او میتودونو او د دغه قانون له ۹۱ مې مادې سره سم ترسره کړي، مګر دا چې په دې برخه کې نور توافقات شتون ولري.

د بیلابیلو هېوادونو د تدارکاتو له قوانینو څخه د بشپړې خبرتیا د نه درلودلو په دلیل، نه شو کولی ارزونه وکړو، چې آیا ترسره شوي لګښتونه د صحیحو میتودونو په اساس او د هغوی په رعایتولو سره ترسره شوي دي. له هېواده بهر ټول عملیاتي او تدارکاتي لګښتونه د افغانستان د بیارغونې لپاره د اماني وجهي صندوق (ARTF) له محل څخه د بیامونډنې وړ نه دي.

ketabton.com - The Digital Library

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډیز**

- **دولتي تادیاتي سیستم:** په دغه مبحث کې د لګښتونو او معاشونو او پیشکیو ورکړې شاملې دي.

**د لګښتونو د ورکړې اجرا:**

جنسونه د ټاکلو حدودو په پام کې نیولو سره د دوایرو د اړتیاوو په موخه له لایحې سره سم پیرېدل کیږي او تر احکام وروسته، د جنس مشخصات د م – ۳ په فورمه (د خریدارۍ امر) کې ترتیبېږي؛ د پیشکۍ په صورت کې، د م – ۱۰ فورمه (د پیشکۍ غوښتنه) ترتیب تر مطالعې وروسته په نښه کیږي او لازم معلومات د دفتر دارۍ د څانګې له لارې ورکول کیږي او ورپسې د حواله جاتو، کنترول او محاسبې څانګو له دفترونو خپل پړاوونه تېروي او بالاخره پیسې یې د م ۱۶ فورمې له لارې، له مالیې وزارت څخه غوښتل کیږي.

د یوه جنس د پیریدلو لپاره تر شلو زره افغانیو پورې یو کس او تر سلو زرو پورې دوه کسان او له سلو زرو تر پنځه سوه زرو ترمنځ درې تنه پلاوی ټاکل کېږي. که تر پنځه سوه زرو څخه زیات وي، قرارداد کیږي. د جنس د اړتیا د ډول او اندازې په پام کې نیولو سره، لومړي درجه امر ورکوونکي مقام ته وړاندیز او احکام اخیستل کیږي، وروسته د نرخ اخیستنې پلاوی نرخونه لومړی له دریو ځایونو څخه ترلاسه کوي او په لومړي پړاو کې دغه نرخ په ترجیحي توګه له دولتي تصدیو او شرکتونو څخه اخیستل کېږي.

په پرتلیزه فورمه کې د پلاوي شهرت او مرجع ذکر کیږي او د آمر کتنې ته وړاندې کېږي. وروسته د م- ۳ فورمه (دپیریدلو امر) ترتیبېږي او پکې د اړتیا وړ اقلامو مشخصات درجېږي او وروسته د م- ۱۰ فورمه (د پیشکۍ غوښتنه) جوړېږي، چې د کنترول او د حواله جاتو د څانګو په وسیله ترتیبېږي. وروسته د م- ۱۲ فورمه او ورپسې د م- ۱۶ فورمه ترتیب او د تادیاتو شعبې ته لیږل کیږي. په دې وروستیو کې م- ۱۲ او م- ۱۶ فورمې سره مدغمې شوې او یوازې م- ۱۶ نوې فورمه د اجرأ وړ ده. د دفتر دارۍ شعبه د تخصیصاتو د ترتیبولو په موخه، تخصیصات د باب او فصل پربنسټ په نښه (علامه ګذاري) کوي. درې لاندې فورمې معمولاً د جنسونو په پېرېدنه کې په لاندې ډول سره ترتیبېږي:

- د م- ۷ فورمه، د راپور د رسیداتو فورمه، چې د پیریدلو پرمهال ترې کار اخیستل کیږي او د خریداري شوي جنس د ترلاسه کولو پرمهال جوړیږي.
- د م- ۱۰ فورمه د لګښتونو د اجرا کولو پیشکي ښیي.
- د م- ۱۶ فورمه، چې د تادیاتو جدول او امر دی، د خریدارۍ له م- ۳ فورمو سره یوځای ترتیب او د خزاینو په ریاست کې د ورکړې (تادیې) امر یې ورکول کیږي؛ د خزاینو ریاست ټاکلی چک ترتیب او معتمد (نغدي خزانه دار) ته یې له بانک څخه د پیسو د ترلاسه کولو په موخه سپاری.

**د معاشونو د ورکړې (تادیاتو) اجرأ:**

- د کارکوونکي د مقررۍ پ۲ فورمه، چې د استخدام څانګې له لارې اجرأ کېږي، د م- ۴۰ په دفتر (د معاش د استحقاق دفتر) کې درجېږي. د دغه دفتر له مخې، د م- ۴۱ فورمه په

ketabton.com - The Digital Library

لاندې توګه جوړیږي.

- د اداري ریاست د مامورینو څانګه، د مامورینو د کار د حاضرۍ راپور، د حاضرۍ د کتاب له مخې ترتیبوي.
- د محاسبې څانګه د کار د راپور له مخې، د مامورینو معاش ترتیبوي، چې هغې ته م-۴۱ فورمه وایي، د دغه راپور په یوه ستون کې د معاش استحقاق او په بل ستون کې یې کسرات درج او د ورکړې وړ پیسې واضح کیږي.
- د محاسبې څانګه د م- ۴۱ فورمه د حواله جاتو څانګې ته او له هغه ځای څخه د کنترولولو لپاره لیږي او ورپسې د م- ۱۶ فورمه ترتیبیږي.

۱- معتمد د م- ۱۶ فورمه د مالیې وزارت د خزاینو ریاست ته، د چک اخیستلو په موخه وړي او د چک تر ترلاسه کولو وروسته یادې پیسې له بانک څخه ترلاسه کوي، چې بیایې پر مستحقینو ویشي.

**د لګښتونو، تخصیصاتو او تادیاتو د دفترونو لنډیز:**

- د م- ۳۸ دفتر (د تخصیصاتو له حوالې څخه کنترول) په لومړیو واحدونو (وزارتونو) کې سمبالیږي.
- د م- ۳۸ دفتر (د تخصیصاتو له حوالې څخه کنترول) مستوفیتونو ته (د ولایت مالي آمریت) تسلیم، بشپړ او ساتل کیږي او راپور یې د م- ۲۲ فورمې (د لګښتونو میاشتني راپور) له لارې د مالیې وزارت د محاسباتو ریاست ته لیږل کیږي، چې ترې م- ۴۱ قطعي راپور جوړیږي.

د م- ۲۰ دفتر (د تخصیصاتو د حوالې او لګښت دفتر) په لومړیو واحدونو کې سمبالیږي، چې پکې د تادیاتو ټولې حوالې مخکې له مخکې څخه په م- ۳ (د خریدارۍ د تعهداتو ستون) او م- ۱۶ کې درجیږي او راپور یې د تادیاتو د میاشتني راپور د م- ۲۳ له لارې د مالیې وزارت خزاینو ریاست ته لیږل کیږي.

د پیشکیو اجراأت: د م- ۱۵ فورمه (د پیشکۍ فورمه) ده، چې پکې د پیشکي لګښتونه درجیږي او د کال په پای کې د م- ۹۰(مصارفاتي باقیاتو) په دفتر کې ثبتیږي.
پیشکي په لاندې ځایونو کې استعمالیدای شي.

- د معاشونو پیشکي.
- د لګښتونو پیشکي.

**الف:** سفریه ( د سفرخرڅ).
**ب:** د قراردادي لپاره د پیشکۍ پیسې.

پیشکي پیسې باید د خدمت او د موادو د پیرېدنې تر اجرا کېدو وروسته محاسبه شي، چې په هغه صورت کې د پیشکۍ د لګښتونو له حالت څخه، که چیرې د پیشکیو په پیسو کې یو څه پیسې پاتې وي، اعاده کیږي او د عوایدو د تعرفې په م- ۲۷ فورمه کې د دولت د وارداتو په

ketabton.com - The Digital Library

حساب کې داخلیږي.

**د دولت عواید:** د دولت عواید له داخلي او بهرنیو منابعو څخه جوړ شوي، چې په کلنۍ بودیجه کې سنجول کیږي او د دولت د مالي کارکوونکو له خوا راټول او د دولت د وارداتو یو بیل انفرادي حساب ته لیږدول کیږي.

الف: له داخلي سرچینو څخه عواید: داخلي سرچینې له مستقیمو مالیاتو، غیر مستقیمو مالیاتو، د دولتي شیانو او خدمتونو څخه له ګټې اخیستنې، د دولت د مالونو او خدمتونو له پلورلو، له دولتي تصدیو، د جرمونو له فیس او د تیرو کلونو له مالیاتي باقیاتو څخه مرکب دي. غیرمستقیم مالیات زیاتره ګمرکي محصولات جوړوي، چې اوس تر ۷۰ فیصدو زیات د دولت داخلي منابع په بر کې نیسي. د مالیاتو ترلاسه کول، د بودیجې د تمویل او د بېلابېلو طبقاتو د عوایدو د سویې د توپیرونو تنقیص په منظور دي. مالیات باید په عادلانه او مناسبه توګه ورکړل شي، چې د عوایدو په بېلابېلو طبقاتو باندې اېښودل کیږي.

ب: د بهرنیو منابعو عواید: بهرنۍ منابع د مرسته کوونکو هېوادونو، نړیوالو موسسو او نورو بهرنیو منابعو له بهرنیو مرستو څخه مرکب دي، چې د پرمختیایي بودیجې د تمویل په غرض او یوه برخه یې د عادي بودیجې په ترتیب کې کارول کېږي. دغه مرستې د پرمختیایي بودیجې د تمویل او یا د استهلاک وړ مرستو په موخه ترسره کیږي .

## د پنځم څپرکي پوښتنې:

۱- پوښتنه:- جنسي محاسبه څه شی ده؟

۱- ځواب- جنسي محاسبه په دولتي محاسبه کې د حسابۍ ډېر اساس سیستم دی، چې د یوې اداري ټول اجراییوي فعالیتونه ښیي او د ټولو جنسونو او موادو ثبت او لیکل چې په بیلابیلو لارو د یوه اداري تشکیل په دننه کې شامل دي.

۲- پوښتنه:- د ف س (۱) فورمه څه ډول فورمه ده؟

۲- ځواب:- د ف س (۱) فورمه د ورکولو وړاندیز دی.

۳- پوښتنه:- د ف س (۲) فورمه څه ډول فورمه ده؟

۳- ځواب :- د ف س (۲)فورمه د داغمه مالونو او جنسونو د لیلام فورمه ده.

۴- پوښتنه:- د ف س (۳) فورمه څه ډول فورمه ده؟

۴- ځواب:- د ف س (۳) فورمه د موټرو یا عرادجاتو د لیلام فورمه ده.

۵- پوښتنه:- د ف س (۴)څه ډول فورمه ده؟

۵-ځواب:- د ف س (۴) فورمه په تحویلخانه کې د موجودو مالونو د موجودۍ لیست دی.

۶- پوښتنه:- د تحویلخانې موجودي په څه ډول ترسره کیږي؟

ketabton.com - The Digital Library

۶-ځواب:- موجودي په دوو حالتونو کې پیلیږي یو دا چې په تحویلخانو، ګودام او داسې نورو کې د موجودو مالونو او جنسونو لیست د موجودۍ پلاوي ته ورکول کیږي، چې د هغې له مخې موجودي پیلیږي او تحویلخانه د پلاوي تر مهر او لاک لاندې راځي. په دی صورت کې د مالونو او جنسونو یو، یو دې له لیست سره تطبیق شي، د معتمد فاضل او باقي رامنځ ته شي، چې په دې صورت کې د معتمد قناعت شرط دی.

دویم دا چې د موجودۍ پلاوی تحویلخانه مهرولاکوي، د تحویلخانې، هنګر او نورو په داخل کې مالونه او اجناس یو یو د موجودۍ تر عمل لاندې راځي، د پلاوي د لاسلیک او اداري پړاوونو تر بشپړېدو وروسته لیست د زیرمې د ثبت کارت شعبې ته د تطبیق او د فاضل او باقي د منځ ته راتلو لپاره تسلیمي ورکول کیږي. که چیرې معتمد باقي شي، نو د باقیاتو د تحصیل له قانون سره سم، باید خپل باقیات تحصیل کړي. که چیرې جنس فاضل شي، له قانون سره سم باید د معتمد په جمع کې قید شي.

۷- پوښتنه:- د ف س (۵) فورمه څه ډول فورمه ده؟

۷- ځواب:- له تحویلخانې څخه د جنس د ویشلو ټکټ دی.

۸- پوښتنه:- د ف س (۵) فورمه څرنګه اجراء کیږي؟

۸- ځواب:- د ف س (۵) فورمه د جنس د ویشنې ټکټ له تحویلخانې څخه د ف س ۹ فورمې په اساس د جنس غوښتنه له تحویلخانې څخه د جنسي محاسبې د مدیریت له خوا په یوه اصلي نسخه او دریو کاپیو کې جوړیږي.

د فورمې اصل د ف س (۹) فورمې له یوې کاپي سره له ویزې او کنترول او د صلاحیت لرونکي آمر تر لاسلیکېدو وروسته د غوښتونکي له خوا، د جنس اخیستلو لپاره تحویلخانې ته سپارل کیږي، چې دغه سندونه د جنس د غوښتونکي په خپل دفتر پورې اړوندیږي.

د ف س ۹ فورمې له یوې کاپي سره، یوه کاپي یې د تحویلخانې مدیریت ته لیږل کیږي او تحویلخانه هغه په پرله پسې نمبر د هغه په کارت کې د تحویلخانې له دوسیې سره قیدوي، دریېمه کاپي د غوښتنې فورمې له یوې کاپي سره د زیرمې څانګې ته لیږل کیږي.

۹- پوښتنه:- د زیرمې د ثبت کارت څه ډول کارت دی؟

۹-ځواب:- په دې فورمه کې ټول پیرېدل شوي ، امدادي او داسې نور مالونه او اجناس د م۳ فورمو په اساس که پیرېدل شوي وي او که امدادي او داسې نور وي، د م۷ فورمې په اساس د معتمد په جمع کې قیدیږي، چې د دخول او خروج د سریال نمبر ستون لرونکي دي.

ketabton.com - The Digital Library

## سرچیني او اخېستنې:


۱- د افغانستان په دولتي انحصار کې د محاسبې د کورس لارښود ، د افغانستان دولتي انحصارات، مستر ونسل د حساب متخصص د ګتبي سیت المان له کمپنۍ ۱۹۷۷.

۲- د مالیې وزارت د محاسباتو ریاست ښوونیز پروګرام، د افغانستان مالیې وزارت، ترتیب کوونکی د محاسباتو ریاست او د دولتي محاسبې د کورسونو صلاحیت لرونکي غړي، استادان او مدرسین.

۳- د محاسبې لکچرنوټونه، د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو کمیسیون، ترتیب کوونکي د ښوونیزو کارپوهانو دفتر.

۴- په دولتي محاسبه کې مهم قواعد، د انترنت په واسطه (د محاسبې او اقتصاد) له سنجش ځخه ترتیب شوی، د مالیې وزارت د کارکوونکو د رییس په وسیله.

ketabton.com - The Digital Library

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مســلکي زده کړو معینیت دښــوونیز نصاب د انکشــاف ریاست د ټولنې دعیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سرکې یې تصمیم ونیو، چې په ښوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیاکتنه وکړي او ورپسې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د اداري او حســابدارۍ څانګې د ښــوونکو په میړانې او همت سره د اداري او حســابدارۍ درسي کتابونه تالیف شــول تر څو په وړیا ډول د شــاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علــم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د اداري او حســابدارۍ د مکاتبو له ښــوونکو، ګرانو شــاګردانو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کېږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د اداري او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شــوي دي. د مسلکي، تخنیکي او علمي مطالبو او مفاهیمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املایي او انشــایي اشــتباهاتو په اړهمونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شــو، په همدې او نورو برخوکې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظرکې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

پته: دپوهنې وزارت – دتخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د تعلیمي نصاب د انکشاف ریاست – دکتابونو د تالیف او د درسي ممدو موادو د برابرولو عمومي مدیریت.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*